

# د ژباړې فن

رفیع الله ستانکزی

۱۳۸۶ ل

# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم:  د ژباړې فن
ليکوال      : رفيع الله (ستانکزی)
د پښتې ډيزاين: عبدالله وردک
کمپوز او ډيزاين: سيدنظيم(سيدي)
خپرندوی: صميم ادبي ټولنه
www.tolafghan.com/samim
لړ  :  څوارلس
د ليکوال برېښناليک:   rafiullah.stanikzai@gmail.com
د ګرځنده ټيليفون شمېرې :  0700308908
چاپ شمېر : زر ټوکه
چاپ:کال 1386 لېږديز_لمريز
وېبلوګ: http://logar.bloguna.tolafghan.com

Download from: aghalibrary.com

# ډالۍ

خپل ګران پلار او ګرانې مور ته، چې په ډېر ماشومتوب کې يې د ښوونځي سره اشنا کړم، مینه يې راکړه او په خوږه ژبه (پښتو) يې د مینې درس راکړ، ترڅو ټولو هېوادوالو ته په مینه د مینې پیغام ولېږدوم.

ستانکزی

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: aghalibrary.com

## دصميم ادبي ټولنې يادښت

علامه رشاد بابا به ويل که غواړئ، چې ژبه موپیاوړې او بډایه شي ،ژباړه وکړئ ،ژباړه دملتونو ترمنځ ديوبل د فرهنګ دپېژندلو ستره او اغېزناکه وسيله ده اوهمدا ژباړه ده، چې په هراړخيزه توګه ملتونه يوبل ته ورپېژني.

همداشان ژباړه د علم او پوهې دلېږد –رالېږد غوره وسيله ګڼل کېدای شي داچې ژباړه کوم اصول لري، غوره ژباړه کومه ده ، څوډولونه لري ، ارزښت يې څومره دی، څومره اغېزه شيندلای شي، ژباړن بايد څوک وي، کوم خصوصيات ولري، څنګه او څه ډول ژباړه وکړي، پرهغه ژبه چې ژباړه ترې کوي څومره لاسبری ولري؟. داټولې هغه پوښتنې دي، چې په دې کتاب کې ورته کره او سم ځوابونه کښل شوي دي، ياني داکتاب د ژباړن او ژباړې په برخه کې ديو پوره لارښود حيثيت لري .

صميم ادبي ټولنه ددې اثر، چې د(ژباړې فن ) نومېږي د دوهم ځل خپراوي اوچاپ وياړلري او په پای کې ددې اثر ليکوال ښاغلي رفيع الله استانکزي ته مبارکي وايي او ده ته دلابرياوو هيله کوي.

په درنښت

صميم ادبي ټولنه

کابل افغانستان ۱۳۹۰\۰۲\۳۰ لمريز

Download from: aghalibrary.com

# نیولیک

لړلیک مخ


سریزه........................................................الف

یوه نیمګړې هڅه ........................................................الف

ژباړه ........................................................1

د ژباړې شالید ........................................................2

ژباړه او عباسیان ........................................................۴

افغانستان او د ژباړې شالید ........................................................6

پښتو ادب او ژباړه........................................................8

د ژباړې ارزښت........................................................14

ژباړه د پوهانو له انده ........................................................17

د ژباړې ډولونه ........................................................19

ماشیني ژباړه ........................................................20

انساني ژباړه ........................................................26

ټکي پر ټکي ژباړه ........................................................27

مانایي ژباړه (Idiomatic Translation):........................................................29

آزاده ژباړه (Free Translation) : ........................................................30

لنډه ژباړه:........................................................31

د وینا ژباړه:........................................................32

د ګړنۍ ژباړې ځینې شرطونه: ........................................................33

د مرکې ژباړه:........................................................34

د ژورنالیستي توکو ژباړه:........................................................34

د ژورنالیستیکي ژباړې ځانګړتیاوې:........................................................36

د ژبې له پلوه د ژباړې نور ډولونه ........................................................38

له بهرنۍژبې څخه کورنۍژبې ته ژباړه ........................................................38


Download from: aghalibrary.com

له کورنۍ ژبې څخه بهرنۍ ژبې ته ژباړه:........................................................41
له بهرنۍ ژبې څخه بهرنۍ ژبې ته
ژباړه:........................................................................44
له کورنۍ ژبې څخه کورنۍ ژبې ته ژباړه: ......................................................44
د غربي (لویدیځوالو) اندیالانو له انده د ژباړې ډولونه:.........................................45
په ژباړه کې د متنونو ډولونه: ...............................................................48
د علمي متنونو ژباړه:..........................................................................50
د دیني متنونو ژباړه:..........................................................................50
د مطبوعاتي متنونو ژباړه: ..................................................................51
د داستاني او نندارېزو اثرونو ژباړه:.........................................................51
شعري ژباړه .................................................................................52
په شعري ژباړه کې محدودیتونه: ..........................................................58
د شعر ژباړه په نثر: .........................................................................59
د ژباړې د اصولو او قاعدو شالید..........................................................59
د ژباړې جوړښت ............................................................................61
د ژباړې بنسټونه The basic of Translation............................................62
د ژباړې پړاوونه Steps of Translation.....................................................65
لومړی پړاو.....................................................................................65
دویم پړاو.......................................................................................66
د ژباړې لپاره
چمتوالی........................................................................................68
څوک باید ژباړه وکړي؟ ....................................................................70
د ژباړن د پام وړ:...............................................................................72
د ښې ژباړې لپاره ځینې لارښوونې ............................................................79
دوبله او ژباړه( Dubbing & Translation) ..............................................88
پښتو اوسنۍ دوبله: ............................................................................91

Download from: aghalibrary.com

د ژباړې اړتیا.......................................................................93
په پوهنیز (علمي) ډګر کې د ژباړې اړتیا:.............................................94
په ټولنیز ډګر کې د ژباړې اړتیا: ..................................................96
په فرهنګي ډګر کې د ژباړې اړتیا: ...............................................97
په ادبي ډګر کې د ژباړې اړتیا: ...................................................98
په اسلامي ډګر کې د ژباړې اړتیا: ................................................99
په هنري ډګر کې د ژباړې اړتیا: ..................................................99
اخځلیکونــــــه.......................................................................
100

Download from: aghalibrary.com

# سريزه

که تاريخ ته وکتل شي نو مهاجرتونو ،لويو سوبو او ورسره ژباړو د مدنيتونو په وده کې ډېر لوی لاس لرلی او دليل يې هم له دې لارو د مدنيتونو تر منځ د تجربو ، افکارو او پوهنو راکړه ورکړه ده . د نړۍ ډېر لوی مدنيتونه د مهاجرتونو يا لويو سوبو په پايله کې رامنځته شوي . له جبل الطارق څخه تر اندونيزيا پور ې د مسلمانانو دسوبو په پايله کې د عباسيانو د لوی اسلامي مدنيت زيږېدل او يا د امريکې د لويې وچې موندل او تر پراخو مهاجرتونو وروسته هلته د يوپرمختللي مدنيت پنځېدل د غوره بېلګو په توګه وړاندې کولای شو . د مهاجرتونواو سوبو تر څنګ ژباړې هم د مدنيتونو ، پوهنو او ژبو په وده کې ډېره ونډه درلودلې ده او په واقعيت کې همدې مهاجرتونو او سوبو د ژباړو لپاره لار اواره کړې ده .

ژباړه ډېر زوړ تاريخ لري او تر څلور زرو کلوپورې يې څرک موندلای شو . په پيل کې به زياتره ديني متنونه او اداري احکام ژباړل کېدل ، خو وروسته ژباړونکو فلسفې ، طب ، نجوم ، رياضي او نوروپوهنو ته هم مخه کړه . زردشتيانو عقيده درلوده ، چې ټولو پوهنو له اهورامزدا يا د پوهې له خدای څخه منشأ اخېستې ، د دوی په اند کله چې يوناني سکندر آريانادړې وړې کړه نو دغه پوهنې په ټوله نړۍ کې خورې شوې . وروستيو زردشتي امپراتورانو خپل ديني مسووليت ګڼاه ، چې له لاسه وتلې پوهنې بېرته راټولې

کړي او خپلې ژبې ته یې وژباړي . د ساساني مدنیت په وده کې همدغو ژباړو ځانګړی ځای درلود .
د عباسیانو د واکمنۍ په پېر کې هم ډېر یوناني ، رومي ، هندي او چیني آثار عربي ژبې ته وژباړل شول او د اسلامي مدنیت په وده کې ډېره ګټه ترې واخیستل شوه . یوه مشهوره بېلګه دا ده ، چې کله د عربانو پښه هندوستان ته ورسېده ، نو هلته یې ( صفر) بیاموند اود صفر په ورزیاتولو سره په شمېر پوهنه کې لوی پرمختګ رامنځته شو . وروسته اروپایانو له صفر سره یوځای د شمېرنې بشپړ سېستم له عربو څخه اروپا ته یووړ .
د صلیبي جګړو پر مهال ، چې کابو دوه سوه کاله یې دوام وموند اروپایان له پخوانیو یوناني آثارو سره د عربي ژبې له لارې بلد شول ، هغوی همدا آثار او ورسره ډېر نوي عربي آثار لاتین او بیااروپایي ژبو ته وژباړل ، چې د منځنیو پېړیو له خوب څخه د اروپا په ویښولو کې همدغه ژباړې یو مهم لامل ګڼلی شو .
ژباړې د نړۍ د پرمختللیو ژبو لکه انګریزي ، فرانسوي او جرمني په پرمختګ کې ډېره ونډه لرلې ده ، او همدادلیل دی ، چې نن په دغو ژبو کې د لاتین ډېر ویي لیدل کیږي .
که له اروپا څخه خپل ګاونډ ایران ته راشو ، د شلمې پېړۍ له پیل سره که په فارسي کې د ژباړې غورځنګ نه وای پیل شوی ، نو یوازې له کلاسیکو آثارو او دسعدي او فردوسي له شهکارونو سره دوی نه شول کولای د اوسمهالو پوهنو د افادې وړتیا پیدا کړي . نن ورځ ګورو ، چې د کال نوی اثر په فارسي کې ژباړل شوی وي او کله کله خو له اصلي تالیف سره ژباړه هم په یو وخت کې راوځي .

عربان هم هڅه کوي ببرته د ژباړې غورځنګ راژوندی کړي . په مصر کې د ژباړې یوه ټولنه ، چې تر اوسه یې کابود زرو په شمېر آثار ژباړلي او چاپ کړي ، په پام کې لري تر 2011 پورې درې زره نوي آثار وژباړي . مانا دا چې ، که څه هم عربي په خپله یوه نړیواله ژبه ده ، بیا هم ژباړې ته د جدي اړتیا په سترګه ګوري .

پښتو ژبه د درېیمې نړۍ د ډېرو نورو ژبو په څېر یوه وروسته پاتې ژبه ده او له بده مرغه باید ووایو ، چې په ډېرو برخو کې لا اوس هم بکره پرته ده . ساینس او ټکنالوجي ، خو پرېږده حتی په ادبیاتو کې هم ډېر څه نه لري . همدااوس د نړۍ ډېر مشهور ادبي شهکارونه لکه د تولستوی ، وېکتور هوګو او شکسپیر آثار ، چې د نړۍ په اکثریت ژبو ژباړل شوي ، له بده مرغه په پښتو کې نه موندل کیږي . دادبي تیورۍ ، کره کتنې او د ادبیاتو د یو شمېر نورو ژانرونو په برخه کې تر سره شوي کارونه په نشت حساب دي . خو تر ټولو زیات د ساینسي پوهنو برخه ډېره د اندېښنې وړ ده . همدااوس ، چې د انفارماتیک او جنېټیک انقلاب پېر دی ، پوهنې په ډېرې چټکۍ وده کوي او هره ورځ په لسګونو نوي اصطلاحات او حتی نوې پوهنیزې څانګې زیږي . له بده مرغه افغانستان د ساینس ، ټکنالوجۍ او یو زیات شمېر نورو پوهنو په برخه کې هغه سویې ته نه دی رسېدلی ، چې له اړتیا سره سم په تول پوره او کره تالیفات تر سره کړي . نورو ولسونو تر موږ دمخه ډېر کار کړی او موږ اړ نه یو او نه شو کولای دغه ټول پړاوونه له سره ووهو ، بلکې لومړی باید د نورو تجربې خپلې کړو او بیا خپل څه پرې ورزیات کړو .

اوس د دې وخت راغلی ، چې د افغانستان د ټولیز پرمختګ ، د معاصرو پوهنو د دودولو او پښتو ژبې د ودې په موخه د ژباړې یو منظم غورځنګ پیل

شي . وروستی غمیزې که موږ ته په مادي او معنوي برخو کې ډېر زیانونه اړولي ، ورسره یې د مهاجرتونو له لارې ډېرافغانان له نورو مدنیتونو او بهرنیو ژبو سره هم آشنا کړې دي . افغانان اوس له بهرنی نړۍ سره پراخې اړیکې لري ، د هغوی له تجربو او لاسته راوړنو څخه په ښه شان خبربدای شي اوکولای شي همدا تجربې له خپلو هېوادوالو سره په پښتو ژبه شریک کړي . که تر پرونه پورې ژباړه د مدنیتونو تر منځ د پوهاوي او د تجربو د لېږد رالیږد وسیله وه ، نو اوسمهال ، چې د نړیوالتوب د پېر په نامه یادیږي ، ژباړې ته د نړیوال کلي د کیلي په سترګه کتل کیږي .

زما په اند که موږ ژباړې ته مخه نه کړو او پښتو ژبه په همدې اوسنیو ګامونو خپل یون ته پرېږدو ، زه وېرېږم چې یوه ورځ به اړیو پښتو ژبه یوازې د شعر او شاعرۍ لپاره وکاروو او د ساینس ، ټکنالوجۍ او نورو پوهنو لپاره انګریزي او یانوروبهرنیو ژبو ته مخه کړو .

د ( دژباړې فن ) همدغه اثر ، چې ښاغلي رفیع الله ستانکزي لیکلی ، په دغه وخت کې د هغه خپربدل په خپله دا خبره په ګوته کوي ، چې موږ باید له یوې دقیقې ستراتیژۍ او د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره د ژباړې یو پراخ غورځنګ پیل کړو .

ښاغلی ستانکزی په دقیقه توګه د ژباړې اهمیت ته متوجه شوی او له همدې امله یې هڅه کړې لوستونکي د ژباړې ارزښت ته متوجه کړي ، هغوی ژباړو ته وهڅوي او د ژباړې سمې لارې چارې ورپه ګوته کړي .

( دژباړې فن ) په اثر کې په موجزه توګه ، خو په ډېر ښه شان د ژباړې پر تاریخي شالید ، ارزښت او اړتیا خبرې شوي . د دغه اثر لوستل د دې تر څنګ ، چې مورد ژباړې له تعریف او ډولونو سره آشنا کوي د ښې ژباړې

اصول او معيارونه را په ګوته کوي ، پر لومړيتوبونو ټينګار کوي او هڅوي مو ، چې د ژباړې لپاره په انتخاب کې له ډېر دقت څخه کار واخلو . زما په اند د هغه چا لپاره چې غواړي د ژباړې له لارې خپلې ژبې ته خدمت وکړي ، د ( دژباړې فن اثر ) لوستل ډېر ګټور او ضرور دي .
زه قدرمن رفيع الله ستانکزي ته د دغه مهم او ګټور اثر د ليکلو له امله د زړه له کومې مبارکي وايم او هيله لرم ، چې په دغه مهمه برخه کې خپلې ليکنې او څېړنې نور هم پسې وغځوي .

په درنښت ، خوشال روهي

# يوه نيمګړې هڅه

لکه څنګه چې نن سبا د دريمې نړۍ وګړي د خپلې ژبې د بډايه کولو لپاره د نورو پرمختللو هغو څخه ګټه اخلي او دا ګټه اخيستنه يوازې او يوازې د ژباړې له لارې امکان لري، زموږ اوسنی کول هم په دې ګټه پوهېدلي او په دې برخه کې يې ډېر ګامونه هم پورته کړي دي، دغه ګامونه هغه مهال کلک او ټينګ کېداي شي، چې د علمي او فني لارښوونو پربنسټ پرمخ لاړ شي، همدې اړتيا ته په پام سره مې په ذهن کې هر وخت دا موضوع راګرځېدله، چې زموږ ليکوالان او پوهان هم په دې برخه کې د ځوانانو د لارښوونې او لا ښې ځلېدا لپاره يوه علمي او فني لارښوونې وکړي، ډېر مهال مې صبر وکړ، خو کوم عملي ګام پورته نه شو، هغه د چا خبره نور مې د صبر کاسه ډکه شوله او په خپله مې په دې کار لاس پورې کړ، چې د ډيرو دوستانو له لارښوونو، مشورو او هر اړخيزه مرستو په پايله کې د دې کتابګي په ليکلو بريالي شوم، نه پوهېږم چې د ژباړونکو او لوستونکو ته به څومره ګټور وي، خو دومره پوهېږم، چې ښايي د ډېرو نورو ليکوالانواو پوهانو پام مې دې موضوع را اړولی وي، تر څو هغوی په دې برخه کې نور پاتې کارونه بشپړ کړي، تر څو د ژباړونکو د لاښه کار کولو لامل شي.

په دې کتابګي کې مې د ژباړې تر تعريف وروسته دهغې ډولونه (ماشيني او انساني)، د ژباړې جوړښت، د ژباړې لپاره لارښوونې، دوبله، د ژباړې اړتيا او نورې برخې ځای کړي دي او تر خپله وسه مې زيار ايستلي تر څو د لا

ډېرو سرچینو څخه په ګټه اخیستنې د دې موضوع په ښه وړاندې کولو بریالی شم.

په پای کې د ټولو ملګرو په څېر د روح الله صاحبزاده څخه چې د انګلیسي سرچینو څخه یې په ګټه اخیستلو کې راسره پوره مرسته کړې، نړۍ مننه کوم. د (پوره یو خدای دی) خبرې په مصداق مې د دغه کتابګي د چاپولو هوډ له ځانه سره کړ او د حیران صاحب دې هم دواړه نړیه روښانه وي، چې په ډېره مینه یې لیکلو او چاپولو ته هڅولی یم، لکه څنګه چې (د ژباړې فن) د چاپي اثر په توګه زما لومړني اثر دي، د نیمګړتیاوو په ښښلو سره سره مې په خپلو نیکو او پوهنیزو لارښوونو ولمانځئ، خپلې خبرې په دې خبره پای ته رسوم، چې موږ باید د خپلې ژبې د پرمختګ لپاره د نورو ژبې زده کړو، تر څو وکولای شو، خپلې ژبې ته یو څه ترې راوژباړو او خپله ژبه په هر اړخیزه توګه بډایه کړو.

د پښتني ټبر د ښېرازتیا په هیله

ستاسې

رفیع الله (ستانکزی)

نوی ښار - کابل

# ژباړه

ژباړه د علم د عامېدلو او د فکر د خورېدلو يوه داسې وسېله ده، چې علم او پوهه نړيواله کوي، فکر او فن د انسانانو ترمنځ شريکوي. ژباړه قفل شويو ذهنونو ته د لا غزېدا او پراخېدا لار اواروي او انسان د نويو فکرونو، علمونو، پوهې او .... څخه خبروي. د علامه رشاد په وينا ژباړه د مدنيتونو تر منځ د ليږد- راليږد يوه اغېزناکه وسيله ده، چې ملتونه او وګړي په فکري او ذهني لحاظ سره تړي او تر ډېره يې د خپلمنځي احساساتو څخه خبروي او له همدې لارې ځانته د پرمختګ دريڅې پرانيزي، چې په پايله کې خپل کولتور، ژبه او نور بډايوي، نو په لنډ ويلای شو، چې ژباړه د هر فرهنګ او ادب يا په ټوليز ډول د هرې ژبې لپاره يوه داسې زينه ده، چې د راتلونکې لپاره د پرمخيون او پرمختيا ضمانت کوي.

ژباړه د يوې بنسټيزې علمي اړتيا په توګه د کتابونو او جريدو د چاپ له مهاله تر اوسه را روانه ده، يوناني پوهانو د خپل تمدن پر مهال زيات کتابونه وليکل، د اسلام تر راتګ وروسته عربانو له خپلې پوهنيزې پانګې سره – سره د يونان له علمي زېرمو څخه هم ګټه واخيسته او ډېر يوناني کتابونه يې عربي ته وژباړل.

هغه مهال چې بغداد، دمشق، قاهرې او قسنطينې د علم او ادب لوړې پوړۍ وهلې؛ ټوله اروپا د ناپوهۍ په تيارو کې ډوبه وه؛ خو کله يې چې د علم او پوهې خوا ته مخه کړه، له عربي اثارو يې زياته ګټنه وکړه.
تر صنعتي انقلاب را وروسته په انګليسي، الماني او فرانسوي ژبو زيات علمي اثار وليکل شول، چې نورو خلکو او ملتونو ترې د ژباړې له لارې ښه ګټنه (استفاده) وکړه.په پای کې ويلای شو چې په زړه پورې ژباړه هغه ده، چې لوستونکی پرې د اصلي يا لومړني مطلب ګومان وکړي او دا هغه مهال کېدونې ده، چې اړوند مفهوم له ټولو ژبنيو ځانګړتياوو سره دويمې يا د مقصد ژبې ته وژباړل شي.

## د ژباړې شاليد

د ژباړې تاريخ تر هغه ځايه غځولای شو چې د دوو ژبو ويونکو سره ليدلي دي او يوله بله سره يې د خبرو اترو د لېږد- رالېږد اړتيا درلوده، له دغه ځايه د ګړنۍ (شفاهي) ژباړې شاليد تر ليکنۍ هغې ډېر پخوانی دی.
((ژباړې هماغه د ليک له پيدايښت سره خپل ارزښت جوت کړی او تر زرګونو کلونو وړاندې داسې ډېرليکونه شته دي، چې هماغه د ليک په وخت کې په نورو ژبو ژباړل شوي او څو ژبني متنونه يې راپاتې دي.))
د لويديځې نړۍ لومړنۍ ژباړه د هومر د (اوديسه) ژباړه ده، چې پر (۲۴۰مخزېږد) کال کې د ليويوس اندريکوس (رومي شاعر) په مرسته سرته رسېدلې ده.
تر دې مخکې به په يهودي ټولنه کې ګړنۍ ژباړه کيدله، چې روحانيونو به په تورات د پوهېدلو لپاره وګړي په يوه ميدان کې راغونډول او د خدای د کلام

څخه به چې څه مبهم او پېچلی وو، هغه به يې تفسير او شرحه کاوه. د تورات د ليکنې ژباړې لپاره کابو د اويا (۷۰) يهودي پوهانو او عالمانو له خوا د يهودي ټولنې د اړتياوو د پوره کولو لپاره تورات د دوی خپلې (يوناني) ژبه ته وژباړه، چې د تورات دغه ژباړه د تاريخ په اوږدو کې د ټکي پر ټکي او کمزورې ژباړې په نامه ياده شوه. د انجيل ژباړې هم په لاتيني، سرياني، قبطي او ارمني ژبو پيل شوې او د مسيحي ټولنې د ډېروالي سره د انجيل ژباړې هم پراختيا او ډېروالی ومونده، که څه هم هغه ژباړه ټکی پر ټکی وه، چې د اوسنيو پوهانو له انده سمه او کره ژباړه نه وه، خو د انجيل لوستونکو د ديني مينې او د خدای (ج) د کلام د خونديتوب لپاره دغه کتاب ډېر مقدس او پاک ګاڼه او له همدې لامله د جروم (Jerom) ژباړه له سخت مخالفت او انتقاد سره مخ شوه، دې خبرې د ژباړې د آرونو لپاره ناندرۍ راپورته کړې. په منځنيو پېړيو کې په اروپا کې ژباړه يوازې په ديني او مذهبي متونو پورې محدوده وه، په نهمې او لسمې پېړۍ کې بغداد عربي ژبې ته د کلاسيکو آثارو د ژباړې منځی (مرکز) وګرځېد او له شام څخه به عالمانو، پوهانو او انديالو د سقرات، اپلاتون او بقرات د آثارو د ژباړې لپاره بغداد ته راتلل او د رنسانس پېر (دور) په راتلو سره د لويديځې اروپا په هره برخه کې د ژباړې کار پيل شو او د کلاسيکو آثارو ژباړلو ته يې اوږه ورکړه، همدا ډول ژباړه د لويديځې اروپا او د پخوانۍ نړۍ ترمنځ هنري، فرهنګي، او .... لپاره يو پُل شو.

د انګلستان په ښوونځيو کې به لاتيني او يوناني ژبې د دويمې ژبې په توګه تدريسېدلې؛ تر څو د يوناني او لاتيني پخوانيو آثارو څخه انګليسي ته ژباړې وشي، لکه څنګه چې د کلاسيکو آثارو ژباړې اوس هم ډېرې دود دي. هر

شاعر او ليکوال غواړي؛ چې د کلاسيکو آثارو په ژباړلو سره د خپل ځان لپاره وياړونه وګټي، همداسې د هغه مهال پوهان لکه: شلي (Shelly)، پوپ (Pope)، چپمن (Chapman)، بټلر (Butler) او ډېرو نورو د هومر (ايلياد) اثر وژباړه. د شلمې پېړۍ د ډېرو ژباړل شويو متنونو موضوع مذهب جوړوي او ډېرى برخه يې د کلاسيکو آثارو ژباړه ښيي، چې د دغو دوو برخو ژباړې تر اوسه هم روانې دي.

## ژباړه او عباسيان

د اسلامي آثارو د ژباړې وياړ د عباسيانو کورنۍ ته ور په برخه دی، دې کورنۍ په ډېر دقت، جديت او ښه ډول سره ژباړه کوله، په تېره بيا د عباسي کورنۍ دويم خليفه چې له پوهې او ادب سره يې بې کچه مينه درلوده.

دی د پوهو کسانو په لټه کې و او تل يې غوښتل، چې د ژباړې له لارې نړۍ ته په زړه پورې ګټور اثار وژباړي؛ چې د اسلامي کلتور او علم لمن ارته او پراخه کړي.

د عباسي پېر (دور) نورو مشرانو هم د ده لاره ونيالله او د مامون نوم د ژباړې په برخه کې د يادونې دی. مامون د کلاسيکو اثارو د ژباړلو لپاره ډېر څه کړي او نور ليکوالان يې تر هرڅه ژباړې ته ډېر وهڅول، د عباسي مشرانو دغه هڅې د دې لامل شوې، چې د اسلامي نړۍ علمي ژوند پراختيا ومومي.

کارادیوو (Caradevo) په دې ګروهه و، چې په ختيځ کې د فلسفې علم يوازې د لوړ پوړو چارواکو په ملاتړ ژوندی دی، خو په عباسي پېر کې نه يوازې لوړ پوړو؛ بلکې ټيټ پوړو او نورو وګړيو هم د پوهې په برخه کې

کار کړی دی، چې په هغه وخت کې به وګړي په جوماتونو کې راټولېدل، علمي څېړنې، مطالعې او ژباړې به يې کولې؛ نو د عباسيانو دوره د علم او پوهې لپاره يوه زرينه دوره وه، چې د اسلامي نړۍ د وياړونکو په سر کې راځي.

د عباسيانو د واکمنۍ پر مهال د (بيت الحکمه) په نوم يو داسې پوهنيز منځۍ جوړه شوه، چې په دې پوهنيز منځۍ کې به لوی - لوی پوهان، ليکوالان او ژباړونکي راټولېدل او خپل علمي کارونه به يې کول؛ خو تر اوسه جوته نه ده، چې دا پوهنيزه منځۍ (بيت الحکمه) به د هارون (د عباسيانو مشر) څخه دمخه جوړه شوې وي او که به هارون جوړه کړي وي؛ خو هر وخت چې جوړه شوې وي، هارون يې د جوړولو او پيلولو لپاره خپلې هڅې کړې دي، چې د ستايلو وړ دي، ځينې نور پوهان وايي: چې هارون د (بيت الحکمه) بنسټ کېښود او د مامون په زمانه کې يې بشپړتيا ومونده.

مامون هم د پوهې او علم سره بې کچه مينه درلوده، ده يوه ډله خلک هند، خراسان، فارس او قسطنطنيې ته ولېږل، چې ګڼ شمېر کتابونه راټول کړي، مامون د روم له ټولواکانو څخه وغوښتل، چې که هر څومره فلسفي کتابونه لري، ده ته دې راواستوي، مامون د دې کتابونو په ژباړلو پيل وکړ او د دې کار لپاره به يې پوهان او ليکوالان وګومارل.

په لومړيو کې به ژباړه په سرياني ژبه وه؛ خو ډېر ژر په عربي ژبه پيل شوه او د ژباړې کار به ډېر په دقت پرمخ ته.

حنين بن اسحاق (877 زېږدي - مړ) پرخپله مورنۍ ژبې سربېره په عربي، پهلوي او يوناني باندې هم پوهېده، ده به ژباړل شوي کتابونه له اصلي متن سره کتل او تېروتنې به يې ورسمولې.

پردې سربېره د ده زوی هم ډېر کتابونه له یوناني څخه عربي ژبې ته راژباړلي دي، ده د خپل پلار او نورو ژباړلي اثار هم کتل ده د ارستو ډېر کتابونه هم په عربي ژباړلي او اوله دې سره – سره یې مسلمانان پوهان د فلسفي آثارو ژباړې ته ډېر هڅولي دي.

د ژباړې دې لړۍ چې د سریاني او یوناني څخه عربي ژبې ته کېدلې تر لسمې زېږدي پېړۍ پورې دوام درلود، چې ډېرو پوهانو او لیکوالو دهر اړخیزو اثارو د ژباړې په برخه کې ډېر کار کړی دی، که څه هم ځینې پوهان په سریاني او یوناني ژبو ته اوښتو آثارو ته د شک په سترګه ګوري. خو ځینې ډېر نور چې په دغو ژبو لاسبری لري، د هغوی له انده سمه او کره ژباړه ده او وایي؛ چې د هغه مهال ژباړه د ژباړې د اوسنیو آرونو سره سمه وه؛ ځکه په هغه وخت چې به کوم کتاب ژباړل کېده، ژباړنو پوهانو به له څو اړخونو کتله او له اصلي متن سره به یې پرتله کوله، سربېره پردې به یې پخوانۍ ژباړې د بېلا – بېلو نیمګړتیاوو له پلوه یې سمولې او د کره والي لپاره به یې له آر متن سره پرتله کولې.

## افغانستان او د ژباړې شالید

ژباړې د نورو ښکارندو (پدیدو) په څېر له پیدایښت راهیسې ډېر اوږده پړاوونه وهلي. لومړنی ژباړن لیولوس اندرو نیکوس و، چې د هومر مشهور اثر یې (اودېسه) په لاتیني ژبه وژباړه، وروسته له هغه څخه ژباړې په ورو–ورو ډول پراختیا او چټکتیا موندله او د نړۍ مشهورو لیکوالو لکه سیرون، کاتول د یونان د ارستو، اپلاتون او هیبوکریت فلسفسي اثار په عربي ژبه د امویانو خلافت ته وژباړل. د کره او رښتینې ژباړې کار د عباسیانو د خلیفه ابو جعفر منصور دوانیقي د خلافت پر مهال پیل او د مامون د خلافت پر مهال خپلې

بشپړتيا ته ورسېده. مسلمانان د درېيو پېړيو څخه د ډېر مهال لپاره د زړو تمدنونو د ژبو عبري، سرياني، هندي، لاتيني او يوناني څخه د ځينو پوهنيزو آثارو لکه: فلسفي، ادبي او مذهبي -- په ژباړې ډېر بوخت وو او کولای شو د هغه مهال د ژباړونکو څخه ابن ابي اصيعه، ابن اسحاق، ابن حنين، ابن رشد او نورو نومونه واخلو.

خو د ژباړې د اوج دوره (پېر) د رنسانس دوره ده، چې په دې دوره کې د هر هېواد او هرې ژبې ويونکو د نورو پرمختللو او علمي ژبو څخه خپلو ژبو ته د ژباړې بهير ډېر په چټکتيا روان کړی و او د لومړي ځل لپاره د (رابرت) په نامه يوه تن د ١١٤١ – ١١٤٣ زيږدي په کلونو کې قران عظيم الشان په لاتيني ژبه وژباړه.

په افغانستان کې د ژباړې پيل د ديارلسمې هجري پېړۍ په لومړيو کې د اروپايي ژبو په ځانګړې توګه انګليسي څخه وشو اود امير شيرعلي خان د واکمنۍ پر مهال د قاضي عبدالقادر په لاس ځينې پوځي يا عسکري نومونې پښتو ژبې ته وژباړل شوې.

د سراج الاخبار د لومړۍ ګڼې له خپرېدو وروسته مولوي عبدالرؤف کندهاري ، مولوي محمد سرور او واصف کندهاري له عربي ژبې څخه ، حاجي باڅتي غلام نقشبند له ترکي ژبې څخه، عبدالرحمن بېك، عبدالرحيم بېك او منشي حيدر علي له اردو ژبې څخه ژباړې وکړې.

د سراج الاخبار د دويمې ګڼې له خپرېدو سره محمود طرزي له ترکي ژبې څخه ډېر کتابونه وژباړل، چې د ده ژباړې د ژباړې د فن د بنسټونو په تول پوره نه دي؛ خو د اروپايي رومانونو د لومړي ژباړن په توګه يې هڅې د منلو او ستايلو وړ دي.

د هغه وخت د ځينو ژباړونکو نومونه هم د يادونې دي، قاضي عبدالقادر، نور محمد کندهارى، قاضي عبدالرحمن او نور. همدا ډول د امير عبدالرحمن خان په دوره کې هم ځينو ژباړونکو د ژباړې په ډګر کې کار کاوه، چې له هغو څخه د سيف الدين بابري، محمد حسن خان، عبدالسبحان خان، عبدالوهاب تاشقرغاني او محمود طرزي نومونه د يادونې دي.

او په دې وروستيو کې د ژباړې په ارزښت او اهميت ټول پوه دي؛ ځکه که چېرې موږ د اوسنيو رسنيو منځپانګه ولولو؛ نو وبه وينو، چې د دغو رسنيو کابو تر نيمايي ډېره برخه ژباړه جوړوي او دا ژباړې ډېرى له انګليسي، عربي، فرانسوي، الماني، روسي، اردو او پاړسو څخه په فلسفي، سياسي، تاريخي، اقتصادي، ټولنپوهنې، ارواپوهنې او ادبياتو په برخه کې کيږي. د ۱۹ پېړۍ يو نوميالى ليکوال د ژباړې په اړه وايي: ژباړه بايد تر کېدونه (امکانه) ازاده وي. او همدا ډول د ختيځ نامتو ليکوال علامه رشاد د ژباړې په اړه وايي: ژباړه د تمدونونو ترمنځ د لېږد- رالېږد يوه اغېزناکه وسيله ده او که موږ غواړو، چې خپله ژبه په هر ډګر کې بډايه کړو؛ نو بايد د ژباړې لمن ونيسو او په اوسمهال کې يې تر ټولو ډېره ستره اړتيا هم ليدل کيږي.

## پښتو ادب او ژباړه

ژبه يوه ټولنيزه اړتيا ده، له ژبې پرته د انساني ټولنې شتون ناشونى دى؛ ژبه ده، چې د يوې ټولنې، فرهنګ، دود، رسم او رواج راپېژني، کله چې په ژبه کې د ادب کلمه راځي؛ نو بيا ورسره خوږې- خوږې کلمې، ليکنې، شعرونه او خواږه نثرونه د ژبو سرته راځي او د هرې ژبې ادب نظم او نثر جوړوي، د پښتو ژبې لومړنى موندل شوى نثر (سالووړمه) ده، چې له بده

مرغه اوس زموږ په لاس کې نشته؛ د پښتو نثر لومړنی لیکوال هاشم زید سروانی دی او زموږ دغه پیاوړي لیکوال د ژباړې مهارت هم درلود، د خپل ښوونکي محمد ابن القاسم یا ابن خلاد شعر یې پښتو ته را اړولی دی او د پښتو ژبې لومړنی ژباړل شوی شعر دی. ټول (۷) اوه بیته دی او دربیمې پېړۍ ته اړوند دی.

د دې شعر ژباړې ته په کتو سره ویلی شو، چې تر دې هم پخوا په پښتو ژبه کې ژباړې وې؛ خو د زمانې تاړاکونو به د نورو پښتو آثارو په څېر نه وي پرېښي او د پښتو ژبې د ځلي په لوړېدو به یې رخه کېده.

همدارنګه د ژباړې په ډګر کې د ښځو ونډه هم له پامه نه شو غورځولی؛ هغه دا چې لومړنۍ ښځینه شاعره او لیکواله، چې پښتو ادب ته یې د ژباړې له لارې اثر وړاندې کړ، هغه (زرغونه کاکړ) وه. اغلې کاکړ بوستان په پښتو وژباړه او د ژباړې په ډګر کې یې د ښځو لپاره هم ور پرانیست.

په منځنۍ ادبي دوره کې هم د ژباړې له لارې پښتو ادب ته په زړه پورې خدمت شوی، چې له ټولو نه د خوشحال خان دوره ډېره ځلانده ده، په دې دوره کې پر دیني آثارو سربېره نورو برخو ته هم پام اړول شوی؛ که څه هم تر دې پخوا د اخوند درویزه په مخزن الاسلام کې د دیني رسالو او کتابونو ژباړې راوړل شوي دي؛ خو د ستر خوشحال خان د ښوونځي پیروانو وخت په وخت له دیني او فلسفي موضوعګانو، ادبي آثارو او سربېره پردې رومانونه هم ژباړلي دي، چې په دې برخه کې د سکندر خان خټک یادونه اړینه ده او موږ ته یې د جامي مشهور داستان لیلا او مجنون پښتو کړ؛ یو لیکوال وایي: ((عبدالقادر خان خټک د جامي (یوسف او زلیخا) پښتو ته وژباړه، پردې سربېره یې د شیخ سعدي ګلستان د ګلدستې په نامه وژباړ د دیني اړتیاوو د

پوره کولو لپاره يې څلوېښت حديثه پښتو ته وژباړل، صدرخان خټک د نظام خسرو او شريني ژباړه وکړه، د پښتو ادبياتو په کلاسيکه دوره کې نورو شاعرانو، ليکوالو او اديبانو هم لکه ګوهرخان خټک د قلب السير، د سيرت النبي کتاب، افضل خان خټک، کليله او دمنه، حميد مومند نيرنګ عشق، شاه او ګدا کيسه او شريعة الاسلام، فيض د بهرام او ګل اندامې مشهور رومانونه ژباړلي دي؛ ځينې نورو ښاغلو هم په دې لاره کې خپل - خپل ارزښتمن ګامونه پورته کړي دي؛ لکه: (....مسعود، غلام محمد، محمد رفيق، طالب شيدا، اخون ګدا، برهان خان، جان محمد، امام الدين د جمجمه په نوم کيسه، شيخ احمد خان د قرآن کريم منظوم تفسير، وليداد کاکړ، رحمت داوي (ليلا مجنون) ملا زبردست کاکړ روضه النعيم، اخوند احمد د حضرت محمد (ص) او ابو جهل کيسه، د ابراهيم (ع) کيسه د يوسف (ع) او بي بي خديجه (ض) کيسې، بابوجان بابي د (شها او ګلان) کيسه پښتو ته ژباړلي دي.

د نظم او نثر پرمختللې بڼه له ديارلسمې هجري پېړۍ څخه پيل کيږي، چې په دغه لړ کې د يوه بل پوه او فاضل شخصيت يادونه هم اړينه بولو، چې د ادبي خدمتونو سربېره يې ديني او مذهبي خدمتونه هم کړي؛ هغه دوست محمد خان خټک دی، نوموړي په (1275 هجري) کې د واعظ کاشفي تفسير حسيني پښتوته ژباړلی او (اخلاق احمدي) مشهور کتاب يې هم د مثنوي په شکل ژباړلی دی.

د غلام محمد له خوا د بدرۍ جمالې او سيف الملوک کيسو ژباړه هم د يادونې وړ ده، چې له پارسي څخه پښتو ته ژباړل شوې ده، ملا احمد خان د ممتاز شهزاده ښکلې او په زړه پورې افسانه په پښتو منظومه کړې ده، د ملا احمد جان د نورو ژباړو ترڅنګ د توتي نامې ژباړه د يادونې وړ ده.

احدګل د (نیمبولا) کیسه پښتو کړې، نعمت الله په خپل وخت کې پښتو ژبې ته د ژباړې له لارې ډېرزیات چوپړ کړی، چې پر دیني مسایلو سربېره یې روماني او افسانوي ناولونه،او کیسې هم پښتو کړي دي.
کله چې له دې دور څخه سر لړ راپورته کوو او د ژباړې نوي دور ته سر ورښکاره کوو؛ نو ډېر ختیځوال مو تر سترګو کیږي، هغه داسې چې ځینې وخت تیری کوونکي د خپلو موخو لپاره د هماغې سیمې ژبه زده کوي، چې د موخو سیاسي اړتیا له پلوه د هماغې سیمې ژبه هم پالل کیږي.
زموږ په هېواد تیری کوونکو هم د خپلو موخو د پوره کولو لپاره د پښتو ژبې د زده کولو لپاره په موخه پښتو کتابونه ولیکل، که څه هم په دې کې د سیاسي غرض لپاره و؛ خو ځینو محققینو او پوهانو پښتو ژبې او ادب سره خپله مینه وښودله؛ له دغو پوهانو څخه میجر راورټي، پادري هیوز، ډارمستټر، بډلف او نور یادولای شو، چې باید نومونه یې په پښتو ادب کې په درنښت واخیستلای شي.
(۱۹) پېړۍ د پښتو نثر لپاره یوه نوې دوره ده، په دغه دوره کې د نثري ژباړولمن هم ښه پراخه ده او په پښتنو څېړونکو سربېره میجرراورټي چې د جیمز (ایسپ فیبلز) یې ژباړلې هم د یادولو وړ دی.
مولوي احمدجان چې د پښتو نوي نثر سرلاری بلل کیږي، ده، د ژباړې په ډګر کې پوره- پوره ونډه اخیستې، هغه د محمد بن قاسم اثر (تاریخ فرښته) ، یوه برخه پښتو کړې، د پښتو ادب د ځولۍ یو بل هڅاند ډکوونکی نعمان الدین کاکاخېل دی چې د ظفرالنساء په نوم کتاب یې د پښتوادب لپاره سوغات دی، همدا ډول د ده مېرمنې د زینت النساء په نامه یو ګټور کتاب له اردو څخه پښتو ته ژباړلی دی. د همدې لړۍ یو بل لیکوال محمد یوسف

کاکاخېل د ډپټي نذیراحمد (توبة النوح) نومې اثر له اردو ژبې څخه چې د (نذیر احمد) کتاب دی، پښتو ته ژباړلی، د همدې کورنۍ یو بل لیکوال له فارسي ژبې څخه په روانه پښتو یو ګټور کتاب (خجسته بهار) د (مشیرالاخلاق) په نامه ژباړلی دی.

د پښتو یو بل خدمتګار میا صیب ګل کاکاخېل هم د ډپټي نذیر احمد د مرآة العروس په نامه یو غوره ناول پښتو کړی دی،د میا صاحب دا ناول د (نقش نګین) په نوم ژباړل شوی ؛ چې د ناول لیکلو لپاره یې نورو لیکوالانو ته هم لاره اواره کړې ده، سید تقویم الحق کاکاخېل د دغو دوو تنو لیکوالو په اړه لیکي: ((...دوی دواړو د ډپټي نذیر احمد ناولونه نه یوازې په پښتو کړي، بلکې پښتانه کړي یې هم دي او دا خبره ...د نوي نثر لپاره ځانګړی اهمیت لري.))

په افغانستان کې د امیر شیرعلي خان له مهاله د نوي نثر نښې راښکاره شوي دي، چې د یو شمېر عسکري نومونو، اصطلاحګانو، قاعدو او فوځي بولیو ژباړې دهمدغې دورې زېږنده دي. له امیر شیرعلي خان وروسته چې کله امیر عبدالرحمان خان واک ته ورسېد، د هغه د راولپنډۍ د سفر بشپړ راپور په پښتو وژباړل شو، د موعظې او یوسف و زلیخا کتاب هم د همدې امیر په عصر کې ژباړل شوی دی.

ویل کیږي، چې د امیر حبیب الله خان په عصر کې سراج الاخبار کې هم پښتو ژباړې خپرې شوې او مولوي صالح محمد پر منظومو قصیدو سربېره د ژباړې له لارې هم ګټور چوپړ کړی، چې د بېلګې په توګه یې د عزیزي تفسیر ژباړه، پښتو پښویه په دري ژبه، چې له اردو ژبې څخه ژباړل شوی یادوی شو.

کله چې د امان الله خان په وخت کې (مرکه د پښتو) تاسیس شوه، نو د یوې اعلامیې په توګه یې له ټولو پښتنو لیکوالو څخه هیله وکړه، چې له هر فارسي نوم سره دې په هر ځای کې پښتو نوم ولیکل شي او بیا دې (مرکه د پښتو) ته ولیږل شي. دغه اعلان ډېر پښتانه لیکوال ژباړې ته وهڅول. لنډه دا چې هر ځای خوره وره ژباړه پیل شوه؛ خو د پښتو ژباړه هڅې هغه مهال ډېرې پیاوړې شوې؛ چې د ادبي انجمن په چوکاټ کې د (تالیف او ترجمې) څانګه جوړه شوه، د دغې څانګې غړو له بېلابېلو ژبو څخه پښتو ژبې ته ډېرې کتورې او هر اړخیزې موضوعګانې وژباړلې، چې د هېواد په ډېرو خپرونو کې خپرې شوې دي.

د شلمې پېړۍ له درېمې لسیزې څخه، چې د ژباړې کوم بهیر پیل شوی او کومو لیکوالو، شاعرانو او ادبپوهانو پکې خپله ونډه اخیستې ، په لنډ ډول درپېژنو:

د انیل دیفوا یوازېنی ژوند د محمد هاشم پردیس ، مادي لیمب (د یار توپان) د غلام بریالي، پیترماربوس نیل (دوکتور کلنیك د شپې په تیاره کې) د اریزو، نجیب محفوظ (د سعادت قیمت) د عزیزالرحمان سیفي ژباړه، نجیب محفوظ (پټه مینه) د کشککي ژباړه، چېوفاني پابیتي ( دروح څارونکي) د عزیزالرحمان سیفي، سوپاسان (ړوند) د هاشمي، لوییز السکون (د میلاد په اختر کې) د واسعی، ولټر (فیلسوف) د محمد ارسلان سلیمي، مېرمن مي (له مینې ډکه سینه) د سیفي، صیوفري اف من سته (کوچنۍ شهزادګۍ) د سیفي، سرټامس میالري (تر مېلمستیا وروسته) د سیفي، جوزف ایډسن (علم او دوست) ګولډ سمت (ګوډ جګړن)، سروالترسکات (زدوکي و ملت)، چارلز دیکنز (د کوچني خوب)، ټامس هاردي (د نسب غرور) د سیفي. د اسیلي

برونته (بندي) د بېنوا، موپاسان (ړوند) د حبيبي او، فرانسوګو (فداکاري) د حبيبي ژباړه او نور.

د ژباړې دغه ادبي علمي او فرهنګي هڅې له پيل نه بياتر (۱۳هجري) پيړۍ پورې؛ لکه د يوه ځنځير په څېر له يو بل سره پيوند درلود. خو د (۱۱ زيږدې) پيړۍ په وروستيو لسيزو کې دغه ادبي غورځنګ دومره پياوړی شو، چې علمي پانګې يې د شلمې پيړۍ لپاره د يوې نوې ادبي دورې پيلامه شوه، د ادب او هنر هر ژانر (ځېل) او صنف په پښتو ژبه وژباړل شو، پښتو ژبې ته نه يوازې کورنيو؛ بلکې بهرنيو څېړونکو هم پام راواړوه او د ژباړې له لارې يې هغه بېلابېل ځېلونه پښتو ته واړول، چې اړتيا ليدل کېده.

اوسمهال په پښتو ژبه کې د ژباړې برخه ډېره ګړندۍ او چټکه روانه ده، چې د اوسنيو ځوانانو ونډه پکې د ستاينې وړ ده او بايد وستايل هم شي.

## د ژباړې ارزښت

ژباړه د تاريخ په بهير کې د پاملرنې وړ ګرځېدلې او د اړيکوزلو (ارتباطی وسايلو) د سرليک په توګه د وګړو د پاملرنې وړ ګرځېدلې ده.

نن ورځ د ژباړې له ارزښت څخه سترګې نه شو پټولای، د ژباړې د اهميت په اړه يوازې دومره وايو، که چېرې ژباړه نه وای؛ نو له نورو ملتونو څخه به مو هېڅ ډول پوهه او معلومات نه درلودل؛ ځکه چې انسانان د يو او بل علم او فن ته اړتيا لري او له بلې خوا د ډېرو ژبو د شتون له کبله نشي کېدای، چې نيغ په نيغه له هغه څخه ګټه واخستل شي، له دغه ځايه ده، چې پرته له ژباړې بله لار نشته، دا چې ولې ژباړه د دومره اهميت وړ ده؟ ځکه چې؛ له علومو او فنون سره د بشري ټولنو مينه د تجربو د زده کړې لېوالتيا انسانان دېته اړ کړي

دي، چې ځیړنه وکړي، لکه څنګه چې ژباړه یوه علمي، سیاسي، دیني او کلتوري اړتیاده؛ نو په کار ده، چې موږ هم ددې اړتیا په پام کې نیولو سره متې رابډ وهو. نن ورځ له ژباړي نه د دینې، علمونو، فنونو، روانو چارو او په بیلابیلو ډګرونو کې ګټه اخیستل کیږي. د ورځنیو خبرونو، ګزارشونو او د هېوادونو د سفیرانو، مشرانو د یو او بل د خبرو په پوهېدنې د ژباړې غیږې ته پناه وړو.

د یوې پرمختللې ژبې له ډېرو غوره ټکو څخه یو هم د هغې ژبې په لمن کې د ډېرو او هراړخیزو اثارو شته والی دی، چې له بېلابېلو ژبو او سرچینو څخه یې په بېلا-بېلو برخو ( سیاسي، حقوقي، علمي، ادبي، فرهنګي او نورو) کې ژباړل شوي اثار ولري. په دې ډول به هم له یوې خوا د ژوندد بېلابېلو برخو او نړیوالو مسلو په اړه معلومات ولري او هم به د همدغې ژبې د علم او پوهې خاوندانو ته د ډېرو ماخذونو درلودونکې وي.

په اوسنۍ نړۍ کې د اداري له پلوه بېلا-بېل سیستمونه شته دي، چې په ټولیز ډول د نړۍ هېوادونه په درو برخو ویشي:

۱- پرمختللي هېوادونه

۲- پرمختیایي هېوادونه

۳- وروسته پاتې هېوادونه

دریېم ډول هېوادونه باید د پرمختللیو هېوادونو د تجربو څخه په ګټنه د خپلوهېوادونو په پرمخ بېولو کې هڅه او هاند وکړي.

پر یوه بهرنۍ پرمختللې ژبه په لاسبري سره، نو کولای شو، چې د هغې ژبې له علمونو او راز- راز مسایلو څخه په ګټنه خپلې ژبې ته بېلابېل معلومات راواړوو.

هر کله چې بشري ټولنې پرمخ ځي ؛ د ژباړې او ژباړن ارزښت هم لوړېږي؛، نو په دې توګه له بېلا-بېلو ژبګړېدونکو ټولنو سره؛ د يو ژباړن شتون اړين برېښي.

لکه څنګه چې اوسنۍ نړۍ د ټکنالوژي د پرمختګ او د اړيکو د ډېرښت له کبله چټکيون کوي او نړۍ د يو کلي په څېر ده، چې بايد په دې کلي کې د يو بل له احواله خبر اوسو او د يو او بل په غوښتنو ځان پوه کړو، خپلو ستونزو ته د حل لار پيدا کړو او له ټولوعلمي، تخنيکي، فرهنګي او نورو لاسته راوړنو څخه ګټه واخلو او دا ګټنه له ژباړې څخه پرته محال ده.

له بده مرغه چې کله کله يوې ژبې ته وړ ارزښت نه ورکول کيږي؛ وايي: ټاګور خپل شهکار اثر (ګيتانجلي) په بنګالي ژبه وليکه؛ خو په پيل کې يې د ګوتو په شمېر مينه وال ځان ته رامات کړل، کله چې ټاګور دغه اثر په انګليسي وژباړه؛ نو د نوبل نړيواله ادبي جايزه يې ترلاسه کړه او په دې توګه د نړيوالو مشهورو ليکوالو په ډله کې وشمېرل شو؛ له همدې ځايه ده، چې د ژباړې پر ارزښت ستر ګې نه شو پټولای.

په پای کې يوازې دومره ويل غواړم ؛چې انسان يو ټولنيز موجود دی، خپل غم او ښادي له نورو سره شريکول غواړي؛ کله چې څوك له يوې وينا څخه اغېزميږي؛ نو هڅه کوي، چې خپل دغه احساس د خپل چاپيريال له ګړو سره شريك کړي او دغه د موضوع شريکول په ژباړې سره کېدي شې او پرته له ژباړې انسان خپلې دغې هيلې ته هېڅ کله هم نه رسيږي.

پرګټې سربېره ژباړه ډېر زيانونه هم لري، چې د ډېرو د غلطې پوهېدنې لامل هم شوې ده او که د ډېرو جنګونو لامل غلطه ژباړه وبولو؛ نو مبالغه به

نه وي ، چې له هغو څخه د مصر او شوروي د مشرانو ترمنځ تاوتریخوالی دی او دا تاوتریخوالی دناسمې ژباړې زیږنده و.

## ژباړه د پوهانو په اند

په موخنۍ( مقصدی) ژبه کې د مفهوم او سبک له پلوه ترټولو نژدې انډول پیداکوولو ته ژباړه ویل کیږي. (نایدا)

ژباړه د یوې تجربې یاله یوې ژبې څخه په بله ژبه کې دځانګړي فارمول ځای پر ځای کول دي. (ورنروینتر)

ټکی پر ټکی ژباړه په دې مانا ده، چې یو لېونی د بل لیوني خبرې اخلي. (کولي)

د ژباړې په ژبه کې د لومړنۍ ژبې لپاره تر ټولو نژدې انډول ،چې اصلي مطلب ولیږدوي ژباړه بلل کیږي. (دولی فیتس)

ژباړه باید په سلاست او روانۍ سره و شي او د اصلي متن ټولې ځرنګتیاوې دویمې ژبې ته واړوي، له متن څخه باید لرې نه وي؛ خو تر ټولو نژدې او ښه انډول ورته په بله ژبه کې پیدا شي. (موریس نادو)

ښه ژباړه هغه ده، چې د امکان تر بریده پر جوله (شکل) یې د فورم سربېره د اصلي متن مفهوم او پیغام هم ساتلی وي. (ارنست سیمونز)

ژباړه د هغې ښځې په شان ده، چې که ښکلې وي، وفاداره نه وي او که وفاداره وي، نو ښکلې نه وي. (ایټالوي متل)

یو بل ډول ژباړه هم شته، چې د پنځونې په بڼه سرته رسیږي، ؛هغه دا چې له اصلي متن څخه مفهوم واخلي یانې له ټولې پاڼې څخه مفهوم واخلي او په بېل جوړښت یې وژباړي، چې دې ډول ژباړې ته بیا پنځونه هم ویلی شو.

ژباړه د هغو وګړو یا ملتونو ترمنځ کلتوري او فرهنګي اړیکه ده، چې د بېلابېلو ژبو ویونکي وي ژباړه د اندونو، غوښتنو، کیسو، هنرونو، علمونو او نورو د لېږد لپاره یوه اغېزناکه وسیله ده، چې د یوې ژبې له ویونکو څخه د بلې ژبې ویونکو ته لېږدول کیږي.

ژباړه د دوو ژبو ترمنځ یوه لړۍ ده، چې په دې لړ کې د ژباړن یوه سترګه اصلي ژبې ته او بله سترګه یې د ژباړې ژبې ته وي او له همدې لارې ژباړن د دغو دوو ژبو ترمنځ د یو پُل مانا لري.

ژباړې ته ځینې پوهان د هنر په سترګه ګوري او ځینې نور یې بیا پوهنه بولي، زما په اند دا دواړه د ژباړې د ښه کیفیت تفسیر دی،هغه داسې که څوک یوه ژباړه د ژبې له هنر څخه پرته وچ پر وچ یانې یوازې دومره وکړي، چې د ژباړې ژبې لوستونکي پرې پوه شي او یوازې د متن یا مطلب بلې ژبې ته اړول دي دا پوهنه ده او که د یوه مطلب یا متن ژباړه په داسې شکل وشي، چې هم د ژباړل شوې ژبې وګړي پرې پوه شي او هم په ژباړه کې د فرهنګ، کولتور او ژبنۍ لوړاوي ته پاملرنه شوې وي او د متن د اړولو ترڅنګ د ژبې د نثر خوږوالي ته هم ډېر پام ګرځووي، هنر بلل کیږي.

استادنجیب منلی د خپلې یوې مقالې په یوه برخه کې لیکي، چې ژباړه د څلورو آرونو د پیوستون ټکی دی:

لیکوال – لیکنه – لوستونکي – ژباړونکی.

منلی زیاتوي، لیکوال هڅه کوي، چې لیکنه د هغه د خپل احساس ترجماني وکړي او هم د لوستونکي په ذوق برابره وي، سره له دې هم ډېر ځله داسې کیږي، چې د لیکوال ذهني تصویر د لیکنې له لارې لوستونکو ته رسیږي، د لوستونکو له فرهنګي، ژبني، سیاسي او ټولنیزو چاپیواوغلبېلونو په تېرېدو سره

دومره بدل شي، چې له اصل سره پې ورته والی د نشت برابروي، یانې لیکوال بریالی کیږي، چې خپل پیغام لکه، چې ښایي لوستونکو ته ورسوي. د لوستونکي او لیکوال د ذهني تصویرونو د ورته والي کچه د لیکوال په فني مهارت پورې اړه لري.

کله چې خبره د ژباړې شي، نو لا هم ستونزمنه شي، ځکه چې ژباړن تر دې وخته یوازې لوستونکی دی، لیکنه پرې اغېز وښندي او بلې ژبې ته د دې متن د اړولو تکل وکړي، که دا هم وګڼو، چې لیکنه د لیکوال کټ مټ ذهني انځور ښکاره کوي او دا هم ومنو، چې د ژباړن ذهن ته هماغه انځور په کره بڼه راغی، خو دلته بیا ژباړن د خپلې ژبې له قوانینو سره سم دا متن خپلې ژبې ته راوړي، چې په داسې اکر(حالت) کې باید ژباړن د بل چا ذهني تصویر د بلې ژبې لوستونکو ته ورسوي. دا به په خپل ځای کې وڅېړو، چې ژباړن ، یو مضمون او تصویر بلې ژبې ته ولېږدولای شي همدلته ده، چې یو ایټالوي مقوله موږ ته د فکر پر پرده ځان راښکاره کوي، وایي: ((ژباړن خاین دی)).

# د ژباړې ډولونه

د ژباړې د ډولونو په اړه ډېر څه ویل شوي دي، چې هر چا له خپل لید لوري د ژباړې ډولونه وړاندې کړي دي، موږ دلته ژباړه په ټولیز ډول په دوو لویو برخو وېشو:

۱- انساني ژباړه

۲- ماشیني ژباړه

او دا هر یو ډول په خپله په ډېرو ډولونو وېشل کیږي، چې په خپل وار سره به وړاندې شي.

# ماشيني ژباړه

د کمپيوټر او انټرنټ د رامنځ ته کېدو څخه کابو (۷۰) کاله کيږي، چې تر دې دمه يې په نړۍ کې داسې بدلون رامنځ ته کړی ، چې څو کاله دمخه يې چا په ذهن کې هم يو ډول طرح نه شوه جوړولای.

په همدې پرمختګونو کې د ماشيني ژباړې منځ ته راتګ هم شامل ؤ، چې کابو نيمه پيړۍ پخوا داسې پوستکالي (Soft Ware) جوړ شول، چې په خپلکاره ډول ژباړه کولای شي. دې پرمختګونو او اسانتياوو د نړۍ هېوادونه دې ته وهڅول، چې په دې برخه کې پانګونه وکړي. هالنډ په (۱۹۸۳ زيږدي)کال کې اته نيم ميليونه ډالره د ماشيني ژباړې يوې څېړنيزې طرحې ته ځانګړې کړې وو ، چې خپله ژبه په ډېره اسانه بڼايه کړای شي، د انټرنټ له منځ ته راتك سره ډېر هېوادونه د ډېرې پانګونې لپاره د دې ډول پروژو تطبيقولو ته وهڅېدل. راځئ چې د ماشيني ژباړه وپېژونو چې ماشيني ژباړه (Machine Translation ) يا خپلکاره ژباړه ( Automatic Translation) داسې يوه پوستکالي (Soft ware) ته وايي، چې دلومړنۍ ژبې (Source Language) متن يا متنونه د ځانګړي سيسټم په مرسته تر بېلابېلو مرحلو (ژبپوهنې، تحليل او تجزيه مرحلې) وروسته په موخنې (مقصدي) (Target Language) ژبه يا ژبو واړوي يا ژباړي او هغه متن د موخنۍ ژبې يا ژبو د ويونکو او لوستونکو په واك کې ورکوي.

البته پخوا به يوازې له انګريزي څخه فرانسوي، جاپاني، روسي او الماني ژبو ته ژباړه کېده، خو اوس دغه ماشين انګريزي په فرانسوي، الماني، هسپانوي، ايټالوي، جاپاني، چيني او نورو هم اړوي، د نړۍ د دغو ژبو ويونکي زموږ په شان دومره کړاو او ستونزو کې نه دي، بلکې هغوی که

غواړي د بلې ژبې ګټورې ليکنې ولولي، نو د دې ماشين په مرسته يې ژباړي او په ډېره اسانۍ  سره يې لولي، هغه داسې چې په کمپيوټر کې دغه کمپيوټري پروګرام ته متن ورکوي هغه يې هم ستاسې د خوښې ژبې ته اړوي او ستاسې په واک کې يې درکوي.

د کمپيوټري  حافظې له منځ ته راتګ سره نړۍ د بې ساري هېښنده پرمختګ په لوري ځان چمتوکړ او د همدغې ځواکمنې او کم لګښتې وسيلې په مرسته د ټولو انګريزانو، فرانسويانو، جاپانيانو او ..... وړپېښې ستونزې اوارې شوي.

هغوی په يوه دقيقه کې  زرګونه پراګرافونه په خپله ژبه او له خپلې ژبې نورو ژبو ته اړولای شي، دغه پروګرامونه په انټرنټ کې هم ځای پرځای شوي، چې همدغه کار په څو ثانيو کې ترسره کوي او که څوك د نړۍ په هره برخه کې وي؛ نو له دغه پروګرام څخه په کار اخيستلو  هم خپل ټول هدف او خبرې نورو ته لېږدوي، او هم د نورو ژبو ګټور توکي په خپله ژبه کې لوستلای او کارولای شي.

د دغو پوستکالو (Soft Ware) په جوړولو کې تر ډېره  زيار ايستل شوی دی، چې د انساني ژباړې په څېر ژباړه وکړای شي؛ خو له کومه ځايه چې د انساني ژباړې خبرې کېږي، هغه به هرو مرو له ماشيني ژباړې سره توپير لري، دا خو څرګنده خبره ده ، چې په  پرمختللو ژبو کې به نوي توري او لغتونه رامنځ ته کېږي او نورې اصطلاحګانې به راوځي؛ خو د دې پروګرام جوړونکي کولای شي، هر کال دغه پروګرام ته نوې بڼه ورکړي او ټول وييونه  پکې خوندي کړي او ټولې اصطلاحګانې او نوي لغتونه وروپېژني، کېدای شي، دغه پروګرام ځينې جملې داسې وژباړي، چې ګرامري تېروتنې

به لري؛ خو انسان يې بياپه ډېرې اسانۍ سره کره کولای شي. ښايي اصلي ليکوال کوم ويی په خپله لهجه ليکلی وي؛ نو ماشين نه شي کولای هغه لهجوي لغت ته په بله ژبه کې انډول پيدا کړي، بله خبره دا ده چې ښايي په اصلي متن کې املايي تېروتنې وي او ماشين نه شي کولای چې هغه املايي تېروتنې سمې کړي او بيا ژباړه وکړي، انسان کولای شی، له املايي تېروتنو او ځينو لغتونو سره د مخ کېدو په صورت کې لوړو سرچينو، کتابونو او ژونديو سرچينو ته مخه کړي؛ خو ماشين په دې ځای کې له انساني ژباړې سره سيالي نه شي کولای. بل دا چې بازار ته داسې ماشينونه وړاندې شوي، چې د ډېرې ټيټې کچې درلودونکي دي او پېرونکي يې په يو وار کارولو سره ايسته غورځوي.

دا مهال ډېرې مؤسسې او ارګانونه په دې سيالۍ کې دي، چې دغه ډول نور سيستمونه هم جوړ کړي؛ چې په خپلو څېړنيزو فعاليتونو کې ترې کار واخلي. ان په اروپايي هېوادونو کې داسې نور ماشينونه هم جوړ شوي، چې غږ په تورو او توري په غږ اړوي، دغه راز که تاسې په انګريزي کې ورته خبرې وکړئ، دغه ماشين يې په هماغه شېبه کې په فرانسوي، جاپاني او نورو ژبو اړوي، چې له دغه ماشين څخه زياتره په راډيوګانو کې کار اخلي په دې برخه کې يې يو ستر انقلاب راوستلی دی. داسې سيستمونه هم شته؛ چې له علمي معيارونو سره د ژبپوهنې او منطق پر بنسټ جوړ شوي او هغه سيستمونه په درېو ډولو وېشل کيږي:

۱- کنټرول شوي سيستمونه (System Controlled Language)

۲- د کمپيوټر په مرسته ژباړه: (Computer Assisted Translation)

۳- بشپړ سيستم اتوماتيکه (خپلکاره) ماشيني ژباړه (FAHQT)

۱- کنټرول شوي سیستمونه (System Controlled Language)

د ماشیني ژباړې د کارولو او دودېدلو څخه وروسته وګړي په دې لټه کې شول، داسې ژباړیز سیستم رامنځ ته کړای شي چې د ژباړې د ارونو پر بنا یې تېروتنې کمې وي، دې موخې ته د رسېدو لپاره د هغه مهال پوهانو داسې سیستم رامنځ ته کړ، چې لږې ژبې وژباړي او هرډول لغتونه یې په کې ځای پر ځای کړل، بله دا چې تقریباً دا سیستم یې په ځانګیز ډول یا هم په تخصصي ډول جوړ کړ، چې هره برخه کې به یو سیستم جوړوي،چې د هغې ځانګې ټول وییونه په اسانۍ سره پکې راټول کړي او په ژباړه کې د ډېرو تېروتنو مخه ونیسي.

دا سیستمونه په ټوله نړۍ کې دود شول او په اروپا کې هم داسې سیستمونه رامنځ ته شول، چې تر ټولو مهم یې دادي: Titus System, Lent, Potrans, Smart, Hook and Hatton او نور. د دغو سیستمونو ډېری څو ژبي سیستمونه دي او دا سیستمونه د اروپاي دولتونو او ټولنو د مخامخ ملاتړ درلودونکي وو.

د یادونې ده، چې دا ډول سیستمونه په لومړي ځل په کاناډا کې له انګلیسي ژبې څخه فرانسوي ژبې ته د ژباړې لپاره وکارول شول او دومره مشهور شول، چې د ډېرو ماشینونو او وسلو نومونه به د همدې سیستمونو له لارې ژباړل کېدل او د نړۍ ډېرو مشهورو کمپنیو؛ لکه: زیمنس، کارترپیلار او ..... د دې سیستم له پېرونکو څخه دي.

۲- په کمپيوټر ژباړه: (Computer Assisted Translation)

دا ډول سيسټمونه د نيمه خپلکاره ماشيني ژباړې او هم د انسان په مرسته ماشيني ژباړې (Assisted Machine Translation) په نامه پېژندل شوي دي.

دا سيسټم د هغو امريکايي ماشيني ژباړو د سيسټمونو د ناکامی له امله رامنځ ته شو، چې وګړو به د امريکايي ژباړيزو سيسټمونو څخه خپګان ښوده، چې د امريکا د شيکاګو د پوهنتون ښوونکي يې د يوې څېړنيزې پروژې پيلولو ته وهڅول او پايله يې د دې سيسټم ( Computer Assisted Translation) منځ ته راتګ شو، دا سيسټم ډېری د نويو ژباړونکو سره مرسته کوي او د وخت د لګښت له امله چندان تيزه ژباړه نه ده، خو د دقت له کبله به د ژباړې دا سيسټم ډېر ښه وي؛ ځکه چې ماشين به ډېر متن وژباړي، خو که لږې تېروتنې پکې وي انسان کولای شي، هغه په لږ وخت کې جوړې کړي او په پايله کې يوه ښه ژباړه منځ ته راوړې

۳- بشپړ سيسټم اتوماتيکه (خپلکاره) ماشيني ژباړه (FAHQT)

د مصنوعي هوش (Artificial Intelligent) او عصبي شبکې د تکنيک په برخه کې د وروستيو کلونو هېښنده پرمختګونو د ماشيني ژباړې په پرمختګ او پراخوالي کې ډېر نقش لرلی دي. هغه دا چې د چارو چټکوالي او دقيق والي د نړۍ پوهان دې ته وهڅول، تر چې يو داسې سيسټم رامنځ ته کړي، تر څو په ټوله او هر اړخيزه مانا ښه ژباړه وکولای شي، چې په دې لړ کې د بشپړې خپلکارې او لوړ کيفيت ژباړې ماشين يا (FAHQT) چې د (Fully Automatic High Quality Translation) مانا دی رامنځ ته شو.

دا سیستم د پري ایډیټ (Preedit) او پوسټ ایډیټ (Post Edit) درلودونکي هم دي، پري ایډیټ لومړنۍ (SL) ژبې متن تر وړاندې تر ژباړلو د املايي او نورو تېروتنو لپاره ګوري او د ژباړې لپاره يې تیاروي، تر ژباړلو وروسته يې پوسټ ایډیټ د (TL) موخنۍ ژبې په چوکاټ کې سم او کره کوي او د موخنۍ ژبې (TL) د ويونکو د ګټې اخیستنې لپاره يې وړاندې کوي.

د ماشیني ژباړې سیستم له درېيو توکونو یا برخو څخه جوړ شوی، چې بیا دا درې برخې بیا د نورو برخو درلودونکي هم دي، هغه درې برخې دا دي :

۱- لغتونه ۲- نحو او جوړښت ۳- ماناپېژندنه

په دې هرې برخې بحث کول زموږ د موضوع لمن اوږدوي، چې په راتلونکې کې به د دې موضوع په اړه پوره بحث وشي.

د ماشیني ژباړې په اړه مې ځکه دومره تشریح ورکړه، چې که دا یو څو کرښې زموږ کمپیوټر پوهان او ژبپوهان راویښ کړي او په دې برخه کې خپلې ژمنې پوره کړي؛ چې زموږ ژبه هم د دې ډول سیستمونو درلودونکې شي او د نورو علمي توکو په پیداکولو (ژباړلو) پسې دومره ډېر زیار ونه ګالي. که څه هم د نړۍ ډېرې ژبې له دې سیستم څخه تر اوسه نه دي برخمنې شوي؛ خو بیا هم زموږ ژبپوهان او کمپیوټرپوهان باید په دې برخه کې کوټلې ګامونه پورته کړي او د ژبې چوپړ ته په رښتیني مانا سره مټې رابډ وهي.

زموږ په ټولنه کې داسې کتابونه هم شته، چې ډېرو ګڼو لیکوالانو ژباړلي دي، د دې کار د مخنیوي لپاره باید یو داسې ډېټابېس جوړ شي، چې ژباړل شوي او تر ژباړې لاندې کتابونه د کتابونو د اصلي لیکوال د نوم او د لیکلو

له نېټې سره درج شي او دټولو لیکوالو او نورو په واک کې ورکړل شي، چې په یوه کار باندې د دوو لیکوالو وخت ونه لګي، په دې کار سره به هم وخت وسپمول شي او هم به ډېر اثرونه وژباړل شي.

## انساني ژباړه

هغې ژباړې ته ویل کیږي، چې د انسان له خوا د خپلو ټولو امکاناتو په کارولو سره سرته رسیږي؛ یانې د لومړنۍ ژبې ټول متن په خپل واک کې اخلي او ښه یې لولي تر لوستلو وروسته یې موخنۍ ژبې ته اړوي. دا ژباړه بېلا-بېل ډولونه لري:

الف: د ژبې له پلوه:

۱- ګړنۍ (شفاهي) ژباړه ۲- لیکلنۍ ژباړه ۳- له بهرنۍ ژبې څخه کورنۍ ژبې ته ژباړه

۴- له کورنۍ ژبې څخه بهرنۍ ژبې ته ژباړه ۵- له بهرنۍ ژبې څخه بهرنۍ ژبې ته ژباړه

۶- له کورنۍ ژبې څخه کورنۍ ژبې ته ژباړه.

ب : د سکالو (موضوع) له پلوه ژباړه:

۱- د علمي موضوعاتو ژباړه ۲- د تخنیکي موضوعاتو ژباړه ۳- د فرهنګي او کلتوري موضوعاتو ژباړه

۴- د سوداګریزو موضوعاتو ژباړه ۵- د مطبوعاتي موضوعاتو ژباړه ۶- د سیاسي او دیپلوماتیکي موضوعاتو ژباړه ۷- د حقوقي موضوعاتو ژباړه

۸- د اداري موضوعاتو ژباړه

خوپه ټولیزه توګه یې لومړی پر دریو لویو ډلو وېشو:

۱- ټکی پر ټکی یا تحتا للفظي ژباړه ( Literal Translation یا Word for word)

۲- اصطلاحي یا مانایي ژباړه (Idiomatic Translation)

۳- آزاده ژباړه (Free Translation)

په لومړي ډول ژباړه کې ژباړن د امکان تر بریده زیار باسي؛ چې په موخنۍ ژبه کې ورته کلمه پیدا کړي، کله ..کله دا ډول ژباړه دقیقه ژباړه بلل کیږي؛ خو ټکی پر ټکی ژباړه هېڅکله هم دقیقه او ښه ژباړه نه شي کېدلی، په دوېم ډول ژباړه کې ژباړن زیار باسي؛ چې په موخنۍ ژبه کې داسې مانا پیدا کړي، چې د لومړنۍ ژبې انډول واوسي؛ چې ټکی پر ټکی له یو او بل سره هېڅ ورته نه وي او په درېم ډول ژباړه کې ژباړن د کلمو او جملو په اوډون کې بیخي ازاد دی او هڅه کوي، چې په خپلې خوښې سره یا هم ګومان کوي، چې لوستونکو ته دا جمله خوند ورکوي، همهغه جملې ټاکي او خپلې جملې په خپله سلیقه اوډي. اوس به هر یو ډول په خپل وار سره ښه تشریح کړو.

۱- ټکی پر ټکی ژباړه ( Literal Translation or Word for Word Translation):

دا ډول ژباړه د خپل نه کره توب او ناپوهېدل پر بنسټ ډېره په زړه پوري نه وي؛ ځکه دا ډول ژباړه ګونګه او یو له بله سره هېڅ تړاو نه لري. ښایي داسې وي، چې لومړنۍژبې(L) او موخنۍ(TL) مفردات یو شی وي؛ خو د غونډله ییز (نحوي) او ګرامري جوړښت له کبله یوه ژبه د بلې ژبې د ګرامري جوړښت سره توپیر لري؛ له دې ځایه ده، چې ټکی پر ټکی ژباړه د خلکو په ژبه ښه نه برېښي.

په دې ډول ژباړه کې ژباړن تر ډېره د لومړنۍ ژبې تر اغېز لاندې وي، چې دا کار موخنۍ ژبې ته ډېر لوی زیان اړوي. په دې ډول ژباړه کې د ژباړن ټول فکر ویونو (لغاتو) ته وي، نه مفهوم ته او ژباړه هماغسې سرته رسوي، چې ځینې وخت دا ډول ژباړه دومره ناآشنا او بې خونده وي، چې لوستونکي حیران او په ویره کې اچوي، چې په کومه ژبه لوستل کوي.

لکه څنګه چې مو وړاندې اشاره وکړه، ژباړن باید یوازې د قاموس لیکونکي نقش ونه لوبوي؛ بلکې د دې ترڅنګ د مفهوم او محتوا پام هم وساتي او د ژباړونکي اصلي دنده دا ده، چې کلمې او عبارتونه مانا وال کړي، نه ستومانه ونکي.

## د ټکي پر ټکي ژباړې ګټې:

سره له دې چې ټکی پر ټکی ژباړه ډېرې ستونزې او نیمګړتیاوې لري خو ډېرې ګټې هم لري، په دې شرط چې ژباړن پرې دلومړنۍژبنې په نحوي اوګرمري جوړښت پوه شي او موخنۍ ژبې ته یې په کره او سمه توګه راواړوي.

۱- زده کړییزې موخې: لکه د نویو زده کوونکو لپاره د پښتو، عربي، انګلیسي او ... زده کړه، د دې موخې په ترلاسه کولو کې ټکی پر ټکی ژباړه تر نورو ټولو ګټوره ده.

۲- د رسمي اسنادو ژباړه، د تحصیلي مدارکو ژباړه

۳- د دیني متنونو ژباړه لکه: دقرآن شریف او د حدیثونو ژباړه ، چې په دې کې امانت ډېر ستر نقش لري.

۴- د اداري لیکونو او خبري متنونو ژباړه.

په دې ټولو مواردو کې دا توصیه کیږي. چې ژباړن باید په جمله کې فاعل، مفعول او فعل په خپل ځای کره وکاروي او ژباړه باید د موخنۍ د ژبې د ګرامر له مخې.

د ټکي پر ټکي ژباړې اصلي لامل په دواړو (SL او TL) سره د ژباړن بشپړه نا بلدتیا ښکاروي؛ ځکه هغه نه شي کولای چې د اصلي ژبې مفهوم د دوېمې ژبې د ګرامري قواعدو، جملو او اصطلاحاتو په اوډلو سره سم ولیږدوي.

ټکی پر ټکی ژباړه کله بیخي بې مانا او کله مانا وال وي؛ نو که چېرې ژباړونکی یې همداسې ټکی پر ټکی وژباړي، د دې ژباړې پایله به دا وي، چې د موخنۍ ژبې لوستونکي به یې هېڅ په مانا پوه نه شي او هغوی ته به بې مانا شی وي. لکه :

د انګلیسي ژبې See you soon څوک په پښتو داسې ژباړي، ډېر ژر به ووینو، چې په اصل کې داسې ژباړل کیږي او مانا لري. د بیا لیدو په هیله

بله جمله:

She began to cry storming

هغې شروع کړ په ژړا په طوفاني ډول. ن

هغې په لوړ غږ سره په ژړا پیل وکړ. س

I have little to say more

زه لږ نور د ویلو لپاره لرم. ن

زه د ویلو لپاره ډېر څه نه لرم. س.

## ۲- مانایي ژباړه (Idiomatic Translation):

هغه ژباړه ده، چې یوازې ژباړن په کې د تورو اړولو ته پاملرنه نه کوي؛ بلکې د مفهوم لیږدونې ته ډېره پاملرنه کوي؛ ځکه چې د دې ډول ژباړې اصلي موخه د مفهوم لیږدونه ده، نه د تورو اړول.

مانايي ژباړه تر ټولو مروجه ژباړه ده، چې د بېلا- بېلو ادبي متونو، ديني او علمي متونو په اړولو کې کار ځينې اخيستل کيږي؛ ځکه ژباړن سربېره په دې چې د لغاتو ژباړې ته پام ، د عبارتونو او جملو مفهوم ته هم پام کوي، دا په دې مانا چې کله کله په يوه ليکنه کې متلونه، کنايې، استعارې او اصطلاحات راغلي وي؛ نو هغه ته بايد لومړی د لومړنۍ په ژبه کې انډول متل، اصطلاح، کنايه او استعاره ومومندل شي او که نه وي بيا دې داسې وژباړل شي، چې په بشپړ ډول دې مفهوم افاده کړي، هغه داسې چې بايد ځان ازاد هم پرېږدې، چې د موخنۍ ژبې ګرامري موازنه تر پښو لاندې نه کړي او هم د آر ليکوال د اثر مفهوم په بشپړ امانت سره ولېږدوي.

په مانايي ژباړه کې د ژباړونکي د وينا او ليکنې رواني بايد داسې وي؛ چې لوستونکي وانګيري، چې هغوی يوه ژباړه نه؛ بلکې اصلي مطلب لولي.

## ۳- آزاده ژباړه (Free Translation) :

په دې ډول ژباړه کې جملې او عبارتونه د ژباړن په خوښه او سليقه ټاکل کيږي؛ ژباړن کله ناکله د خپلې خوښې موضوع هم پکې ډېروي او کله ناکله يې ورڅخه کموي. آزاده ژباړه د اصلي ليکوال له سياق څخه وځي او يوازې هماغه مفهوم په نور جملو او عبارتونو کې رانغاړي؛ ښايي يوسل پاڼيز کتاب غه ژباړه به ۱۵۰ پاڼې شي او يا به هم د اصلي کتاب له د پاڼو څخه کمې شي.

ازاده ژباړه په خپله لمن کې د اصلي ليکوال د مفهوم ته په پام سره داسې شيان بيانوي، چې ښايي په اصلي کتاب کې نه وي؛ خو له هغه سره به مطابقت لري. دا ډول ژباړه زياتره په شعر او ادبي متنونو کې سرته رسيږي.

آزاده ژباړه هم د ځينو نورو ژباړو په څېرځينې مخالفين او پلويان لري، چې له دغو څخه يو هم وايي: ((په آزاده ژباړه کې ډېری د ژباړن ليد لوری

څرګند وي او د موخنۍ ژبې ته ځینې اصطلاحات او معلومات له خپله ځانه نباسي، چې کېدای شي،ځینې وخت له حقیقتونو څخه هم په کې سترګې پټې شي.))

له بله پلوه د ازادې ژباړې پلویان په دې ګروهه دي، چې ژباړه د وینا د تفسیر په مانا ده او په همدې بنسټ آزاده ژباړه سمه ژباړه ګڼي. د دوی په ګروهه دا ډول ژباړه د ژباړونکي په ډېرونو او کمونو د ژباړې له چوکاټه وځي او د تالیف رنګ جوړوي، په همدې خاطر د اصلي متن څخه ښکلې وي، که څه هم دا مطلب به په زړه پورې وي؛ خو د ژباړې د علمي اصولو له مخې د لیکوال د لیکنې په مفهوم کې ډېروالی او کموالی د ژباړې امانت ته زیان رسوي.

## لنډه ژباړه:

دا ډول ژباړه هم د آزادې ژباړې په لمن کې ځان رانغاړي؛ ځکه چې ژباړن زیار باسي، چې په ژباړه کې ډېروالی او کموالی هم وکړي، چې د لیکوال له اثر څخه یو لنډیز جوړ کړي او دموخنۍ ژبې ته یې واړوي. له همدې امله په داسې ژباړه کې د ۱۰۰۰ پاڼو کتاب کېدای شي ۱۰۰ پاڼې شي او دا ډول ژباړه ډېرې نن ورځ ځکه ډېره سرته رسیږي، چې لوستونکي د وخت د کمښت له امله ترآر متن ډېر اوږده مضمون غوره ګڼي او غواړي په لږ وخت کې ډېر مطلب تر لاسه کړي، که څه دا ډول ژباړه د دقیقې ژباړې په کتار کې نه شو راوستای؛ خو په هره توګه د ژباړې په ډولونو کې راځي.

ګړنۍ (شفاهي) ژباړه:

شفاهي ژباړه هغې ژباړې ته ویل کیږي، چې یوازې په ګړنۍ توګه سرته رسیږي نه لیکنۍ.

په ټولیز ډول ګړنی (شفاهي) ژباړه له دوو برخو څخه جوړه شوې وي: د وینا ژباړه او د مرکې ژباړه.

## ۱- د وینا ژباړه:

هغې ژباړې ته ویل کیږي، چې یو ویناوال خپله وینا اوروي او یو بل کس يې نورو اوریدونکو ته وینا د اوریدونکو په ژبه اړوي، چې دا ژباړه ډېر تکرار، تمرین او مهارت (تکړه توب) ته اړتیا لري او پر درېیو اصلونو سرته رسیږي.

### الف: د ویناوال د لیکنو پر بنسټ ژباړه:

په داسې حال کې چې د وینا بشپړ متن لیکلی وي، کولای شي آر متن له ویناوال څخه واخیستل شي او بیا تر ژباړې وروسته د وینا په وروستۍ برخه یا پای کې ولوستل شي.

### ب: بند پر بند ژباړه:

بند پر بند (پاراګراف پر پاراګراف) ژباړه هغه ده، چې ویناکوونکی د خپلې وینا یو پاراګراف ولولي او ژباړن هغه وژباړي، چې دا حالت د وینا تر پایه دوام مومي.

### ج: هم مهاله ژباړه:

دا ژباړه د ژباړې د ډولونو تر ټولو ستونزمن ډول دی؛ ځکه ژباړن ته سوچ اویاقاموس داړونې لپاره هېڅ وخت نه ورکول کیږي، او یو یا څو ژباړونکي په یوه سالون یا کوټه کې وي او د ویناوال وینا د غوږۍ له لارې اوري او بې له ځنډه د هغې ژباړه کوي. او د ژباړونکو غږ د غوږیو له لارې اړوندو

کسانو ته رسیږي. په دې ډول ژباړه کې باید لومړی شخص او دریم شخص په پام کې ونیول شي. د بېلګې په ډول:
وینا کوونکی د ناستو کسانو د زغم مننه کوي. (دریم شخص)
زه ستاسې له زغم څخه مننه کوم. (لومړی شخص)

## د ګړنی ژباړې ځینې شرطونه:

دلته یو لړ شرطونه وړاندې کوو، چې دغو شرطونوته په پام سره به یو شفاهي ژباړن پر دې بریالی نه شي،چې یوه ښه اوپه زړه پورې ژباړه وکړای شي.
۱- له دواړو ژبو (لومړنۍ اوموخنۍ) سره بشپړه اشنايي.
۲- مسلکي او تخصصي اشنايي؛ یانې د مرکه کوونکي یا ویناکوونکي له موضوع سره بشپړه بلدتیا. د بېلګې په نوڅه که د وینا کوونکي یا مرکه کوونکي موضوع سیاست وي؛ نو ژباړن باید له سیاسي اصطلاحاتو سره بلدتیا ولري.
۳- په ژباړه کې د عمل تېزوالی او د مرکې یا وینا پر مهال د ذهن شته والی.
۴- د ویناوالی له فن سره بشپړه بلدتیا.
۵- د کلمو، لغتونو او اصطلاحاتو په ځای کارونه، د ویناوال له پوهنۍاو موقعت سره سم کلمې او اصطلاحګانې کارول.
۶- په ژباړه کېدي د شخصي عقیدې له شریکولو ډډه وشي.
۷- د ویناوال یا مرکه کوونکي د خبرو په یادښقولو کې دقت؛ څکه چې دښتول د ژباړونکو ذهن له ژباړې راونه ګرځوي. که داسې وشي؛ نو بیا نه شي کولای، چې ژباړن د ویناوال یا مرکه کوونکي بشپړ مفهوم ولېږدوي.

## ۲- د مرکې ژباړه:

دا ډول ژباړه هم ډېر تمرین، تکرار او ته اړتیا لري؛ ځکه چې ژباړن په رسنیو:معلوعاتوراډیو،ټلویزون او ...کې د قاموس لټولو او یا لغت پر لغت ژباړلو وخت نه لري؛ په همدې سبب د وینا کوونکي د وینا د یادښتولولیکنې او یا د لیکلو پر وخت ښایي د ژباړونکي څخه د وینا یا کلام مقصد غلط شي، نو پر دې بنسټ باید ژباړن د لنډیز لیکلو کار خپل بنسټ وګرځوي. یو بل ټکی چې ژباړونکی بایدورته ته ډېره پاملرنه وکړي، هغه دا چې د وینا کوونکي د خبرو تېزوالی یو له بله توپیر لري؛ نو ژباړن باید ځان له ډېر تېزوالي سره روږدی کړي؛ د ویناوال له وینا سره جوخت روان وي؛ یو بل ټکی ، که چېرې ویناکوونکی ورو (ټیټ غږ) خبرې کولې؛ نو باید هغه ته وویل شي، چې خپل غږ لوړ کړي، چې ژباړه په دقیق ډول سرته ورسیږي.

## د ژورنالیستي توکو ژباړه:

1ــ په ورځپاڼو کې د مدیر یا Sub Editor د ګومارنې پر مهال د هغه د ژباړې وړتیا په پام کې نیول کیږي؛ یو مهال په رسنیو کې اعلانونه هم ژباړل کېدل؛ نو سب ایډیټر یا مدیر باید په ټاکلي وخت کې د خپل کار د پای ته رسولو وړتیا ولري؛ ځکه دی په ژباړه کې د وییونو د کارولو پر مهال د فکر وخت نه لري، نوموړی که سم له لاسه، ګړندۍ او سمه ژباړه ونه کړای شي؛ نو د اخبار بریالی کارکوونکی نه بلل کیږي. دچټکې او سمې ژباړې لپاره اړین دي، چې عمومي معلومات او له بېلا-بېلو اصطلاحګانو سره بلدتیا ولري.

2_ يو عالم به پر خپل مسلك برلاسى وي؛ خو اړينه نه ده، چې هغه دې يوه ښه ورځپاڼه ليكونكى هم وي، ورځپاڼه ليكونكى بايد له خپل مسلك سره سره په ملي او نړيواله كچه له روانو حالاتو خبر وي. د خبرونو پر شاليد Background د بېلابېلو پېښو په پايلو او لاملونو، د سياسي ګوندونو پر تګلارو، د سياستوالو په اندونو او د هغوى پر سياسي مخينې بايد پوه وي، له دې ټولو سره سره د ژباړې پر مهال بايد پر دواړو ژبو برلاسى هم وي.

3_ د ژورنالستي موادو يا خبرونو د ژباړلو موخه ټكى پر ټكي ژباړه نه ده؛ بلكې په لږو ټكو كې د مفهوم بيانول، وضاحت او ځينو موادو ته پر ژباړې سربېره شاليد وركول هم دي؛ نو ددې لپاره د ژباړې پر لارو چارو له پوهېدو سره سره په خبري ارزښتونو پوهېدنه هم اړينه ده.

4_ له بلې ژبې خپلې هغې ته د ژباړې پر مهال د ځينونومونو( اصطلاحاتو ) (محاورو) لپاره وړ ماناوې پيدا كول هم اړين دي؛ نو ژباړن بايد له دې آرونو هم خبر وي.

له دې څرګندېږي، چې هر لوستى برلاسى ژباړن نه شي كېداى او په تېره ګه د ژورنالستي موادو د ژباړې لپاره ځينې لارې؛ چارې هم بايد په پام كې ونيول شي؛ لكه پورته، يادونه وشوه.

## د ژورنالیستیکي ژباړې ځانګړتیاوې:

1ــ پر ژبه برلاسی: ژباړن باید پر دواړو ژبو برلاسی وي؛ یانې لومړۍ ژبه او دویمه نریاموخنۍ ژبه، که له دې دواړو په یوه کې هم ستونزه ولري؛ نو کېدونې ده، چې د مفهوم په لېږد کې ترې تېروتنه وشي.

2ــ له روانو حالاتو خبرتیا: په ځانګړي ډول د ژورنالیستي موادو د ژباړې لپاره د ورځنیو پېښو او د ژوند د ټولو اړخونو او د هغوی د مخینې او شالید په اړه معلومات درلودل اړین دي.

3ــ پر اړوند علم یا هنر باندې برلاسی: د علم ټولیزه توګه، ادبي، هنري او یا نورو موادو د ژباړې لپاره په اړوند مسلك پوهېدنه اړینه ده؛ خو د ژورنالیستي موادو په ژباړه کې باید ټول آرونه او معیارونه (لکه له مخه چې یاد شول) په پام کې ونیول شي؛ که څه هم هرڅوکدهرچالپاره په هره برخه کې د پوهېدا وړتیا او اړتیا نه لري؛ خو ورځپاڼه لیکونکي په او په سېره ژباړن په باید د هر علم پر بنسټونو پوهوي

4ــ دټولنېزو معلوماتو درلودنه: د ژورنالیستي موادو د ژباړې پر مهال د عمومي معلوماتو درلودل اړین دي؛ ځکه د ژباړې پر مهال د ځینو هېوادو، ښارونو او ځایونو نومونو او د پېښو پر شالید شننه غوړي.

5ــ په لنډوجملو کې د مفهوم د بیان وړتیا: د ژورنالیستي موادو د ژباړې پر مهال باید اصلي مفهوم په لږو ټکو کې وړاندې شي، دلته ټکی په ټکي ژباړه سمه نه ده ؛ د ځینو خبرونو باید لنډیز وژباړل شي او ځینې یو څه تفصیل ته

اړتیا لري ژباړن باید دا وړتیا ولري، چې د مطلب په یو ځل لوس یې مفهوم درک او په لنډ ډول بیان کړي.

6_ د کاري وړتیا درلودنه: په رسنیو کې د ژباړې کار باید خورا ګړندی پر مخ ولاړ شي؛ ځکه خبري ټولګه یا بولیټن ښایې پر ټاکلي وخت چمتو شي ان تردې چې کله-کله  د دقیقو په شمیر وخت وي، چې باید مطلب پکې وژباړل شي ددې، لپاره وړتیا ته ډېره اړتیا ده.

7_ د ورځپانه لیکنې له تخنیکي او مسلکي اړونو سره بلدتیا: کله کله د ورځپاڼې یا رسنیو ادارو ته له بېلابېلو دفترونو کاري راپوروونه، اعلامیې او ځینې لیکنې استول کېږي، چې له ژورنالستي پلوه سمې نه وي، ژباړن بویه  د بېلګې په توګه  له  عنوان، متن، پاراګرافونه، ژبني اړونه او د خبر اصلي پوښتنې پکې باید په پام کې ونیول شي.

8_ د لوست او پرې د پوهېدو وړتیا : د رسنیو په ادارو کې خورا زیات مواد پراته وي، د ورځپاڼې کارکوونکی او په تېره ژباړن باید دا وړتیا ولري، چې ټول تر لاسه شوي مواد تر سترګو تېر کړي، مهم ټکي یې په پام کې ونیسي او بیا یې ژباړې ته متې رابډ وهي.

## د ژبې له پلوه د ژباړې نور ډولونه:

۳- د بهرنۍ ژبې څخه کورنۍ ژبې ته ژباړه:

له هغې ژباړې ته وايي، چې له يوې بهرنۍ ژبې څخه کورنۍ ژبې ته کيږي، په دې ډول ژباړه کې بايد ژباړن د دغو هېوادونو له کلتور، عنعنو، دوددونو او ورځنيو اصطلاګانوسره بلد وي، پر ګرامري او نحوي بلدتيا سربېره ژباړن ښايې د ليکوال سبک، د ليکلو نېټه او نوراړين اړخونه وپېژني

د نمونې لپاره به د انګليسي ژبي شاعر Celine Dion د يوه شعر پښتو ته راوړاوو:

### Real Emotion

You don't have to give me rings on my fingers
Promise me the moon and the stars in the sky
Or bring me roses just to show me you love me
That aint gonna win this hearth of mine
All the diamonds you can buy won't impress me
Pretty words aint gonna prove your love
I need more than just tokens of affection
I am not asking for too much now baby
I don't need no fancy cars
Just need something from the hearth….whoa

I need real emotion
Feel, gotta feel it inside
Give me that real emotion
Coz I need some

Need to feel some tonight
Give me a love that's genuine
Real emotion, real emotion

Show me something that my heart can believe in
Imitation love don't mean a thing
Baby it's gonna be the real thing or nothing
Show me what is it gonna be now baby
I am just asking much from you
Just a love that's much from you
Just love that's deep and true…..whoa
I need real emotion
Feel, gotta feel it inside
Give me that real emotion
Coz I need some
Need to feel some tonight
Give me a love that's genuine
Real emotion, real emotion

Not a cheap imitation of love
I need something that's real
I can feel in my heart baby
I have been waiting so long
For a love, for a love, for a love that's storming

I don't need no fancy cars
Just I need something from the heart…..

اوس به د دې شعر پښتو ژباړه وګورو، چې عبدالباري جهاني کړې ده :

# رښتينې مينه

ضـرور نه ده چې په ګوتو مې ګوتمۍ کې
د اسمان ستوري سپوږمۍ مې غاړه ګۍ کې
راتــــه راوړې رنګ په رنګ ښايسته ګلونه
له ګلـــــــونو دې وي ډک دواړه لاسونه
په تحـــــــــــفو دې خپله مينه راته ښيې
راتـــــــه وايي چې مين پر بل چا نه يې
خـــــــو که ماته را په برخه دا نړۍ کې
په لـــــمن کې مې دانې د الماس توی کې
زما لــــــــه مينې سره لوبې نه شې کړلای
په المــــــــاسو مې زړه نه شې اخيستلای
مـــــــاپه تشو کيسو نه شې تېر ابستلای
پـــــــــــه خبرو مينه نه شې رانيولای
هسې نـــه چې زه په مينه کې تېرى کړم
هسې نـــه چې زه جهان درڅخه غواړم
مـــــــــــاته مه راوړه دانې د مرغلرو
زه مې ټـــــــول عمر رښتينې مينه غواړم
داسې مينه چې يې ځان وي د زړه تل کې
چې نژدې شو سره ورکډ شو په يو بل کې
داسې مينه چې بيا نـــــه شو هېرېدلای
چې يې رنګ د زمان نــه شي بدلولای

هغـــه مينه چې ښيښې غوندې صفا وي
لـــــــــه اوله تر اخره چې رښتيا وي
داسې مينه راتــــــــه راکه پر ما ګرانه
چــــــې د زړه مراندې يې ومني جانانه
يا خــــــــــو بشپړه رښتينې مينه راکه
يادې ژوند زمــــا له ژوند څخه جلا که
هسې نــــه چې زه جهان درڅخه غواړم
مــــــــــــاته مه راوړه دانې د مرغلرو
زه مې ټـــــــــول عمر رښتينې مينه ژاړم
داسې مينه چې يې ځای وي د زړه تل کې
چې نژدې شو سره ورك شو په يو بل کې
داسې مينه چې يې ځــای وي زما زړه کې
چې احساس يې کړم د خپل زړه په کاله کې
انتظـــــــــــــار يم داسې مينې ته عمرونه
پر دې لاره مې تېر کـــــــــړي دي کلونه

## 4- له کورنۍ ژبې څخه بهرنۍ ژبې ته ژباړه:

له هغې ژباړې څخه عبارت ده، چې د کورنۍ ژبې څخه بهرنۍ؛ يانې د بل هېواد د وګړو ژبې ته ژباړل کيږي، لکه يو پښتو متن چې انګليسي او نورو ژبو ته واړول شي. په دې ډول ژباړه کې ژباړن بايد په بهرنۍ ژبې دومره برلاسی وي، لکه د هغې ژبې تکړه ليکوال؛ ځکه دلته بايد متن د بهرنۍ ژبې د نورو متنونو سره يو ډول وي او د هغې ژبې د ويونکو لپاره ګټور او د پوهې

وړ وي؛ لکه د سليمان لايق شعرونه د جمعه خان صوفي له خوا انګليسي ژبې ته ژباړل شوي دي او يوه بېلګه يې دلته را اخلو:

## بربنډ عشق

بربنـــــډې نجونـــــه، بربنـــــډ عشـــــقونه
ايســـــتلې تـــــوري، ښـــــکاره تيغونـــــه
عشـــق بـــر حجابـــه ميـــدان تـــه راغـــې
نـــه تـــور مـــلا شـــته ، نـــه يـــې دمونـــه

Naked Love

Naked damsels, naked loves
Swords out of scabbards, open blades;
Love came out uncovered and bare
Exorcised black Mullah and his spells
(Wulfrath, 16-11-94)

## وطن ته

درنـــــه روان يـــــم نـــــه ژړيـــــږم
زه هغـــه غـــر يـــم چـــې نـــه نړيـــږم
پـــــه بـــــارانونو او تنـــــدرونو
نـــــه راټيټيـــــږم، نـــــه تســـــلميږم

To Country

Leaving you, but not weeping
I'm that mountain that can't be eroded;
Amid rainfalls and thunders
I'm neither bowing down, nor surrendering1
(Kabul 20 April 1992)

امریکا

امریکــــــــا څــــــه ده خــــــوني ښــــــامار دی
دنیــــــــا والــــــــو پــــــه اوږو بــــــــار دی
پــــــه نوبــــــت غــــــواړي د ســــــړي غوښــــــې
پــــــه دغــــــو شــــــپو یــــــې پــــــه مــــــوږ وار دی

America

What is America? A bloodthirsty monster
Big burden on humans' shoulder;
It demands human flesh on term
These days is our number
(Wulfrath, 14 January 1996)

۵- له بهرنۍ ژبې څخه بهرنۍ ژبې ته ژباړه:

دا ژباړه تر ټولو نورو ستونزمنه ده؛ ځکه چې دلته ژباړن باید د دواړو بهرنیو ژبو په ګرامر او نورو اړوندو چارو ښه پوه وي ؛ سربېره پر دې باید د دواړو ژبو له کلتور او عنعنو سره پوره بلد وي، تر څو د ښې ژباړې له ټولو صفتونو سره یې دویمې ژبې ته وژباړي.

## ۶- له کورنۍ ژبې څخه کورنۍ ژبې ته ژباړه:

دا ډول ژباړه بیا تر نورو ژباړو یو څه اسانه ده ځکه ژباړن دلته له دې دواړو کلتورونو، عنعنو، دودونو او رواجونو سره پوره بلدتیا لري؛ یانې په هر اړخیره توګه له ټولو اړینو موضوعګانو سره اشنا دی؛ نو ځکه ژباړن کولای شي، د ژباړې مفهوم په ښه ډول د اړوندې ژبې ته ولېږدوي، لکه له دري ژبې څخه پښتو ژبې ته ژباړه او یا هم له پښتو څخه دري ته ژباړه، د بېلګې په توګه د کاروان صاحب یو شعر، چې زرلښتې حفیظ په دري ژباړلی :

### غزل

ستـــرګې دې پرېږده، چې شیندي ګلونه
ډېـــــــــر مې یادېږي دا ژوندي ګلونه
ستادکـــــــــــبروبڼوپه شپول کې راګیر
لکـــــــــــــه اغزیوکې قیدي ګلونه
زه د جـــــــــانان د در په کاڼو مین
پرېږدئ، چې ښکل کړم په تندي ګلونه
په تورو څـــــــــــڼو کې یې ډېر لګوه
شته مې د زړه په مـــــــات کودي ګلونه
ورته حیران پاتې یم کـــــــاروانه زه

چې دا د چا د غزل دي ګلـــــــونه
25/3/1369
دهېواد د وتلي شاعر ښاغلي پیرمحمدکاروان دشعر دري ژباړه :

## غزل

چشمانت رابگذار کـــــه گل بریزد
دلی دیوانه گل تازه خـــــــــواهد
دل دیوانه اسیر مژگـــــــــــــانت
مثلیکــه گل میان خــــــــار روید
بسابگذار به گیسوان ســــــــیاهت
به بالای دلم گلها مـــــــزید است
منم کاروان در حــــــــــــیرت او
که غزل هاگل را زکـــــی می گیرد

## د غربي (لویدیزوالو) اندیالو له انده د ژباړې ډولونه:

د لوېدیځې نړۍ له اندیالو څخه یو هم نیومارک دی، چې په خپل کتاب (To Translation Approaches) کې یې د ژباړې لپاره دوه نوي سرلیکونه وړاندې کړي دي، چې پیامي ژباړه او مانایي ژباړه ده.

که څه هم د نیومارک ډلبندي د ټولو اندیالانو د منلو وړ نه ده؛ خو د نیومارک مفهومونه د ژباړې له ډولونو سره مطابقت لري، هغه لیکي: ((پیامي ژباړه کولای شي، چې د اصلي متن د لوستونکو په شان د ژباړل شوي متن پر

لوستونکو اثر وشندي؛ خو مانايي ژباړه تر هغه پورې د اصلي متن د مفهوم د ارايه کولو زيار باسي؛ چې د مقصد ژبه يې د منلو زغم ولري.

## له ژباړې څخه ژباړه:

ځينې کتابونه چې له لومړنۍ ژبې څخه دويمې ژبې ته اړول شوي، بل ژباړن يې دريمې ژبې ته ژباړي، د بېلګې په ډول يو اثر له انګليسي ژبې څخه پارسي ژبې ته ژباړل شوی او د فارسي څخه پښتو ته وژباړل شي.

په داسې حال کې موږ بايدله دې ژباړې څخه د اصلي متن د ژباړې په څېر د مفهوم د افاده کولو هيله من ونه اوسو؛ ځکه په دې ډول ژباړه کې د ژباړې علمي امانت نه ساتل کيږي، پرته له شکه د ښې ژباړې لپاره تر ټولو غوره لار له اصلي متن څخه ژباړه ده؛ خو بيا هم د نه ژباړې څخه له دويمې ژبې څخه ژباړه هم ښه ده، چې زموږ اوسنيو ځوانانو همدې ډول ژباړې ته ډېره مخه کړې ده. خو بايد موږ د اثر د اصلي ليکوال په اړه ډېر معلومات ولرو، چې د هغه د سبک او ټولنيز چاپيريال ترمنځ همغږيتوب او د جملو او ليکنې اسلوب ته مو پام وې او د ژباړې د موضوع په اړه بايد هر اړخيز معلومات ولرو؛ ځکه چې موږ په ايراني ژباړو کې ډېرې نيمګړتياوې وينو او په ژباړه کې بيا هغه نيمګړتياوې زموږ ژبې ته راځي او په دي ډول زمونږ پيغام زيانمنيږي.

بله دا چې له لومړۍ ژبې څخه ژباړه غوره ده، په ژباړه کې خامخا تېروتنې وي؛ نو کله چې په دويمه ژبه ژباړل شوی اثر ژباړو، د نوموړې ژباړې تېروتنې به هم زموږ د ژباړې په نيمګړتياوو کې اضافه کيږي؛ په افغانستان کې ځينې کسان د اروپايي ژبو هغه مطلبونه چې ايرانيانو فارسي ژبې ته ژباړلي دي، په پښتو ژباړي،سره چې د ايرانيانو ډېرى ژباړې له ګڼو تېروتنو ډکې دي، ذبيح الله منصوري له ايران د ډېرو مشهورو ژباړونکو څخه دی، ده په سلګونه

کتابونو له فرانسوي څخه فارسي ته ژباړلي دي، د ده د ژباړو په اړه کره کتونکي وايي: چې منصور د ژباړې په وخت اعتدال نه دی ساتلی له اصلي متن سره هر جمله، هر پاراګراف او هره پاڼه چې د منصور په طبعه نه وي، نه يې ده ژباړلې او ډېر ځله يې خپلې جملې او خپل پاراګرافونه د ژباړې متن ته ور ګډ کړي دي، د ايران د نورو ژباړنکو هم دغه حال دی؛ نو په کار دی، چې لومړی؛ د اصلي ژبې څخه ژباړه وشي؛ ځکه چې د ژباړې په ژباړه کې علمي امانت او د اصلي ليکوال وينا نه ساتل کيږي او که دا کارناشونی وي، نو بيا بايد د اصلي ليکوال او موضوع په اړه ښه بشپړ معلومات ولري.

## د يوه اثر بېلابېلې ژباړې:

له هغه ځايه چې د هر انسان اخيستنه او پوهه يو له بله سره ډېر توپير لري؛نو د ژباړونکي اخيستنه هم يو له بله توپير لري، کله چې يو ژباړن کوم اثر ژباړي؛ نو هغه د خپل ليد لوري او په خپلو تورو کې نغاړي او اړوي يې، چې په دې توګه اثر بېلابېل اړخونه (بعدونه) پيدا کوي او او مانا بنسټيز توپير پيدا کوي. که دې وينا ته په کتو سره د يوه اثر ژباړه تر سره شي، د ژباړې بشپړونکې به اوسي؛ ځکه په هره ژباړه کې خامخا يو شی پاتي کيږي، که دوېم ژباړن هغه برخه راواخلي نو رښتيا ده، چې د يوه اثر دويمه ژباړه ژباړې ته بشپړتيا وربښي.

کله مې چې د ژباړې په هکله د لا ډېرو معلوماتو او سرچينو د لاسته راوړلو لپاره د انټرنټ پاڼې اړولې را اړولې، په يوه ځای کې مې د يوه لويديځ وال ژباړن په يوه لنډه ليکنه سترګې ولګېدلې، هغه ليکلي و، چې د ژباړې کار په دوو ډولونو ترسره کيږي، يواد، چې د بل چا لپاره کار کوي او دهغوی په خوښه يو شی ژباړي او بل دا چې په خپله خوښه يو کتاب يا مطلب ژباړي او

یا هم د یو خپلواك دفتر په توګه د ژباړتیز کار پرمخ بیايي، راځئ، چې د ژباړې د کار د ډلبندۍ په اړه د هغه نظر وګورو:

دکار کولو له پلوه ژباړه په دوه ډوله ده:

۱- In house Translation ژباړه

۲- Freelance Translation ژباړه

۱- In house Translation ژباړه: هغې ژباړې ته ویل کیږي، چې ژباړن د بل چا په دفتر کې د هغه د لاس لاندې کار کوي، سهار وختي په ټاکلي وخت دفتر ته ځي او بېرته د مازدیګر په ټاکلي وخت رخصتیږي او هغه شیان چې دفتر ورته اړتیا لري، هغه ژباړي، دلته ژباړن د بل مامور په څېر د دفتر په رسمي غونډو، سیمینارونو، ناستو او جلسو کې ګډون کوي او ټاکلی معاش اخلي.

۲- Freelance Translation ژباړه: هغې ژباړې ته ویل کیږي، چې ژباړن په خپله خوښه د ژباړې لپاره مطلبونه او کتابونه ټاکي، ژباړي يې او خپروي يې؛ کېدای شي، دا ډول ژباړه څوکسیزه او یا یو کسیزه وي، یانې دا ژباړه د یو دفتر په څېر چې دفتري اړوند هر څیز ولري او د یوې ژباړې د دفتر په توګه کار وکړي او هم یو لیکوال په خپله خوښه کتاب او .....په خپل کور کې ژباړي.

## په ژباړه کې د متنونو ډولونه:

د متن د بېلا-بېلو ځانګړنوله مخې په بېلا-بېلو ډولونو وېشل کیږي:

۱- د ادبي متنونو ژباړه:

د نظم او نثر په ګډون د ادبي متنونو ژباړه د لیکوالۍ او ادبیاتو په برخه کې د ډېرې پوهې درلودلو ته اړتیالري ده، ځکه چې په دې ډول ژباړه کې د

کنايو، تشبيهاتو، استعارو او د بلاغت علم ډېر او په هر ځای کې کارول کيږي؛ نو بايد ژباړن په دې برخه کې پوره پوهه ولري او بيا ژباړې ته متې بډوهي.

د ادبي اثر ژباړه بايد د فصاحت او بلاغت پر ګاڼه سينګار وي؛ په ساده او زړه راښکونکو جملو ښکلې شي،چې پر لوستونکو د پام وړ اغېز وکړي او د اصلي اثر اغېز او مفهوم په کې پاتې شي؛ نو له دې ځايه ده، چې ژباړه اصلي متن ته نژدې کيږي او علمي امانت هم په کې خوندي ساتل کيږي.

ځينې ژباړونکي په دې اند دي، چې تر ټولو ښکلې ژباړه ادبي ژباړه ده؛ ځکه چې ژباړن د خپل ذوق سره تر ټولو ښکلې انډولې کلمې راغونډوي او د مفهوم د افاده کولو لپاره يې په ترتيب سره اوډي. استاد جلالدين همای په يوه کتاب کې ليکي: ((ژباړه يو ستونزمن کار دی، بايد د يوې عربي جملې پر ځای د فارسي جمله وکاروئ، تر څو بشپړ مفهوم افاده شي، دا په دې مانا چې د يوه لوښي، څخه بل لوښي ته مانا ليږدول کيږي؛ نو حتماً به يو څو څاڅکې کم يا ډيريږي؛ نوله دي کبله د لومړنی ژبې ټولې ځانګړتياوې د مفهوم په ملتيا د اړوندې ژبې ته نه شو اړولای، ځکه چې هره ژبه بېلا-بېلې ځانګړتياوې لري او نه شو کولای؛ چې له خپلو ټولو ځانګړتياوو سره يې دوهمې ژبې ته وژباړو.

۱- مانا او مفهوم ژباړل کېدای شي؛ خو فصاحت او بلاغت دوهمې ژبې ته نه شي ژباړل کېدای.

۲- کله کله د وينا ښکلا په ځينو ځانګړو کلمو او عبارتونو پورې تړلې وي، که هغه ته انډول پيدا هم شي ؛ نو هغه ښکلا په کې نه پاتې کيږي.))

فليکس ډومايو له ادبي کره کتونکو څخه دی، دی وايي: (( د ژباړې کره کتونکي په دې باور دي؛ د ځينو ادبي اثرونو ژباړه ناشونې ده. مويتز هابت، چې په ژباړه کې يې د ډېرښت (افراط) لاره غوره کړې ده، په دې ګروهه دی: ((هېڅکله هم ژباړه مه کوئ، ځکه چې ژباړه درک وژني)).

پورتنيو اندونو او ګروهو ته په کتو سره داسې ښکاري، چې پر ادبي ژباړه بنديزلګيدلی دی؛ خو دا په دې مانا نه ده، چې په ټوليز ډول منع ده، ځينې نور انديالان په دې ګروهه دي، چې ژباړه هېڅکله نشي کولای د اصلي اثر ځای ناستې شي؛ ځکه هغه لفظي موسيقي، سجع او نور نه شي ژباړل کېدای. کوم چې په لومړنۍ کې د ليکوال له خوا په خپل ذوق او ژبنۍ ښکلا سره اوډل شوي وي.

## ۲- د علمي متنونو ژباړه:

د علمي متنونو ژباړه په اصلي متن کې د لغاتو او مسلکي اصطلاحاتو د ډېرښت د شتون له امله ستونزمنه ده او د هر ژباړن کار نه دی؛ ځکه چې له نورو ژباړو څخه بېل سبک لري، د بېلګې په ډول که يو اديب يو طبي کتاب ژباړي، په دې کتاب کې به هرو مرو طبي لغتونه او اصطلاحات موجود وي، د يوه اديب ژباړن لپاره به ډېره ستونزمنه وي، چې دا اصطلاحات دې په کره ډول وژباړي، نو ښه به داوي، چې که چېرې يو څوک علمي کتاب ژباړي؛ بايد هغه د هغه علم له ټولو علمي او مسلکي اصطلاحاتو سره پوره بلدتيا ولري يا يې پيدا کړي. وروسته تر دې په ژباړه لاس پورې کړي.

## ۳- د ديني متنونو ژباړه:

د ديني متنونو ژباړه له ډېرو نورو ژباړو په څېر لوړ استعداد او دقت ته اړتيا لري؛ ځکه چې په ديني متنونو کې الهي ويناوې، او د ستر پيغمبر (ص)

لارښوونې موجود وي او په دې ډول ويناوو او لارښوونو کې نه پاملرنه د څښتن تعالی او ستر پيغمبر (ص) په ويناوو کې نه پاملرنه ده؛ نو په دې خاطر بايد ژباړن تر ټولو هرڅه لومړی د موضوع سره پوره بلد وي او له دې سره سرهښناپې پر بديع هم وي؛ ژباړن بايد په دې پوه وي، چې اشاره او کنايه څه شی ده؟ او د ايجاز او اصناب ترمنځ پد څه دې ؟ د دغو او نورو موضوعګانو له پوهېدو پرته دې څوك د ديني موضوعګانو ژباړې ته زړه ښه نه کړي.

## ۴- د مطبوعاتي متنونو ژباړه:

مطبوعاتي ژباړه په مطبوعاتي ډګر کې د ژباړن غبربه غواړي؛ په مطبوعاتينومونو پوه وي، ځکه چې په مطبوعاتو کې ځينې اصطلاحګانې بېله مانا لري او په مطبوعاتي ډګر کې د جملو کارول د عادي او ورځنۍ محاورې سره پوره توپير لري؛نو بايد ، چې ژباړن له ژورناليستيکي اصطلاحاتو سره پوره بلد وي، په دې اړه د يوه بېل سرليك لاندې ښه بحث شوی دی، دلته يې د موضوع د اوږدوالي او تکرار له امله له بحث نه ډډه کوو.

## 5- د داستاني او نندارېزو اثارو ژباړه:

د دې ډول متنونو ژباړه د نورو متنونو سره ډېر توپير لري، هغه داسې چې کله ناکله ليکوال د خپل داستان يا ننداري يو ه برخه په عاميانه ژبه ليکي؛چې هغه داستان په زړه پورې کړي، په داسې وختونو کې بايد ژباړن د ليکوال د سبك پيروي وکړي؛ چې د داستان يا ننداري اصلي او طبعي حالت پاتې شي. په داستاني او نندارېزه ژباړه کې بايډ د ژباړې ژبه ساده، ټولپوهه وي؛ ځکه چې د ننداري ليدونکي اود داستان لوستونکي د قاموس د کتلو وخت نه لري او هم د ننداري ليدونکي او د داستان لوستونکي عام وګړي دي، دوی ته بايد

د دوی په ژبه یو شی وژباړل شي؛ چې دوی ترې خوند واخلي او د خپل ژوند په ښه والي کې ترې ګټه وکړي.

## شعري ژباړه

پښتو ژبې ته له ژباړې لړۍ د شعر پیل شوې، چې ابو محمد هاشم د خپل استاد ابن خلاد یو عربي شعر په پښتو کړی:

ژبه هم ښه وینا کاندې چې یې وینه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژبور ورله ورځي وینـــــــایې اروي؟
د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه؟

یانې د شعر لومړنۍ ژباړه هم له دغه مهاله پیلیږي، ښایي  تر دې دمخه به هم ژباړه وه؛ خو له موږ سره یې اسناد نشته، دا خبره د دې لپاره کوو، چې د هاشم زید سرواڼي دا ژباړه پخه او هنري ښکاري، لکه څنګه چې هر کار په لومړیو کې ډېرې نیمګړتیاوې لري؛ خو د هاشم زید سرواڼي دا شعر پوخ دی او زموږ ادعا یو څه سمه بریښي.

وروسته تر ابو محمد هاشم د پښتو د شعر بله پخه او کره ژباړه نه لرو، چې له هرې خوا په تول پوره وي، یا به ښایي زما نه وي تر سترګو شوې؛ خو ډېر کلونه وروسته موږ د زرغونې کاکړ د (بوستان) ژباړه د پټې خزانې په برکت تر لاسه کوو او له کتلو څخه وروسته ورڅخه د پخې ژباړې اټکل کېدای شي. زرغونې کاکړ دا کتاب په کال (۹۰۳ هجري) کې بشپړ کړی او (بوستان د پښتو) یې نومولی دی.

د دغه کتاب یوه بېلګه چې د پټې خزانې لیکوال په ادبي تذکره کې را اخیستې ده،

یو څو بیتونه یې دلته راوړو:

اوربـــــدلې مې قصه ده
چې له شاتو نه خوږه ده
د اختر پـــــه ورځ سهار
بایزید و چې نـــــامدار
له حمـــــــامه راوتلی
په کوڅه کې تېرېدلی
ایرې خاورې چا له بامه
راچپه کـــــړلې ناپامه
مخ او سر یې شو ککړ
په ایرو په خاورو خـړ

............................

همدارنګه تر دغې ژباړې وروسته د اخوند درویزه (۱۰۴۸ هجري قمري. مړ.) او د ده د پیروانو منظومې ژباړې په پښتو ادب کې خورا ارزښت لري، چې د هغو څخه د قصیده سالي پښتو ژباړه، د قصیده برده پښتو ژباړه، خلاصه کیداني او داسې نورې پښتو ژباړې یادولای شو.

پیر روښان او د هغه پیروانو هم د منظومې ژباړې په برخه کې څه ناڅه کارونه کړي دي او تر پیر روښان راوروسته خوشحال خان بابا او د هغه کورنۍ هم د پښتو منظومو ژباړو لمن په خپل وار سره ارته کړې او د ژباړې د فن له پلوه د هغه وخت ژباړه په تول پوره، برابره او کره ژباړه ده.

همدارنګه د پښتو منظومو ژباړو په لړ کې د عبدالحمید مومند کار هم د یادولو وړ دی، حمید بابا د نیرنګ عشق، شاه او ګدا او شریعت الاسلام په ژباړلو سره د پښتو ادب د ژباړې پانګه دومره رنګینه چې تر څو پښتو ادب وي، د ده ژباړه به تل پاتې او منلې وي.

د حمید بابا د نیرنګ عشق ژباړه، که څوک په دقیق ډول ولولي او دواړه پښتو او پاړسي متنونه سره په پرتلیز ډول وګوري، ښایي ګومان وکړي، چې له پښتو څخه پاړسي ته ژباړل شوی دی، تاسې ته به یې یوه بېلګه وړاندې کړو:

مـــــــــــــا چې وپیل دا دُر په باریکۍ
غـــــــــــوړو ورکړې یو تر بل مبارکۍ
چې د آب ســـــــــــړه هوایې شوله شاړه
د یـــاقوتو له بازاره ګـــــــــــــــرمي ولاړه
که څوک غواړي دا شراب حیـــرت انجام
مونده کیږي د جامي په ښکـــلي جام
شعر نـه دی دا خوناب د زخمي زړه دی
یا وتلی وروستی دم له خولې د مړه دی
د زوړا ده پـــــــه کباب د اور د پاسه
که پري دی نغښتی مخ به څـــو لباسه
یـــا نغمه د نیم بسمل مرغه د خولې ده
یـــــا مجنون ته معمی ښکلې لیلې ده
یا د وینو اباسین وهلی مـــــــــوج دی
یا لـــــه ښاره د حیرت وتلی فوج دی

ځو وهي د فکر ژامې باندې شخونـــــد
زيـــــــاتوي زما شکرې هومره خوند
نه دی کار د هر نا اهلـــــــــه بوالهوس
چې قـــــدم بږدي د دې ناوې په جوس

کله چې مولانا غنیمت د نیرنګ عشق د فارسي متن وروستۍ برخه د حمید مومند د پښتو نیرنګ عشق له وروستیو بیتونو سره پرتله کړو؛ نو له یوې خوا د حمید د کلام زور او له بلې خوا د هغه د ژباړې سبك او لار رامعلومیږي، موږ دې خبرې ته متوجه کیږو، چې حمید مومند په څومره کمال هم د متن امانت ساتلی او هم یې څومره خپل خیال آزاد پرواز ته پرې ایښی دی. مولانا غنیمت د نیرنګ عشق په پای کې دغه بیتونه او مفهومونه چې حمید مومند په پښتو ورځخه ژباړلي دي، داسې راوړي دي:

چـــــو من این گوهر سیراب سُفتم
شنیدن را مبارکبـــــــــــاد گفتم
نـــه شعر این انتخاب عشق بازیست
تراوشهای زخم جانگـــــــداریست
نـه شعر این شورش امواج خونست
حدیث از لب زخـــــــم درونست
نـــــه شعر این ناله خوبی نوایست
شکست شیشه دل را حـــــدایست
حـــــدیث عشق بود از گفتنم دور
ولی بودم بحکم امر معـــــــــذور

نیاز و نـــــاز حرف ګفتنی نیست
ګهر بس از نـزاکت سُفتنی نیست
سخن ګفتم بـــــــــامید تمیزی
ګهر سُفتم به تکـــــلیف عزیزی

خو په ټولیز ډول د پښتو ادب منظومې ژباړې په لرغونې، منځنۍ او اوسنۍ دوره کې ډېرې کمې دي، په اوسنۍ دوره کې د ژباړې بهیر ډېر تود روان دی؛ خو بیا د شعر ژباړه ډېره کمه بریښي.

د اوسنیو شعري ژباړنو په ډله کې تر ټولو ډېر ځلېدلی عبدالباري جهاني دی، چې د پاړسي، اردو او انګلیسي څخه یې ډېرې ښې ژباړې کړې دي، چې د بېلګې په ډول یې دلته څو بیتونه سره پرتله کوو:

صبحی خوش چه مست خیز ای ساقی
در شیشه کـن آن شراب از شب باقی
جـــــام می بمن اور و غنیمت میدان
این یکـــــــدمه نقر را و فردا باقی
عمر خیام

چې ښاغلي جهاني داسې ژباړلي:

ساقي پورته شه سهار دی، څه تازه نسیــــم چلیږي
چې د شپې دي، درته پاته هغه می ته مې زړه کیــږي
راته ډکه مې پیاله کړه دغـــــــه دم غنیمت بوله
دا یوه شېبه ده نغده سبا هر څـــــــه چې پېښیږي

✵ ✵ ✵

ګفتم د ګر باده ګلګون نـــــــــــــــه خورم

می خون( ا) انست د ګر خون نخـــــــــــــورم
پیر خردم ګفت بجد میګـــــــــــــــــویی
ګفتم کی مزاح میکنم چون نخــــــــــــورم
عمر خیام

مـــــــــــــا وې بیا به له جامونو سره شراب نه تشوم
سره شراب دي د تاك وینې زه به وینې څنګه خورمه
پیر د عقــــــــــــل مې ویله په رښتیا دې پرهیز وکړ؟
مـــــــــا وې ټوکې کوم پیره مې به څنګه نه څښمه

✵ ✵ ✵

ای مفتی شهـــــــــــــــــــــــر از تو پر کار تریم
بـــــــــــــــــــا این همه مستی از تو هوشیار تر یم
تو خـــــــــــــــــون کسان خوری و ما خون رزان
انصـــــــــــــــــــــاف بده کدام خونخوار تر یم
عمر خیام

اې د ښار مفتي دا واوره چې له تا نه خــــــــــــــو پر لار یو
که هر څومره مــــوږ مستان یو، بیا لا هم تر تــــــــــا هوښیار یو
مـــــــــــــــــوږ د تاك وینې څښلې ته څښې د سړو وینې
ته انصاف وکه په منځ کې چې اوس کوم یو ډېر خونخوار یو

ګورو چې د ښاغلي جهاني ژباړه هم د مانا او هم د الفاظو له ښایست برخمنه ده، که څوك یوازې د جهاني ژباړه وګوري؛ نو به ګومان ونه کړي، چې دا ژباړه ده، بلکې د اصلي او د لومړۍ ژبې د شعر مینه به یې پرې راشي.

سره له دې هم باید وویل شي، چې شعري ژباړه تر ټولو ستونزمنه ژباړه ده؛ ډېری پوهان په دې اند دي، چې شعر بیخي ژباړل کیږي نه؛ ځکه په هغه کې وزن، قافیه او موسیقي هغه توکي دي، چې ژباړه یې امکان نه لري. خو بیا هم موږ دلته په شعري ژباړه کې ځینې محدودیتونه په ګوته کړي، چې باید د دې په ژباړلو کې تر خپله وسه زیار وباسي.

## په شعري ژباړه کې محدودیتونه

لکه له مخه ورته اشاره وشوه، د شعر ژباړه ډېر ستونزمنه ده او کله خو بیخي هغه اصلي مانا نه لیږدوي؛ ځکه چې ډېر محدودیتونه شته دي، چې ژباړل یې امکان نه لري.

### د وزن، قافیې او موسیقۍ برید:

دا ټول د شعري ژباړې له محدودیتونو څخه ګڼل کیږي؛ ځکه چې شعر په وزن، موسیقۍ او کله کله قافیه متکي وي او هېڅ وخت نه شي کېدای، چې دا ټول وژباړل شي، نو له همدې کبله په شعري ژباړه کې ځینې ستونزې لیدل کیږي، خو بیا هم باید شعري ژباړه له پامه ونه غورځول شي.

### د ادبي ښکلاوو د لیږدونې برید:

له دغو ټولو ښکلاوو څخه د ګټې اخیستنې په ډول یو خو شعر ښکلا پیدا کوي او بل د شاعر مهارت ښیي؛ یانې د شعري زور ښکارندویي کوي، لکه څنګه چې په شعر کې توریه، ایهام، مقابله، جناس، تضاد، مراعات النظیر او ....وي، ژباړن دا ټول نشی ژباړلی.

شعري ژباړه نور محدودیتونه هم لري، لکه کنایه، استعاره او .. خو بیا هم د شعر ژباړه ارزښتمنه ده؛ ځکه چې د بهرنۍ نړۍ له شعري فورم او منځپانګې

ځخه باید زموږ شاعران خبر شي، تر ځو په شعر کې د موضوع تکرار له منځه لاړ شي.

## د نثر ژباړه په شعر :

دا ډول ژباړه په ادبیاتو کې یو ډول نوښت او هنر یوازې هغه کسان یې تر اودې وتللی شي، چې له شعري ذوق ځخه برخمن وي. دا ډول ژباړه ډېره دقیقه نه وي؛ خو ډېرى وخت د ژباړې د دغه ډول ځخه هم ګټه اخیستل شوې ده. لکه: پښتو منظومو ته د قرانکریم او حدیثونو ژباړه، چې د ځینو ژباړنو شاعرانو له پلوه سرته رسېدلې دي.

## د شعر ژباړه په نثر:

د ژباړې دا ډول هم کله کله د ادبیاتو په لمن کې ځان راښکاره کوي؛ هغه په داسې وخت کې چې کله د یوه لوستونکي یوه موضوع خوښه شي او هغه لوستونکی شاعر نه وي، نو غواړي چې یو شعري متن په نثر وژباړي.

## د ژباړې د اصولو او قاعدو شالید

د رنسانس په پېر (دور) کې د دنیوي او ادبي مطلبونو ژباړې تر سره کېدې، په هغه وخت کې د کلیسایي او درباري ژبې په پرتله د عامه وګړو ژبه کارېدله. د اراسموس په شان روڼ اندو له خوا پیل شوی او دا د هغه وخت (مځنۍ پېړیو) د بلاغت د اصولو په خلاف هم و.

اتین ډوله Etienne Dolet چې دهیومانیستانو ډلې یو روڼ اندی او د یوناني ژبې ډېر ښه ژباړن و، په (37) کلنۍ د ناسمې ژباړې، اپلاتون سره د

مباحثې او مذهب ته د نه ژمنتیا په له تور د خپلو کتابونو سره وسوځول شو، هغه د ژباړې لپاره یوآرونه وو، چې د ژباړن دندې په ګوته کوي:

۱- ژباړن باید د متن محتوا (منځپانګه) او د لیکوال لاره په ښه ډول سره درک کړي.

۲- ژباړن باید دلومړنۍ او دوهمې ژبې په اړوند پراخه معلومات ولري.

۳- ژباړن باید د ټکي پر ټکي ژباړې څخه ځان وژغوري، ځکه چې د اصلي ژبې د مفهوم او د دوهمې د ژبې د بیان ښکلا او جوړښت ته زیان رسوي.

۴- ژباړن باید د ویلو پرله پسې شکلونه وکاروي.

۵- ژباړن باید د کلمو په ترتیب او ټاکنه کې د اصلي متن ټولې ځانګړنې دوهمې ژبې ته ورولیږدوي.

همدارنګه د رنسانس په پېر کې د مذهبي متونو د ژباړوپرخلاف خپل ځانته ځینې ازادۍ ورکړې، چې دغه دوره د بې وفا ښکلو ( Belles Infidels) په نامه هم یاده شوې ده، د دغو ژباړنو په لومړي کتار کې ابراهام کولي (Abraham Cowley) راځي، چې ځانته یې د ژباړې په ډګر کې ځینې خپلواکۍ او آزادۍ ورکړې، هغه د یونان د کلاسیك شاعر پنډار (pindar) د شعرونو د ژباړې په اړه وایي: ((که څوك د پنډار (pindar) شعرونه ټکی پر ټکی وژباړي، داسې ښکاریږي، چې یو لېونۍ د بل لیوني خبرې کوي، نو د دې لپاره مې هغه څه چې ښه ګڼلي وو ډېر کړي او هغه څه چې ښه نه دي، لرې کړې مې دي)).

ډرایډن (Dryden) یو انګریز شاعر (1680 زیږدیز) چې د کولي همهالی ؤ او د کولي ژباړه یې د (Imitation) یا جعلي ژباړې په نوم یاده کړې ده. هغه ژباړه په درې ډوله وېشلې ده:

۱- Metapharma: په دې ډول ژباړه کې کلمه پر کلمه، عبارت پر عبارت ژباړل کیږي.

۲- paraphrase: هغه ډول ژباړه ده، چې ژباړن د اصلي متن مفهوم په نظر کې نیسي او کله کله د کره مفهوم رسولو لپاره ځینې کلمې ور ډېر وي.

۳- Imitation: چې په دې ډول ژباړه کې ژباړن نه کلمې او نه مفهوم ته وفاداره وي، یوازې د ټولیز مفهوم او مطلب په نظر کې نیولو سره ژباړه کوي، هغه هم په داسې شکل، چې په هر ځای کې یې زړه وغوښتل د مضمون په متن کې ډېرونه او کمونه وکړي. د کولي ژباړه هم د همدې دریم ډول ژباړې په ډله کې راځي.

## د ژباړې جوړښت

د ژباړې د ارونو او قواعدو په اړه مو چې کوم نظرونه بیان کړي؛ دې پایلې ته رسیږو، چې د ژباړې کار له دوو برخو جوړ دی:

۱- د اصلي متن د مفهوم او پیغام موندل

۲- د اصلي متن د لیکوال سبک موندل

لومړنۍ برخه د مفهوم او دویمه برخه د سبک ده، چې دواړه له یوې بشپړې ژباړې څخه عبارت دي. بشپړه ژباړه یانې د اصلي متن د مفهوم او د اصلي لیکوال د سبک بیا ویلو یا لیکلو په مانا ده.

په لومړنۍ برخه کې باید د اصلي متن مفهوم په اصلي ډول بلې ژبې ته ولیږدول شي، تر څو ژباړن د اصلي متن د مفهوم لیږدولو ته ژمن پاتې شي او په بله برخه کې ژباړن باید د اصلي لیکوال سبک ولولي او ویې پېژني، تر څو داسې ونه شي، چې عامیانه ګړدود ته د لوستي ژبه ورکړي او کومیډي متن ته تراژیدي بڼه ورکړي، د انډولو کلمو ټاکنه باید د اصلي لیکوال له سبک سره

وشي، تر څو د ليکوال سبک خوندي شي او په ژباړه کې د امانت ساتلو اصل مراعات شي.

په لنډ ډول ويلی شو، لکه څنګه، چې د يوه ښه خبر ليکلو لپاره ځينې پوښتنې شته د يوې ښې ژباړې لپاره هم بايد ځينو پوښتونو ته ځواب ووايو:

۱- آيا د اصلي متن مفهوم رسول شوی دی؟

۲- آيا د اصلي ليکوال لحن خوندي پاتې دی؟

۳- آيا ژباړن د اصلي متن ځانګړې او متناسبه ژبه موندلې؟

۴- آيا په ژباړه کې د انډول په توګه کره او دقيقې کلمې ټاکل شوي دي؟

۵- آيا د لومړۍ ژبې (TL) ګرامر په پام کې نيول شوی دی؟

۶- آيا د غونډلو (جملو) په اړولو او اوډلو کې د اصلي ليکونکي دکلام اوږدوالی په پام کې نيول شوی؟

۷- آيا د ليکنې يا د ليکوالۍ نښو او علامو ته پوره اهميت ورکړل شي؛ يانې په خپل ځای کارول شوي دي؟

## د ژباړې بنسټونه The basics of Translation

1- اصلي متن دې د ټوليز درک او اصلي فهم لپاره دوه يا درې ځلې ولوستل شي.

2- د هغو لغاتو په مانا چې نه پوهيږي، هغه بايد ياداشت کړي او پېچلې جملې يې بايد په وړو جملو تجزيه شي، چې اصلي مانا ته ورسيږي.

3- د لغاتو د پيداکولو لپاره دې د هغې ژبې منل شوی قاموس وګوري؛ يانې د عبارتونو او اصطلاحګانو د پيدا کولو لپاره دې د اصطلاحګانو قاموسونه او دنومونو او تاريخونو او نورو حقيقتونو د پوهېدو لپاره اړوندو اثرونو ته مخه وکړي.

4- ژباړن باید د هرې کلمې لپاره اړونده مانا پیدا کړي، نه دا چې په قاموس کې هره مانا پیدا شي هغه وکاروي، ځکه یو لغت تل د لاندینیو څلورو ماناوو څخه برخمن وي:

۱- لغوي یا فرهنګي مانا Lexical Meaning

۲- تخنیکي یا علمي مانا Technical Meaning

۳- اصطلاحي یا لهجوي مانا Idiomatical Meaning

۴- ګرامري مانا Grammatical Structure Meaning

د بېلګې په توګه د انګلیسي ژبې د Wood کلمه را اخلو، دا کلمه د اسم په حالت کې د لرګي مانا ورکوي، کله چې لومړی توری (W) یې غټ ولیکل شي، د شخص نوم شي، کله چې یې په پای کې (S) راشي، (Woods) د ځنګل مانا ورکوي او د فعل په بڼه د کرنې مانا ورکوي.

همدا ډول د (Spring) کلمه، په اسمي حالت کې د کال لومړی فصل، فنر او د اوبو د چینې په مانا هم راځي، د فعل په بڼه د خیز یا ټوپ وهلو په مانا راځی، چې په لاندي جملو کې یې کتلای شو:

The cat spring on the rat

پېشو پر موږک ور ټوپ کړ

I have lost the spring of my watch

ما د خپل ساعت فنر ورک کړی دی.

۱- ښایي د اصلي متن یوه اصطلاح له ژباړې ژبې د یوې اصطلاح سره یو ډول مانا ولري، یانې له پورتنیو ځانګړنو سره سره ورته مانا ولري.

۲- ښایي یوه اصطلاح د بلې ژبې په اصطلاح واړوو، چې ورته مانا افاده کړي. په داسې حال کې ؛ چې سبکي او عاطفي ماناېې هم وساتل شي، خو د

خيال او ټکي پر ټکي مانا يې بدلون ولري، يانې د ټکي پر ټکي مانا يې سره توپير ولري.

۳- ښايي يوه اصطلاح په هماغه سياق او جوړښت سره له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته وژباړو، په دې دليل، چې په دويمه ژبه کې بله داسې اصطلاح شتون ونه لري، چې مستقيماً مجازي مانا افاده کړي. په داسې وخت کې ژباړن بايد له پنځوګونو ځانګړنو څخه کار واخلي او ډېرى په ټکي پر ټکي ځانګړنې زور واچوي.لکه د انګليسي ژبې دا اصطلاح:

People who live in glasshouses should not throw stones.

هغه وګړي، چې په ښيښيي کورونو کې ژوند کوي، بايد تيږې ونه ورو ي .

۴- په پاى کې که ژباړن له پورتنيو دريو څخه له يوې لارې هم ونه شي کولاى چې اصطلاح وژباړي، هغه بايد د مقصد په ژبه کې د هغې اصطلاح تشريح وکړي، تر څو لوستونکو ته مفهوم په سمه توګه ورسوي.

۵- وروسته له دې چې لغاتو ته مو دقيقې مانا پيدا کړې وې؛نو دموضوع په ژباړه جمله په جمله او يا پراګراف په پراګراف پيل کوو . په دې مرحله کې بايد پاملرنه وشي، چې دجملو يا پراګرافونو ترمنځ رابطې په سمه توګه وساتل شي . دپراګراف په پراګراف ژباړې لپاره بايد:

الف: پراګرافونه بايد دقيق ولوستل شي ؛چې په ماناوو يې په سمه توګه پوه شو.

ب: وروسته بايد دپراګرافونو جملې په لنډو جملو واړول شي اوڅه شي را نه مبهم تېر نشي.

ج: په دريېم پړاو کې بايد هره جمله په بېلا-بېلوتوکونو وويشل شي.

د: دپراګراف اصلي مطلب یا د پراګراف په سر کې وي او یا په پای کې.
ددغه اصل مطلب په پام کې نیولو او دګرامري دستورونو په رڼا کې په ژباړه لاس پورې کړئ

۶ -دېرمختللو هیوادونو دعلمي او تخنیکي اثارو دژباړې په وخت کې کېدای شي له داسې لغاتو او اصطلاحاتو سره مخ شو، چې دهغه معادل په خپله ژبه کې ونه لرو؛ نو لازمه ده هغه لغات کټ مټ راواخیستل شي اوبیا په اړوندلیکلرودله مفهوم سره الخط ولیکل شي او یا په دواړو بڼو په لومړنۍاودریمه ژبه ولیکل شي.

۷ -کله داسې هم پېښېږي، چې په قاموسونو کې دلغت سم ځواب نه تر لاسه کیږي ؛نو په دې وخت کې باید تر ټولو نژدې مانا لغت ته غوره شي او دمانا تر څنګ اصلي لغت په خپله بڼه هم راوړل شي تر څو لوستونکی له ابهامه خلاص کړي.

# د ژباړې پړاونه Steps of Translation

## لومړی پړاو: د لغاتو ژباړه Translation of Words

د ژباړې په ډګر کې تر ټولو لومړی پړاو شمېرل کیږي؛ ځکه چې ژباړن هغه متن؛ چې غواړي ویې ژباړي باید هغه له پیله تر پایه پورې په کره او دقیق ډول ولولئ. دا لوست په دې مانا نه دي، چې د متن څخه دې څه زده کړي؛ بلکې په دې مانا دي، ژباړن پوه شي، چې په ټول متن کې یې څومره او کوم لغات نه دي زده او د هغو د مانا ترد پیدا کولو لپاره اړوندو قاموسونو ته مراجعه وکړي، باید د لغتونو د مانا پیدا کولو وروسته د لغت اصلي مانا ته ځیر شي او په کومه مانا چې په اصلي متن کې کاربېدلې، ژباړن باید هغه په

هغمهغه مانا وکاروي، یو لغت څو ماناوې لري، چې په هر ځای او هر وخت کې یې مانا توپیر کوي: لکه د انګلیسي ژبې د Present کلمه چې د حاضر، ډالۍ او معرفي کولو په مانا ده.

She was present in the class (د حاضر په مانا)

My father gave me a present on my birthday (د ډالۍ په مانا)

She wished to present him to her mother (د معرفي کولو په مانا)

## دویم پړاو:

د اصطلاحاتو ژباړه Translation of Expressions

ژباړن باید دې ټکي ته په پام سره؛ چې اصطلاحات په یوه لیکنه کې ډېر لوی او د رسا مانا لیږدونې رول لوبوي؛ نو باید د اصطلاحاتو په ژباړه کې له ځیرکۍ او دقت څخه کار واخلي، ځکه اصطلاحات ډېر پیچلي او لوی مفهوم ساده او لنډو جملو کې رانغاړي او زموږ لیکنه د اصطلاحاتو له امله د خپلې ژبې د کلتور او وینا دود سره نژدېوالی پیدا کوي او د لوستونکو پر ژبه خوږه او په ذهن یې مثبت اغیز کوي. اصطلاحات داسې یو شی دي، چې د ژبې ټول ویونکي ورسره بلد دي او د لوستلو او اورېدلو سره یې مینه ښیي.

د ژبپېژندنې نظریې داښیي، چې ګړنه پنځه مانیز اړخونه لري، چې هره یوه یې د ژباړن سره د مانا په لیږد کې مرسته کوي او په لاندې ډول دي:

۱- مجازي مانا Figurative Meaning

۲- ټکی پر ټکی مانا Literal Meaning

۳- عاطفي ځانګړنې Emotive Characters

۴- سبکي ځانګړنې Stylistic Registers

۵- ملي او قومي رنګ National Coloring

د اصطلاحګانو تر ژباړلو وروسته د اوږدو جملو وېش دې، اوږدې جملې باید په لنډو جملو وکښل شي او وروسته تر هغه دې وژباړل شي؛ ځکه د اوږدو جملو ژباړه ګډه وډه او بې خونده راځي او هم د ګرامري چوکاټ له اودې وځي، په کار ده، چې لوېې او اوږدې جملې په وړو جملو ووېشو او دویمې ژبې ته یې له ګرامري او جولیز جوړښت سره سم وژباړو؛ ځکه د هرې ژبې ګرامري او شکلي جوړښت یو له بله سره توپیر لري؛ لکه: یوه پښتو جمله انګلیسي ته اړوو:

زه د دې چوکۍ پروا نه لرم.

I am not shut and open to this chair.

ناسمه ژباړه

I don't mind this position/ I am not dependable on this position.

پورتنۍ ژباړه سمه او کره ده؛ځکه د انګلیسي ژبې د ګرامري قاعدو سره سم د پښتو څخه واړول شوه.

او یا لکه په یوه ځای کې د پښتو دا اصطلاح انګلیسي ته په داسې شکل اوښتې وه:

لاس دې تر کرزي خلاص.

Your hand is open up to Karzai

چې دا ډول ژباړه نه دا چې مفهوم لېږدوي؛ بلکې د دویمې ژبې ویونکي یا لوستونکي هېڅ مانا ترې نه شي اخیستی او د هغوی د خندا وړ هم ګرځي.

د انګلیسي ژبې یوه بله اصطلاح را اخلو او پښتو ته یې ژباړو:

Bob is your uncle.

باب ستا کاکا دی. ناسمه ژباړه

کار دې جوړ دی. سمه او کره ژباړه

او په سلګونو نورې داسې اصطلاحګانې او اوږدې جملې؛شته چې د هغو په ژباړلو کې باید له دقت څخه کار واخیستل شي.

## د ژباړې لپاره چمتوالی

د ژباړې فن درېیو څیزونو ته اړتیا لري:

۱- په مورنۍ ژبه لاسبری

۲- په بهرنۍ ژبه لاسبری

۳- د دواړو ژبو د ګرامري قاعدو د توپیر پېژندنه

**۱- په مورنۍ ژبه لاسبری:** له دې سرلیك څخه زموږ موخه د مورنۍ ژبې بېلابېل اړخونه دي، لکه ګړنیره (شفاهي) ژبه ده لیکلې ژبې سره توپیر لري، د ملګرو او نورو دوستانو سره خبرې اترې د نورو رسمي خبرو اترو یا هم وینا سره ډېر توپیر لري، سیمه ییز ګړدودونه له یو او بل سره توپیر لري او د سیمه ییزو ګړدودونو د لغتونو اوډنه د رسمي خبرو اترو لغتونو د اوډلو سره توپیر لري، همدارنګه د کلاسیکو او زړو نثرونو او نظمونو ترمنځ توپیر شته دی؛ د یوه ملګري لیك د رسمي لیکونو سره ښکاره توپیر لري، یوه پوهنتوني رساله د ښونځي له لیك سره جوت توپیر لري.

په یوه هېواد کې یوازې د زیږېدنې او د هغه هېواد په ژبه پوهېدنه د دې ادعا پوره ثبوت نه دي، چې په هغه ژبه ښه لاسبري ده؛ بلکې هغه وخت موږ دا ادعا کولای شو، چې د هغې ژبې په ګرامري جوړښت، سبکي ځانګړنو او د ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو نه په لا ډېرو اصطلاحګانو، ترکیبونو، لغتونو، ادبي فنونو او دهماغې ژبې په ژبنیو جوړښتونو پوره پوه وو او دا ډول برلاسي توب دقیقې مطالعې او لازمو مهارتونو ته اړتیا لري.

**۲- په بهرنۍ ژبه لاسبرى:** کوم ټکی مو چې د مورنۍ ژبې په اړه یاد کړل؛ هغه د بهرنۍ ژبې په اړه هم سمې کوي؛ خو د بهرنۍ ژبې په معنوي ذخیرو باندې پوهېدل یو څه وخت او کار غواړي؛ تر څو د هغې ژبې په ادبیاتو، تاریخ، جغرافیه، ادبونو، رواجونو، ټولنیز حالت، سیاسي او اقتصادي حالت او هم د ژوندانه په ټولو اړخو کې پوهه لاس ته راوړي، او د ژباړې په ډګر کې د استعارو، تعبیرونو او اصطلاحګانو په ژباړلو کې په بریالیتوب سره خپل کار ترسره کړي.

**۳- د دواړو ژبو د ګرامري قاعدو د توپیر پېژندنه:** لکه څنګه چې ځینې ټولنې، ملتونه، هېوادونه او نور سره ورته احساسات او ورته د پوهېدنې ځواک لري، خو سره له دې هم په ډېرو برخو کې ډېر توپیرونه لري، ځکه چې هر تمدن په هروخت  او هر محیط کې خپلې ځانګړتیاوې لري، چې د جملو، اصطلاحګانو او ټاکلو لغتونو په کالبونو کې خپل توپیریز اړخونه ښکاره کوي، د بېلګې په توګه د یوې ژبې د یوه لغت څخه لفظاً مانا اخیستل سم کار نه دی، ځکه چې لغت او اصطلاح ځانته په جمله کې بېله مانا لري  او خپله د موقیعت او حالت له مخې بدلوي، نو ژباړن ته په کار دي، چې پر دغو ټولو اړخونو او شیانو پوه وي، تردچې د ژباړې په ډګر کې د تېروتنو ښکار نه شي؛ لکه د انګلیسي ژبې د تعجب او حیرانتیا حالت، د بېلابېلو نومونو لکه خدایه؛ او نور.

Good heavens!    Holy Moses!    By Jove!

په داسې حال کې چې موږ په پښتو ژبه کې (پاکه ربه!) ، (یا خدایه!) (اې خدایه!) (عجیبه ده!) او نور وایو.

یو بل توپیر ته هم موږ باید پوره پاملرنه وکړو، هغه د یوې ژبې د لغتونو بیلابیلې ماناوې دي، چې په هرځای او هر متن کې بېله مانا ورکوي. دغه بیلابیلې ماناوې ډېری په کومیډي لیکنو کې تر سترګو کیږي او که څوک د لومړنۍ ژبې د لغتونو له مانوو سره پوره بلد نه وي، نو په ژباړه کې به ډېرې نیمګړتیاوې ولري. د بېلګې په ډول: د شکسپیر دکومیډي ژباړل ډېر ستونزمن کار دی، چې ډېری وخت د شکسپیر د اصلي کلام ظرافت له منځه ځي.

دا ډول ډېر توپیرونه د مورنۍ او بهرنۍ ژبې د کلمو، جملو، ساده او مرکبو جملو، تشبیه ګانو، ضرب المثلونو او متلونو ترمنځ لیدل کیږي، خو ښه ژباړن د دغو مفهومونو او د لیکوال د لیکنو سبک ته په کتو سره د بهرنۍ ژبې څخه په داسې ډول ژباړه کوي، چې د اصلي لیکوال د لیکنې سبک او امانت په کې خوندي پاتې شي.

## څوک باید ژباړه وکړي؟

پرته له افغانستان څخه په نوره ټوله نړۍ کې د ژباړې لپاره منظم ارګانونه او ټولنې شته، چې ارزښتمن کتابونه راټولوي او ژباړي یې، هلته ژباړن د خپلې پوهې، مینې او ذوق سره سم کتاب ژباړي او یا هم خپرندویه ټولنه د ژباړن مینې او پوهې ته په کتو سره کتاب ورکوي او وروسته تر ژباړلو یې چاپوي، خو زموږ په ټولنه کې دا کار سرچپه دی، د ژباړن څخه بې ځایه غوښتنې لرو؛ لکه: هغه څوک چې له ادبیاتو سره مینه لري او پښتو ناولونه ژباړي ورته ویل کیږي، چې پښتو ناولونو ته هېڅ اړتیا نه لري، ته باید قاموس ولیکې یا هم بل لوی علمي کتاب وژباړې، چې ټولنې ته یې ګټه ډېره ده.

که چېرې هر ژباړن د خپلې خوښې او ذوق له مخې ژباړه وکړي، پایله به یې ډېره ښه وي، که د ادبیاتو یو لېوال کس مجبورو، چې علمي کتاب

وژباړي یا یې ولیکي، ښایي د یوه بل پوه او په دې مسلك كې د وارد كس په كچه یې ښه ونه ژباړي.

په هره برخه کې خلك شته، چې د خپل مسلكي مهارت او ذوق له مخې باید هڅه او هاند وکړي، که د ریاضي ښوونکی یو کتاب ولیکي یایې وژباړي، ښایي ډېر معیاري یې وژباړي، خوکه کوم ادیب دا کار وکړي، چې د بیولوژي کتاب وژباړي، نو ډېرې تېروتنې به ولري.

که ډاکټر د طب اړوند کتاب ولیکي او یایې وژباړي، هم به د ډېرو تېروتنو او نیمګړتیاوو مخه ونیسي او هم به تېرې تېروتنې که وي سمې او اصلاح شي او که دکوم ډاکټر مینه له ادبیاتو سره ده که هغه په دې اړه کتاب ژباړي باید مخه یې ونه نیسو، ځکه چې دا د هر چا د ذوق او مینې کار دی او هرڅوك له خپل ذوق، پوهې او مینې سره کتاب لیکلی او ژباړلی شي.

ژباړن ته موږ باید قاعدې او معیارونه وړاندې نه کړو، باید پرېږدو، چې له خپلې مینې او ذوق سره سمکار وکړي او په خپله خوښه د ژباړې لپاره کتاب وټاکي، خو په دې شرط چې د ژباړې په اړه وضع شوې تیوري له پامه ونه غورځوي.

لکه څنګه چې زموږ اوسني کول د ژباړې لمن ډېره ټینګه نیولې او دا کار یې ډېر د ستایلو وړ هم دی، خو په دې شرط چې لومړی باید دوی د ژباړې له ټولو اصولو سره ځان بلد کړي او بیا دې په ژباړه لاس پورې کړي، هغه ځکه چې اوسمهال داسې ژباړې هم تر سترګو کیږي، چې د اصلي لیکوال نوم نه لیکي او دا کار د ژباړې د اصولو خلاف کار دی، څوك چې لیکنه لولي هغه باید پوه شي، چې د چا لیکنه لولي، لیکوال یې څوك دی؟ په کومې ټولنې پورې اړه لري؟ او داسې نور.

بل داچې زموږ اوسنی ژباړونکي ډېری له پاړسي څخه هغه کتابونه ژباړي، کوم چې ایرانیانو د نورو ژبو څخه ژباړلي وي، کله چې کتاب وژباړي د لومړي ژباړن نوم نه لیکي او دا هم د ژباړې د اصولو خلاف کار دی، لومړی خو دې ډېر هڅه وشي، چې د لومړی ژبې څخه دې ژباړه وکړي، که داسې نه وي، نو د لومړني ژباړن نوم هم باید ورسره راشي، تر څو لوستونکی پوه نه شي، چې دا له ژباړې ژباړه ده.

## د ژباړن د پام وړ:

پردې سربېره ، چې یو ژباړن وبنایې پر دوو ژبو لاسبری ولري، هغه باید له لومړنۍ ژبې څخه د دویمې ژبې ته د مفهومونو د لېږدولو وړتیا ولري، باید د هغو اصولو او پرنسیپونو پابند واوسي، چې نور وګړي د هغو په عملي کولو سره د ښه ژباړن صفت ځان ته ګټلي دی. د دغو اصولو ځینې برخې ذوقي دي او د څېړنې وړ نه دي، خو ځینې قاعدې او لارې شته دي، چې د یوې ښې ژباړې لپاره اړینې دي او هغه پر لاندې ډول دي:

۱- د ژباړې له موضوع سره پوره بلدتیا:

لکه څنګه چې، مخکې وویل شول د بریالۍ او ښې ژباړې لپاره باید ژباړن د ژباړې له موضوع سره پوره بلد وي، هغه د یوه عالم خبره ژباړن باید په اړوندې موضوع کې د لیکوال هومره پوهه ولري او په دواړو ژبو کې د تبحر څښتن وي.

په همدې اړه د لویدیځې نړۍ یو اندیال داسې وایي: (( د کوم ژباړن پوهه چې له اصلي لیکوال څخه ډېر نه وي، په ژباړه دې لاس نه پورې کوي. ))

۲- د مبدا او مقصد ژبې د اصطلاحاتو سره پوره بلدتیا او آشنایي:

اصولاً په هره برخه کې ځینې داسې قراردادونه شته ، چې د همغې ژبې ویونکي پر همغه اصطلاح باندې پوهیږي او په عین حال کې ښایي د بلې ژبې ویونکي پرې پوه نه شي. ژباړن باید د دواړو ژبو په اصطلاحګانو پوه وي او د هغو په اړه پوره معلومات ولري.

ځکه چې د اصطلاحګانو ژباړه یانې ټکی پر ټکی ژباړه مانا نه ورکوي، ژباړن باید هغې اصطلاح ته تر ټولو نژدې انډول اصطلاح یا مانا پیدا کړي،چې هغه مفهوم په کره توګه افاده کړي. د دې لپاره چې د اصطلاح د کره ژباړې په ارزښت پوه شئ، غواړم یو مثال تاسې ته وړاندې کړم:

((د غوايي لاندی)) د پښتو ژبې یو ناول دی، دا ناول چا په اردو ژباړلی دی، اردو ژباړه یې (ګای کې نیچهې) یانې د غوايي لاندې ده، نو له دغه ځایه ده، چې ژباړن باید لومړی د دغې اصطلاح په اړه پوره معلومات تر لاسه کړي وای او بیا یې په اردو ژباړلی وای، ځکه چې دا ټول ناول په همدې موضوع چورلي، که د کتاب نوم او اصلي توک سم ونه ژباړل شي، نو ټول ناول به بیخي بې مانا وي.

ژباړن باید ځان د دواړو ژبو د اصطلاحاتو سره پوره بلد کړي، تر څو د دغسې لویو تېروتنو مخه ونیول شي.

۳- په ژباړه کې د امانت مراعاتول (له هر ډول کمښت او ډېرښت څخه ځان ژغورل)

د ژباړې د اصولو اړخ یو بل هم امانت ساتل دي او له هر ډول ډېرښت او کمښت څخه ډډه په کار دي، چې له بده مرغه په اوسني وخت کې د دغه اصل مراعاتول ډېر لږ تر سترګو کیږي. ژباړن باید اصلي لیکوال د یوه رښتیني استازي په توګه د اصلي لیکوال د سبک او موضوع ساتنه وکړي.

ژباړن باید د اصلي لیکنې آهنګ ته غوږ شي او د اصلي متن د لوستونکي په توګه دې د متن آهنګ او جملو ته غوږ شي او زیار دې وباسي چې په ژباړه کې هم دغه امانت خوندي وساتي، هاغه د یوه عالم خبره ژباړه باید داسې وي، لکه اصلي لیکوال چې په دې ژبه باندې هم دا اثر لیکلی وي.

۴- له منل شوي قاموس څخه ګټنه(استفاده) او پر خپلې حافظې له اعتبار کولو څخه ډډه:

له یو ښه او وړ قاموس څخه ګټه اخیستل د ژباړې د اساساتو په لړ لیك کې ځان ښکاره کوي، ژباړونکی باید له هغه څخه په هر ستونزمن لغت کې ګټه واخلي. نه دا چې یوازې په خپلې حافظې متکي وي او یوازې د متن بشپړونکی وي. باید د لغتونو اصلي مانا ته هم پام وشي، ډېری ژباړونکي ځان قاموس ته ایل نه ګڼي او له ځانه د لغت مانا جوړوي دا ډول خپلسري لغت جوړونه د ډېرې ژبنۍ ګډوډۍ لامل کیږي او دوهمې ژبې ته ناسم مفهوم لیږدوي، نه یوازې دا کار د اصلي لیکوال سره جفا ده، بلکې په خپلې یانې دوهمۍ ژبې سره هم ستره زیاتې ده.

## ۵- د کتاب د سرلیك په ژباړلو کې دقت:

د ژباړل شوي کتاب سرلیك باید د اصلي کتاب له سرلیك سره توپیر ونه لري، کېدای شي، ځینې ژباړونکي د کتاب د خرڅلاو، بازار موندنې او نورو موخو لپاره د مقصد په ژبه کې د کتاب سرلیك ته بدلون ورکړي.

د مطلب د سمې پوهې لپاره د یو ایراني ژباړن یو یادښت را اخلو: هغه وایي،(( څه موده مخکې مې یو عربي کتاب چې نوم یې (رحله بالقطار) و، تر سترګو شو، وروسته تر لوست مې خوښ شو او د هغه کتاب پر ژباړه مې پیل وکړ کله یې چې دکتاب ژباړه مې پای ته ورسوله، همغه کتاب مې په یوه

نندارتون کې د (عروسی در قطار) تر سرلیک لاندې ولید، په ډېره بیړه مې راواخیست، چې ومې لوست هماغه زما ژباړل شوی کتاب دی، چې یوازې یې نوم ته د بازار موندلو لپاره له لږ بدلون سره ژباړلی دی او اوس اوس هماغه کتاب د (دختری در قطار) په نامه هم ژباړل شوی او ښه په پراخه کچه خپور شوی دی، زما یادونه له دغو دواړو څخه دا ده، چې د دغو دواړو وروستیو کتابونو د سرلیک ژباړه د اصلي کتاب له سرلیک سره نژدې ده خو انډوله مانايې نه ده. د دې لپاره ژباړن د موضوع او وینا په منځپانګه او سرلیک کې د ډېرښت او کمښت حق نه لري او د ژباړن دنده یوازې هماغه کلمو ته انډول پیدا کول دي، نه په منځپانګه کې ډېرښت او کمښت.

## ۶- د اصلي لیکوال عمر، جنس او شخصیت ته پاملرنه:

ژباړن باید په دې پوه شي، چې د چا د خولې خبرې ژباړي، آیا ویناکوونکی او لیکوال یو عادي وګړی دی او که یو علمي او سیاسي شخص دی، نارینه دي او که ښځینه، کوچنی ماشوم؛ ځوان او که مشر دی. ځکه د هر یوه د کارونې جملې سره توپیر لري، که په رښتیني ډول ځیر شو، نو په ژباړه کې د دغو ټکو په پام کې ساتل کې ډېر اړین دي.

۷- په ژباړه کې د تکراري مترادفو کلمو د کارولو مخنیوی:

ژباړن باید زیار وباسي،چې د مبدا ژبې د هر لغت لپاره د مقصد په ژبه کې یو انډول پیدا کړي، ځکه چې که د مترادفو کلمو شمېر له طبیعي حالت څخه ووځي، نو د کتاب د حجم د ډېرېدو لامل کیږي؛ لکه د انګلیسي ژبې (Smart) ته موږ باید ذخیرک هوښیار، ښایسته او نور ونه لیکو باید له دغو څخه د جملې مطابق یو لغت وټاکو تر څو د کره مانا د لېږد سبب وګرځي او هم د لوستونکي د ستړیا سبب نه شي.

## ۸- د اصلي متن د جملو له لرې کولو څخه ډډه:

د اصلي متن یا مطلب څخه د جملو لرې کول له اصلي لیکوال سره ستره جفا ده له همدې امله په ژباړه کې د جملو لرې کول ښه نه برېښي، خو که د جملې د روانۍ لپاره دا کار وشي، د منلو وړ ده پرته له دې چې د جملې د مانا د حذفولو تکل یې کړی وي، ځکه چې د مانا امانت ساتل په کار دي او ډېرونه او کمونه د اصلي لیکوال کار دي، نه د ژباړن.

## ۹ـ په ژباړه کې د مانوسو کلمو کارول:

په ژباړه کې باید داسې کلمې وکارول شي، چې لوستونکي په ګډوډو سر نه کړي او هغوی ته د پوهېدو وړ وي، نه دا چې له ځانه غلط لغتونه جوړ شي او په ژباړه کې وکارول شي، چې لوستونکي به یې پرته له ایسته غورځولو بله لار نه غوره کوي.

## ۱۰- د اصلي لیکوال او د لیکنو په اړه یې پوهه او ورسره مینه درلودل:

دلته مینه په دې مانا کاروو، چې د هغه له ټولو حالاتو سره پوره بلد وي؛ یانې په کوم وخت، په څه ډول شرایطو کې دا اثر منځ ته راغی؟ او باید د لیکوال د فکري یون په اړه هم پوه وي، تر څو د اصلي مفهوم روح ته ورننوځي، که د کوم لیکوال یو مشهور اثر ژباړو باید د هغه لیکوال نور اثرونه مو هم لوستي وي او د هغه اندود او لیدلوری مو ځانته معلوم کړی وي.

ژباړن باید د اصلي لیکوال دهېواد په ټولیزو حالاتو او حاکمې فضاء څخه پوره خبرتیا ولري، تر څو د دوو هېوادونو په دودونو او د اصلي متن په فکري او مفهومي یون باندې پوه شي او د ښې ژباړې لپاره لار پرانیزي.

که یو څوك د یو هېواد د لیکوال یو اثر ژباړي، خو ژباړن د هغه لیکوال د هېواد د حاکم نظام او د هغه هېواد د وګړو په اړه نه پوهېږي، نو خامخا ده، چې ژباړن به په تیارو کې ګام واخلي، د بېلګې په ډول که یو څوك د پښتو ژبې یو اثر بلې ژبې ته ژباړي او هغه د اسد د ۲۸ په اړه پوهه ونه لري، هغه نه شي کولای چې هغه مطلب په کره توګه بلې ژبې ته واړوي، همدا ډول که د اردو ژبې یو ناول ژباړو او په هغه کې د (۱۴) اګست یادونه شوې وي، او د دغې ورځې په اړه نه پوهېږو، موږ ته به د نورو ورځو په څېر ورځ وي، خو د اصلي لیکوال لپاره ځانګړې او ښه ورځ ده، چې د پاکستان د آزادۍ ورځ ده.

## ۱۱- پردویمه ژبه د لومړۍ ژبې اغیز:

کله ناکله د مقصد ژبه د مبدا ژبې تر دومره ډېر اغیز لاندې راشي، چې سړی د مبدا او مقصد ژبې ترمنځ پاتې شي او بیخي یوه درېیمه ژبه ورته ښکاري او کله کله د مقصد پر ژبه دومره ګرامري او عبارتي اغیز کوي، چې د مقصد ژبه د مبدا سره ګډوي او دا کار ډېرى د ټکي پر ټکي ژباړې پایله ده، ځکه چې په دې ډول ژباړه کې ژباړن د هر لغت لپاره انډول لغت پیدا کوي، له همدې ځایه ده، چې د مبدا ژبې نحوي جوړښت او ګرامري قواعد د مقصد پر ژبه کې ورګډېږي او هغه متن د بندښت او تېروتنې سره مخ کوي.

د پاړسي څېلې، اردوڅېلې او انګلیسي څېلې ژباړې څخه ډډه وکړئ، په ژباړه کې یو بل مهم ټکی دا دی، چې ژباړونکی باید په خپله ژبه کې‌ د دود لغت پر ځای د مبدا ژبې لغت و نه کاروي، کله کله داسې هم کیږي، چې ځینې ژباړن د هر ډول لغت لپاره له ځانه پښتو لغت جوړوي، په داسې حال کې چې هماغه لومړنی لغت به زموږ په ژبه او ټولنه کې عام وي، خو د دوی

په مقابل کې داسې ژباړن هم شته، چې د عربي، دري، پاړسي، اردو او انګليسي ژبو شهلو لغتونو په کارونه کې دومره ډېرښت کوي، چې لوستونکي شکمن ا و دوه زړی شي، چې دا اثر د پښتو ژبې دی او که د پاړسي، انګليسي او يا د يوې ګلهې ژبې اثر دی، نو بايد له دې ډول ډېرښت، کمښت او نيولوګيزم څخه ځان وژغورو او بالاخره يوه منځنۍ لاره غوره کړو تر څو زموږ ټولو هېوادوالو ته د پوهېدا وړ وي.

## ۱۲- له غير فصيحې ژباړې څخه ډه ډه کول:

دلته يو بل ټکي ته اشاره کوو، هغه دا چې که ژباړن په ژباړه کې ډېر عاميانه او د کوڅې خبرې وليکي، نو د ژباړن کار ګټې پرځایزيان کوي او په ليکنه کې د هغو کلمو ليکلو ته هېڅ اړتيا نه ليدل کيږي؛ لکه راډيوو، کمپوټر، کلم، سپنږی او ..... کلمو کارول په ژباړه کې بې خونده بريښي او له علمي او کلتوري ارزښت څخه يې غورځوي. نو بايد په ژباړه کې د دې ډول کلمو څخه ډډه وشي.

## ۱۳- په ژباړه کې زماني واټن:

ژباړه په بېلابېلو مهالونو کې له يو او بل سره په بشپړه توګه توپير لري، ځکه دا وړاندېز به غوره وي، چې له ژباړې د بشپړتيا وروسته بايد د څه مودې لپاره کېښودل شي او وروسته له څه مودې بيا راواخيستل شي او بيا ولوستل شي. د ژباړې لوستل په بېلابېلو مهالونو کې ژباړه په تېروتنې او غلطۍ څخه ژغوري او د ژباړې د پوخوالي لپاره تر ټولو غوره لاره هم ده.

## ۱۴- په ژباړه کې د روح او احساس منعکسول:

د متن د ژباړلو او انډول پيدا کولو وروسته د کلمو اوډل دي، تر دې پړاو وروسته د ليکوال د احساس په څرګندولو او بيا نولو کې دقت کول له ژباړې

د مهمو برخو څخه ګڼل کیږي، ځکه چې په ژباړه کې د دې سوال د ځواب د پیدا کولو ترځنګ چې لیکوال څه وايي؟ باید په دې پوه شو، چې څه ډول یې وايي؟ ژباړن باید د لیکوال روح او روان ولولي د لیکوال په روح او روان ځان پوه کړي او د ژباړې له لارې یې نورو لوستونکو ته ولېږدوي. ځو کاله وړاندې به یوازې د لیکوال د وینا ژباړه کېده او اوسمهال سربېره پر دې چې د اصلي لیکوال وینا وژباړل شي، باید په دې هم پوه شو، چې اصلي لیکوال خپله وینا څه ډول بیانوي؟ د اصلي لیکوال د وینا د بیان طرز د مقصد ژبې ته لیږدول هم د ژباړن له مهمو کارونو څخه شمېرل کیږي.

د بېلګې په ډول که د یوه لیکوال یو عاطفي ناول ژباړل کیږي، هغه باید په عاطفي جملو او عبارتونو وژباړل شي، نه په حماسي. همداسې که حماسي ناول یا لیکنه ژباړل کیږي، باید حماسي توري په کې وکارول شي، نه عاطفي، تر څو مطلب، مفهوم او احساس په کره او سمه توګه د بلې ژبې لوستونکو ته ولېږدوي.

## د ښې ژباړې لپاره ځینې لارښوونې

د هرې ژبې ویونکي اړ دي، چې د نورو ژبو د ویونکو له تجربو او پوهې څخه ګټه واخلي او دهغو د پرمختګونو او بریاوو تر سیوري لاندې ځانته د بریاوو لارې جوړې کړي او دا بریاوې یوازې او یوازې د ژباړې له لارې تر لاسه کیږي، چې زموږ نوی کهول هم دې ارزښت او اړتیا ته په کتو سره د ژباړې لمن نیولې او نن سبا خو د ژباړې کار ښه په ګړز روان دی، کله کله ډېره مینه هم سړی خرابوي، هغه داسې چې ډېری نوي ځوانان له ژبې سره د مینې له کبله؛ پرته له دې چې د ژباړې په هکله ځان پوه کړي، د ژباړې اساسات ولولي، د ژباړې کولو په اړه پوهه ترلاسه کړي، د ژباړې په ستونزمن

کار لاس پورې کوي، چې کله کله دا ګټه په ډېر سخت زيان تمامه شي او په ژبې کې ګډوډي رامنځ ته کوي، حتا ژبه ماتوي او بې خونده کوي يې، چې په اوسمهاله ژباړو کې کله نا کله دا کار تر سترګو کيږي. راځی د دې کار د مخنيوي لپاره يو څو ټوليزې لاربشوونې په پام کې ونيسو، چې په راتلونکې کې د داسې ستونزو څخه ځان وژغورو او خپله ژبه له داسې ګډوډۍ او د نيمګړو ژباړو له سېلاب څخه خوندي کړو.

۱- تر هر څه مخکې بايد د ژباړې لپاره داسې اثر وټاکل شي، چې د اسلامي او افغاني ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي او د ټولنې اړتياوو ته په کتو سره يو اثر يا مقاله خوښ کړای شي او وروسته تر يو لړ نورو مرحلو يې پرژباړلو ژباړې لاس پورې کړي.

۲- ژباړونکی بايد د ژباړې په چار کې د تنبلۍ څخه کار ونه خلې، هغه بايد په ډېر دقت او غور سره دغه چار پرمخ بوځي، تر څو د ګلالۍ ژباړې په کولو سره خپله ژبه ښايسته او بډايه کړي.

۳- هغه څوک چې په ژباړه کې ډېر کاري شاليد نه لري، هغه بايد هرومرو خپله ژباړه يوه پوخ ليکوال ته وښيي، تر څو د هغه له خوا وارزول شي او کره شي، ځکه چې د تېروتنو او غلطيو سمونه په لومړيو کې په اسانۍ سره کيږي او په وروستيو کې له دې ډول تېروتنو څخه ځان وژغوري.

۴- که چېرې په اصلي متن کې د داسې لغت سره مخ کيږئ، چې انډول پيدا کول ورته ډېر ستونزمن وي او يا هم په ژبه کې ورته انډول نه لرئ، نوبه راصورت کې ژباړن بايد له پوهو کسانو او ژبپوهانو سره په دې اړه مشوره وکړي، چې په هر لغت يې سلا راغله، هغه دې وليکي او اصلي لغت دې

ورسره په لینډیو کې ولیکي، تر څو د لوستونکو د سمې پوهېدا سره مرسته وکړي.

۵- ښه ژباړه هغه ده، چې په ورځنۍ محاوره برابره وي، نه دا چې له ځانه جوړ شوي توري په کې وکارول شي او هغه بیا ژباړې ته اړتیا پیدا کړي، دا کار یوازې دانه چې لوستونکي له دې ډول اثر یا ژباړو له لوستلو بېزاره کوي، بلکې د هغې ژبې د اثارو له لوستلو یې هم بېزاره کوي.

۶- ټکی پر ټکی ژباړه سمه او خوږه نه راځي، لوستل یې ستونزمن او ستړې کوونکي وي، د دې پر ځای چې ټکی پر ټکی ژباړه وشي، لومړی باید د (SL) مبدا ژبې متن دوه یا درې ځلې ولوستل شي، ځان ښه پرې پوه کړي، بیا دې په خپل ذهن کې د خپلې یا (TL) مقصد ژبې د ګرامري اصولو او ژبنۍ قواعدو سره سم پراګراف جوړ کړي، تر څو لوستونکي په دې پوه نه شي، چې ژباړه لولي او د ښې ژباړې تر ټولو منلی اصل هم همدا دی.

۷- د بلې ژبې درانه او شاډل لغتونه دې په خپله ژبه کې نه راوړي، مبتدا او خبر دې یو تربله نژدې وي، اوږدې جملې او د کلمو بې ځایه تکرار د متن خوند له منځه وړي او لوستونکي یې له لوستلو ستړي کوي.

۸- د بلې ژبې د لغت لپاره ټکی پر ټکی لغت جوړول هم سم نه بریښي؛ لکه د دري ژبې (لب دریا) د (سیند پر شونډه)، د پاړسي ژبې (دستت درد نه کند) په (لاسونه دې درد ونه کړي)، د انګلیسي ژبې (Watch dog) د (کتونکي سپي) په مانا ټکی پر ټکی وژباړي.

کله کله په ځینو لغتونو کې دا ډول ژباړه سمه مانا ورکوي، خو په ټولیز ډول دا کار سم نه دی، باید په دویمه ژبه (TL) مقصد ژبه کې ورته په هماغه مانا انډول وپلټل شي او په متن کې وکارول شي.

۹- بله دا چې په پښتو ژبه کې د فعلي جملې اوډل داسې دي، چې لومړی فاعل، مفعول او فعل راځي، د عربي، دري، پاړسي او انګلیسي سره ډېر توپیر لري، ځکه باید له ټکي پر ټکي ژباړې څخه ځان وساتو.

۱۰- په ژباړه کې بې اړتیا د بلې ژبې لغت راوړل هم په ژباړه کې بې خوندوالی او پیکه توب رامنځ ته کوي، لکه اوسنۍ اردو ځینې، پاړسي ځینې او انګلیسي ځینې ژباړې چې بې اړتیا په کې د اصلي ژبې لغتونه ښه تراځرګندیږي ، همدارنګه له بلې ژبې څخه کټ مټ ژباړل شوي ترکیبونه هم ژباړه بې خونده کوي، په همغه ماناډخپلې ژبې له قواعدو سره سم اندول او ترکیب پیداشي.

۱۱- ژباړن باید د اصلي اثر د لیکلو د زمانې په لغاتو او اصطلاحاتو پوره خبر وي او هم باید د اصلي لیکوال د ټولو ټولنیزو شرایطو، حالاتو، ژوند او نورو په اړه پوره معلومات ولري.

۱۲- په کومه څانګه یا برخه کې چې ژباړه تر سره کیږي، ژباړن باید د هغې څانګې له ټولو علمي او نورو اصطلاحاتو او کلمو سره پوره بلدتیا ولري.

۱۳- ژباړن باید د پراخې مطالعې څښتن وي.

۱۴- ژباړن باید لیکوال وي او دلیکوالۍ په ټولو اصولو خبر او پوه وي.

۱۵- د خاصو نومونو، هېوادونو، ښارونو، سیندونو او نورو نومونه دې ونه ژباړل شي؛ لکه چې یوه ژوندۍ بېلګه یې اوسنیو ټلویزونو لوکې هغه د دوی پر وینا تر ټولو مشهور ټلویزون کې مې سپورټي خبرونه ننداره کول، چې د هماغه ټلویزون یوه ویاند د ژباړې پر مهال (King) چې د یوه لوبغاړي نوم دی، په (پاچا) ژباړلی و، چې دا کار د ژباړې ټول ارزښت له منځه وړي، باید

نومونه او نور په هماغه تلفظ یوازې د تورو په بدلولو په خپله ژبه ولیکي. د (King) نوم بایدپه (کینګ) ولیکو.

۱۶- کله ناکله د (SL) اصلي ژبې او (TL) دویمې ژبې چاپېریال سره توپیر لري او په دې چاپیریالي توپیر کې ډېر نور شیان دي، چې په یوه ټولنه کې وي او په بله ټولنه کې هغه بیخي نه وي؛ لکه د ځینې ګلانو او خواړو نومونه، چې زموږ په ټولنه کې بیخي نه وي او په غربي ټولنه کې شته وي.

د بېلګې په ډول د اروپایي خواړو لکه: Hotdog, Pizza, chali, pic او نور. دا باید په هماغه تلفظ د دویمې یا مقصد (TL) ژبې په تورو ولیکل شي او بیا دې د دې په اړه توضیح ورکړل شي.

۱۷- په انګلیسي ژبه کې ځینې نومونه په لنډ ډول لیکل کیږي؛ لکه: (UN)، (UNAMA)، (UNDP) او داسې نور، چې دا باید په اصلي مانا، لکه ملګري ملتونه (UN)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) وژباړل شي او که تر څنګ یې انګلیسي توری په غټو تورو ولیکل شي، نو لا به ښه شي.

۱۸- همدارنګه ځینې عسکري اصطلاحات دي، چې د هغو ټکی پر ټکی ژباړه مانا نه ورکوي او موږ په خپله ژبه کې ورته نومونه لرو؛ لکه:

| پښتو | پاړسي | انګلیسي |
|---|---|---|
| مارشال | --- | Marshal |
| ډګرجنرال | سپهبد | Lieutenant General |
| تورن جنرال | سر لشکر | Major General |
| برید جنرال | ----- | Brigadier General |
| ډګروال | سرتیپ | Brigadier |

| | | |
|---|---|---|
| ډگرمن | سرهنگ | Colonel |
| جگړن | سرگرد | Major |
| تورن | سروان | Captain |
| بريد من | ستوان | Lieutenant |

۱۹- د علمي رتبو لپاره هم موږ په پښتو ژبه کې نومونه لرو، چې بايد د انگليسي يا پاړسي د نومونو پرځاى وکارول شي، نه دا چې د هغو څخه دې وژباړل شي.

| پښتو | پاړسي | انگليسي |
|---|---|---|
| پوهاند | استاد | Professor |
| پوهنوال | استاد يار | Associate Professor |
| پوهندوى | دانشيار | Assistant Professor |
| پوهنمل، پوهنيار، پوهيالى | مدرس | Instructor |

۲۰- د پوهنتون د هر ټولگي د محصل لپاره بېلې کلمې شته دي، چې بايد هغو ته هم پام وشي.

| پښتو | انگليسي |
|---|---|
| د پوهنتون د لومړي کال محصل | Fresh man |
| د پوهنتون د دويم کال محصل | Sophomore |
| د پوهنتون د درېيم کال محصل | Junior |
| د پوهنتون د څلورم کال محصل | Senior |

۲۱- په ځینو تاریخي لیکنو کې تاریخي نومونه، د پیغمبرانو نومونه او یا هم د مشهورو وګړو نومونه راځي، چې هره ژبه ورته بېل نوم لري.
یو څو نومونه په پښتو او انګلیسي کې:

| پښتو | انګلیسي |
|---|---|
| موسی | Moses |
| شیث | Seth |
| داود | David |
| یحی | John |
| سلیمان | Solomon |
| اسحق | Isaac |
| یوشع | Joshua |
| الیاس | Elijah |
| مریم | Mary |
| ساره | Sarah |
| عیسی | Jesus |
| یعقوب | Jacob |
| یوسف | Joseph |
| یونس | Tonah |
| ایوب | Tob |
| اسمعیل | Ismael |
| حوا | Eve |

| | |
|---|---|
| نوح | Noah |
| شعیب | Jetro |
| ابراهیم | Ibrahim |
| ادریس | Enoch |
| مسیح | Christ |
| لوط | Lot |
| آدم | Adam |
| هارون | Aaron |
| خضر الیاس | Elias |

۲۲- د شخصیتونو نومونه، چې په افسانو، کیسو او نورو تاریخي لیکنو کې راځي. لکه:

| پښتو | انګلیسي |
|---|---|
| چنګیز | Genghis |
| ګوډ تیمور | Jarnerlane |
| زردشت | Zarathustra |
| افلاطون | Plato |
| بطلیموس | Ptolemy |
| اقلیدس | Euclid |
| دارا | Darius |
| سکندر | Alexander |
| ابن سینا | Avicenna |

| | |
|---|---|
| ارسطو | Aristotle |
| بقراط | Hippocrates |

۲۳- د ځینو هېوادونو نومونه، چې په نورو ژبو کې یې نومونه توپیر لري، لکه:

| پښتو | انګلیسي |
|---|---|
| یونان | Greece |
| انګلستان | England |
| مصر | Egypt |
| هندوستان | India |
| اردن | Jordan |
| قاهره | Cairo |
| مجارستان | Hungary |
| المغرب | Morocco |
| بیت المقدس | Jerusalem |

۲۴- دیوې ښې ژباړې لپاره یوه بله ځانګړنه، دنثر د ښکلا په نظر کې نیول دي،ژباړن باید،له کومې ژبې څخه ،چې ژباړه کوي، هڅه وکړي، چې دمتن ښکلاپېزه تومنه زیانمنه نه شي.

او داسې نور....

ژباړونکی باید د ژباړې پر مهال دغه دوه اړخونه هم په پام کې ونیسي:

۱- د لوستلو اړخ

۲- د لیکلو اړخ

**۱- د لوستلو اړخ:** کله چې په یوه کانفرانس یا غونډه کې د چا خبرې نیغ په نیغه ژباړل کیږي، نو ژباړن باید د خبرو کوونکي اصلي مقصد اورېدونکو ته په ډاګه کړي او د ویناوال اصلي پیغام دې اورېدونکو ته ولیږدوي.

**۲- د لیکلو اړخ:** کله چې د یو چا لیکل شوی متن ژباړل کیږي؛ نو ژباړن باید د لوستونکو د پوهې کچه هم په نظر کې ونیسي، ځکه ښایي دا ژباړه هر ډول وګړي ولولي، چې د پوهې کچه یې یو له بله سره توپیر ولري، نو په کار ده، چې ژباړن باید د لیکنې منځنۍ لاره په پام کې ونیسي، هر څوک یې د پیغام څخه اخیستنه وکړي او همدا ډول د اصلي لیکوال د مفهوم او مطلب په لیږدونه هم بریالی شي.

په ژباړه کې دې او دېته ورته نورو مسلو په پام کې نیولو سره کېدای شي، چې تر لوستونکو ښه، روانه، له مانا ډکه او خوندوره ژباړه ورورسیږي.

## دوبله او ژباړه( Dubbing & Translation)

دوبله او ژباړه د هنر هغه دوې څانګې دي، چې د تاریخ په اوږدو کې له مثبتو او منفي دواړو غبرګونونو سره مخ شویدي. یو وخت ژباړه د اصلي اثر د مسخ کولو په مفهوم کارول کېده، ژباړن او ژباړه د اصلي لیکوال او اصلي اثر تباهي بلل کېده، خو وروسته د پوهې او ټکنالوژۍ په پرمختګ سره دغه الواک تغییر وموند او ژباړې او ژباړن یو ځانګړی مقام ورخپل کړ.

په سینمایي نړۍ کې د فلمونو دوبلې د ژباړې څېره ورخپله کړه، په دې مانا، څومره، چې په پیل کې ژباړه ځپل شوې او ټکول شوې وه، دوبله هم په همغه برخلیك اخته شوه، خو کله، یې،چې د هنر د یوې اغیزناکې څانګې په توګه ځان جوت کړ، اغیز او رغنده توب یې هم جوت شو .

دوبله نژدې اویا کاله وړاندې د اسیاپه لویه وچه کې دود شوه، دغه کار دومره چټک شو، چې په ډېر لږ وخت کې یې د کلونو کلونو مزلونه ووهل . ددوبلې دغه پرمختګ له نیوکو سره مل و، ډېریو کره کتونکو دوبله د اصلي نښیرونو جعلي بڼه بلله ، هغوی استدلال کاوه، چې دوبله په هیڅ صورت هم خپله اصلي بڼه نشي ساتلای.

د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې دوبله دود نه ده، خو هغوی د فلم په ښکتنۍ برخه کې د کرکټرونو او پېښو ژباړه راوړي. دغه ژباړه که له یوې خوا له لیدونکو سره د فلم په پوهېدا کې مرسته کوي، بل خوا د لیدونکو ټول حواس پر ژباړه او د توریو پر تشخیص بوختوي. کله، چې د انسان حواس پر توریو او ټکیو راغونډیږي، حتمي ده، چې تصویر او فلم به د لیدونکو په وړاندې خپل رښتینی رسالت او ارزښت له لاسه ورکوي. په دوبله کې د ژباړونکو کمزوري د فلم اصلي منځپانګې ته وژونکې ضربه رسوي. د جملو ناسم اوډون او د اصطلاحګانو کټ مټ ژباړه د دوبلې او دوبله والو ټولې خوارۍ په اوبو لاهو کوي.

## د اصلي اثر امانت:

په دوبله کې د اصلي اثر امانت او خوندیتوب تر ډېره بریده ناشونی بریښي، دغه ناشونتیا په دوبله شویو فلمونو کې ښه ترا تر سترګو کیږي، کولای شئ خداګواه او نورو پښتو دوبله شویو فلمونو ته مراجعه وکړئ. په هرحال موږ که چېرې یو بهرنی فلم پښتو ته ژباړو، ټولنې، دین، مذهب او دودونو ته په پاملرنې سره اړیو د ځینو صحنو په دوبله کې ګوتوهنه او تصرف وکړو او دغه تصرف بیا په خپل وار سره اصلي اثر تر پوښتنې لاندې راولي. زموږ ټولنیز دودونه او دیني ارونه د فلمونو روغه دوبله نشي زغملی، دوبله کوونکي

اړ دي، دغو ارونو او دودونو ته په پاملرنې سره د فلمونو ځينې برخې لرې يا په بله بڼه و ژباړي. په فلم کې بېخونده ژباړه ، د ناسمو غږونو غوراوی، بېځايه سکته ګي، د صحنو بېځايه غوځول، د شاليد ( Back ground) د غږ نشتوالی يا دمتن د موسيقۍ پرې کول فلم او دوبلې ته ستر زيان اړوي.

## غږ او د احساساتو درک :

د اصلي کرکټر له غږ سره د دوبله کوونکي د غږ ناسمي ليدونکي له دوبلې بېزاره کوي. دوبله کوونکی بايد د اصلي کرکټر په کردار، حرکاتو او احساساتو کې ډوب او په يوه داسې حالت کې واقع واوسي، چې ليدونکي يې د اصلي کرکټر په توګه وپېژني.

الن دلن، مشهور فرانسوی هنرمند وايي: ″ ډېری فلمي ادارې ددوبلې پر ارزښت نه پوهيږي او يو فلم په يوه ورځ دوبله کوي، په داسې حال کې، چې دوبلران د فلم د اصلي کرکټرونو پېژندنې او د هغوی د احساساتو او رواني حالاتو درک ته اړتيا لري او که دغه احساسات درک نه کړای شي، دوبله به د فلم ماهيت ونه ساتلای شي."

## روغ ډيالوګ:

د فلم ډيالوګ ليکنه او بيا د ډيالوګونو غښتلتيا او له ګونګتيا پرته دوبله د دوبلې په برياليتوب کې ستر رول لوبوي. کله، چې يو څوک ډيالوګ ليکي، يا يې ژباړي، بشپړ وخت او پر اصلي اثر پرله پسې کار ته اړتيا لري او که بيړه پرې وشي ښايي ډېرې ګونګې او سختې صحنې له څېلمې حذف يا بدلې کړي، دغه کار ددې لامل ګرځي، چې د فلم او نندارچي ترمنځ ټينګېدونکي اړيکي بېرته له منځه لاړ شي .

دوبله په حقیقت کې د هنرمندۍ یوه څانګه ده، دوبلران باید په خپل وجود کې د هنرځانګړنه و پالي، دوبلران باید دا وړتیا ولري، چې د اصلي کرکټر په حس او حالاتو کې ډوب شي، غم او خوښۍ درک کړای شي او ډیالوګ یې له اصلي حالتونو سره توپیر ونه کړي .

## پښتو اوسنۍ دوبله :

ګلان و ځنډېدل، خداګواه او ځینې نورو فلمونو د دوبلاژ په برخه کې نړیوال دود معیارونه تر ډېره بریده خوندي ساتلي، خو اوسمهالو دوبله یېزو چارو نه یوازې دا،چې دغه بهیر له ګواښ سره مخ کړی، بلکې د دوبلې د اصولو د مسخ کولو یوه شعوري هڅه هم ده. دسکسي فلمونو، دمسټربین او ځینو هندي لوبغاړو پېښورۍ دوبله ددغه کار روښانه بېلګې دي. دا او دې ته ورته نورې دوبلې د کیفیت او کمیت له مخې د دوبلې په اډانه کې نه راځي، ځکه په دغو پوچو دوبلو کې نه یوازې دا،چې د لوبغاړو پر شخصیتونو ملنډې وهل کیږي، بلکې د یوه شریر سیاسي غرض له مخې پر ولسونو او فرهنګونو هم د ملنډو هڅه کوي .

موږ کولای شو، لومړی هغه معیاري فلمونه پښتو ته دوبله کړو، چې له پښتون تاریخ او پښتون کولتور سره تړاو مومي. خداګواه ( دوبله) ددغو فلمونو غوره بېلګه ده، دغسې فلمونه که موږ پښتو ته دوبله کوو ،نندارچیان مو د پښتو فلم د لیدو احساس کوي او دغه احساس یې د یوه لوړ او هنري خوځښت ترڅنګ ذوق ته هم بدلون ورکولای شي. په دویم ګام کې موږ هغه فلمونه دوبله کولای شو، چې تاریخ او لوړ رومانتیک داستانونه بیانوي. تاریخ او رومانس د فلمونو اړینه برخه ده او دغه برخه کولای شي د نندارچیانو شعور او زړه راښکون روښانه وساتي. د نړۍ د شهکارو فلمونو دوبله به تر ډېره

بریده د پښتو سینما د نندارچیانو او سینمایي لوبغاړو تګلوریو ته بدلون ورکړي .

## سکالو (موضوع) (Subject)

سکالو او سوژه ټاکنه د هر هنري ژانر او اثر بنسټ جوړوي، کله، چې بنسټ اوم او بېخونده وي، هرڅه ورسره شړېږي. پښتو فلم دسکالو له مخې یوه تکراري بڼه ورخپله کړې او تل په یوه دایروي چوکاټ کې پرمخ ځي، دایروي چوکاټ پیل او پای دواړه لري، چې د اوج ټکی یې ببرته پیل ته راځي او پیل یې ببرته له صفره پیلوي، ترڅو، د پرمختګ دغه بڼه بدله نشي تر هغو به یې وده هم ناشونې وي .

که چېرې موږ د ټولنې منځ ته ننوځو، په سلګونو داسې بکرې سکالوګانې به ومومو، چې د فلم او ډرامې لپاره به یوه شهکاري بڼه ورخپلوي. پښتو فلم له پیله تر ننه په تکرار، کلیشه او مضخرفو څیزونو کې راښکیل دی، قلم او کلاشینکوف، انتقام، د سپي لکۍ، ملنګانو سره مه چیړه....هغه فلمي سرلیکونه دي، چې باذوقه مینه وال یې پر لیدو د شرم احساس کوي او که نه، نو په نړۍ کې خو په راز راز سکالوګانو ډېر فلمونه او ډرامې جوړې شوې دي، چې د هغو فلمونو او ډرامو په دوبلاژ او ژباړلو سره به د پښتو ډرامې او فلم اوسني بهیر ته نوې بڼه ورکړو او زما په اند د دغه کار لپاره یوازینۍ لاره ژباړه او دوبله ده او دا کار به زموږ د پښتو فلمونو او ډرامو نندارچیان هم ډېر کړي، ځکه ډېری فلم جوړوونکي سر ټکوي، چې پښتانه سینما او سینماوالو ته په ښه سترګه نه ګوري او دغه کار ددوی د فلمونو د پرمختګ مخه ډب کوي؛ دا سمه ده، چې پښتانه ،سینما او سینماوال ښه نه بولي، خو دابايد ومنو، چې پښتون ولس پرهنر عقیده لري او که چېرې دغه ګروهه او عقیده ورسره

نه وای نود پښتو موسیقی‌او هنر جنازه به مو لا د وخته پورته کړې وای. پښتانه به په کومو سترګو هغه فلمونه ګوري، چې په هغو کې د پښتون قوم سپکاوی کیږي، هغه فلمونه به څنګه پښتنو کورنیو ته ورسیږي ، چې پښتنې خویندې پکې لوڅې یا نیمه لوڅې ګډول کیږي. پښتو( پیښوري – ؟ننګرهاري) فلمونه که سر تر پایه وګورې، پر ځان له ملنډو پرته به هیڅ پکې ونه مومې .

پورتنیو یادونو ته په پاملرنې سره کولای شو، د خپل سینمایي بهیر لاره بدله کړو او د تګلارو د بدلون، لیکنۍ ژباړې او دوبلې له لارې یې په سیستماتیکه توګه د ودې لاره پرانېزو .

زما په اند په اوسمهالي پېر کې تر ټولو غوره لاره داده، چې په پیل کې د بهرنیو فلمونو پښتو لیکنۍ ژباړې او دوبلې ته مخه کړو، په دې توګه به موږ وکړای شو د خپلو نندارچیانو ذوقونه بدل کړو او په تدریج سره پښتو فلم ته یوه نوې بڼه ورکړو، چې هم معیار راخپل کړو او هم پښتانه ذوقونه خړوب کړای شو.

## د ژباړې اړتیا

ژباړه د هرې ژبې لپاره د یوې سترې روزونکې او مرستیالې په کچه ارزښت لري، هره ژبه د ژباړې په مرسته ژوندۍ پاتیږي او هم په هر ډګر کې خپل ځانته د پرمختګ لار اواروي، کومې ژبې چې اوسمهال د پرمختللو ژبو په کتار کې راځي، د هغوی د پرمخیون عمده لامل ژباړه ده، اوس ډېر ملتونه دومره ویښ شوي او د ژباړې په ارزښت دومره پوه شوي، چې د نړۍ هر ارزښتمن کتاب د چاپ سهله لاسه دلاسه خپلې ژبې ته ژباړي.

په دې برخه کې غواړم لږې او ډېرې ځانګې په ګوته کړم، چې زموږ لیکوال او ژباړونکي باید په دې برخه کې کار وکړي، تر څو زموږ خوږه ژبه پښتو له دې خوارځواکۍ څخه راووځي او د نړۍ په مطرح او پرمختللو ژبو کې ځان د سیالۍ جوګه حس کړي.

## په پوهنیز (علمي) ډګر کې د ژباړې اړتیا:

د هرې ژبې غښتلتیا، بشپړتیا او لرغونتیا د هغې ژبې له پوهنیز شالید څخه جوتیږي، په نړۍ کې هغه ژبې پراخ ملاتړ او دود لري، چې پوهنیزه پانګه یې بډایه وي او ویونکي یې بلې ژبې ته اړونه وې، په لنډو کیسو، ناولونو او نورو ژبه نه علمي کیږي، ښایي د نثري غنا او فرهنګي بډاینې لپاره ګټور وي، خو د علمي کېدو لپاره نګه پوهنیزو اثرونو ته اړتیا لیدل کیږي، موږ وایو، چې په پوهنتونونو کې دې زموږ درسونه په پښتو ژبه وي، لومړی باید موږ په پښتو ژبه کې علمي یا پوهنتوني کتابونه ولرو، بیا دې د دې دعوه وکړو، چې موږ ته دې په پوهنتون کې زموږ په ژبه درس راکړل شي، له بده مرغه پښتو د پوهنیزو اثرونو په برخه کې خواره ده، بلکې هېڅ نه لري، زموږ استادان، لیکوال پوهان او ژباړونکي باید په دې برخه کې ډېر کار وکړي، هغوی باید هڅه وکړي، تر چې ډېر علمي کتابونه خپلې ژبې ته راوژباړي، ځکه چې زموږ پوهان یو بد عادت لري، کله چې دوی زده کړه وکړي او د اثر د پنځولو جوګه شي، هغه بیا پښتو ژبې ته اثر نه ورکوي، بلکې په بله ژبه یې لیکي، نو یو بل پښتون ژباړن باید هماغه کتاب بېرته خپلې ژبې ته راوژباړي، زموږ دغه پوهان دې په دې پوه شي، چې هېڅکله هم په بله ژبه کې هغه درنښت نشته کوم چې په خپله ژبه کې شته او نه به د بلې ژبې

ویونکي همدغه لیکوال په درانه نوم یاد کړي، دوی باید په دې پوه شي، چې لومړی خپله ژبه بیا بله.

له نېکه مرغه په دې وروستیو کې د ځینو استادانو، لیکوالو او نورو له خوا ځینې علمي کتابونه لیکل شوي دي، چې د بېلګې په ډول د هضمي جهاز انډوسکوپي (ډاکټر محمد شریف ظریف)، طبي مایکرو بیولوژي، بهیج طبي قاموس، بهیج فلسفي قاموس او داسې نور، چې د راتلونکې لپاره ډېر ښه زیری دی.

په پوهنیز ډګر کې چې کله ژباړن له ستونزو سره مخ کیږي، هغه د ځینو پوهنیزو کتابونو د ژباړې پر مهال د یو شمېر اصطلاحګانو ژباړه ده، چې په خپله ژبه کې ورته انډول نه لرو، ځکه تر دې مهاله کوم اصطلاحي قاموس نه لرو، چې د فلسفې طب، اقتصاد او اړوند توکي په کې ژباړل شوي وي.

اوس که یو څوک علمي لیکنه پښتو ته راژباړي، له ډېرو داسې اصطلاحګانو سره مخ کیږي، چې په مانا به یې نه پوهیږي، یا به یې هم په پښتو کې انډول توری نه مومي، نو اړ دی، چې له ځانه ورته توری جوړ کړي، چې دغه کار هم یو ډول پاشلتیا ته لاره اواروي. په دې برخه کې تر ټولو غوره خبره داده، چې د نویو تورو د جوړونې پر ځای دې هغه اصطلاح کټ مټ راواخیستل شي، که له ځانه ورته توری جوړوي، هغه دې په لیندکیو کې راوړي. که چېرې کله کومه اصطلاح زموږ په ژبه کې ډېرې توضیح ته اړتیا درلوده، ژباړن دې دا کار په لمن لیک کې وکړي او یوه بله ډېره مهمه خبره دا چې په ټولیز ډول دې په ژباړه کې هېڅ ډول زیاتونه او کمونه ونه شي، ځکه چې یو خو امانت په پام کې نه ساتل کیږي او بل دا چې د پوهنیزو اثرونو علمیتوب له منځه ځي، باید پوره پام ورته وشي، ځکه

بې ځایه ځرګندونې او پېچلتیا پوهنیزه لیکنه نوره هم بدرنګه کوي، هسې خو هم پوهنیزې لیکنې هر وخت خوند نه لري او انسان ژر ستړی کوي، خو که متن، ښکلی، روان او ساده وژباړل شي، کېدای شي، تر ډېره کچه د لوستونکي د ستړیا او ذهني تېښتې مخه ونیسي.

زموږ ژباړونکي او لیکوال باید همدا اوس متې رابډ وهي او زموږ د ژبې دغه تشه ډکه کړي، تر څو زموږ د ادعاوو د عملي کولو لپاره یو علمي دلیل او مرسته پیدا شي.

## په ټولنیز ډګر کې د ژباړې اړتیا:

په یوه انساني ټولنه کې مېشت وګړي یو او بل ته لازم او ملزوم دي او همدغه لازم او ملزومتوب انساني ټولنه پالي او له ړنګېدو یې ساتي.

کله چې څوک غواړي د بل چا په اړه خبرې وکړي او خپلې ښې بیان کړي لومړی باید د نورو ژبو، ملتونو، دودونو، کلتور او پوهې له ځرنګوالي ځان خبر کړي او دهغوی په تجربه کې خپلې ټولنیزې اړیکې او نورې بشپړې او ځواکمنې کړي.

په پښتو کې هم باید د نورو هېوادونو د ټولنیزو اړیکو او ټولنیزو دودونو اړوند کتابونه راوژباړل شي، په دې توګه به هم د نورو هېوادونو له ټولنیزو تجربو څخه ګټه اخیستلای شو، هم به د یوې داسې نوې ټولنې بنسټ اېښوولای شو، چې د نېکمرغۍ او سعادت لپاره به یې په خپله هڅه کوو.

دا چې پښتانه دومره وروسته پاتې دي او په نړۍ یا نورو ملتونو کې دومره مطرح دي، تر ټولو عمده لامل یې دا دی، چې ټولنیزې اړیکې یې کمزورې دي، تر اوسه د پښتنو د ټولنیزو  چارو کوم اړوند کتاب په انګریزۍ نه دی ژباړل شوی، چې نړۍ یې ولولي او ترې خبرشي.

په ټولنیز ژوند کې ژبه هغه وخت غوره رول او خپل بشپړ مسؤلیت تر سره کولای شي، چې پوهاوی راپوهاوی پرې اسانه کیږي، همدغه راز ښه زېرمه او بنسټ ولري، که چېرې ژبه د ژباړې په برخه کې بهرنی ملاتړ ونه لري او ځواك ورکوونکې سرچینه یې کمزورې وي امکان لري، خلك د یو او بل د پوهونې لپاره د نورو ژبو له ادبي، فرهنګي، هنري او ټولنیزو لغتونو څخه کار واخلي، خو که چېرې یوه ژبه د خلکو ټولې ژبنۍ اړتیاوې ځوابولای شي، خلکو ته هم هوسایي وربښي او د دې ترڅنګ د ټولنیز ژوند نظام هم روغ او رمټ پاتې کیږي. د د غو ټولو مثبتو ګټو د لاس ته راوړلو او منفي اغېزو د لاسه ورکولو لپاره باید په ټولنیز ډګر کې زموږ ژباړونکي ډېر کتابونه په خپله ژبه وژباړي، چې د نورو له زېښاکه خلاص شو او زموږ د ټولنیزو اړیکو په هکله دې په بله ژبه کتاب ولیکل شي، چې زموږ په اړه د نورو بې ځایه خبرې دروغ ثابتې شي او نړیوالو ته زموږ اصلي څېره معلومه شي.

## په فرهنګي ډګر کې د ژباړې اړتیا:

دومره کلتوري ارزښتونه او معیارونه چې په پښتو او پښتنو کې شته، په ډېرو لږو قومونو کې به وموندل شي، په کوم قوم کې تر شریعت وروسته ناغه شته؟، په کوم قوم کې جرګه او مرکه شته؟، په کوم قوم کې د مشرانو له خوا د روغې جوړې نه ماتېدونکي څلي او نرخونه جوړ شوي؟ پښتانه بډای کلتور لري او شتمن خو به ځکه وي، چې ډېرې کلتوري مسالې یې له اسلام سره په ټکر کې نه دي.

پښتانه ځانګړي کالي، ځانګړې رزمي نڅا (اتڼ) ځانګړی دود او دستور لري، چې هر ارزښت یې د ویاړ او افتخار یو ستر څپرکی دی.

موږ باید د پښتني کلتور د دغو ټولو ځانګړنو په هکله لیکنې وکړو او دا لیکنې بیا په نورو ژبو وژباړو، چې د نورو ژبو ویونکو ته پښتانه هغه د مغرضو خلکو خبره د غرو او جنګونو خلك نه، بلکې د مینې او محبت ولس په توګه وروپېژندل شي.

په پښتو کې باید د نورو هېوادونو په کلتور پورې اړوند کتابونه وژباړل شي، چې د هغوی له غوره تجربو څخه ګټه پورته شي او منفي اړخونو ته یې په پام سره پښتني کلتور ته بیا کتنه وشي او همدغه راز یې سمونه وشي.

## په ادبي ډګر کې د ژباړې اړتیا:

د پښتو هنري نثر د لا بډاینې لپاره ژباړه یوه ستره اړتیا ده، چې د نورو ژبو غوره ناولونه، شهکارې لنډې کیسې، یونلیکونه، ادبي ټوټې، شعرونه او نور توکي راوژباړل شي.

په یوه ژبه کې به هم پرته له عربي شعري فورمونو ډېر نور ځانګړي شعري جوړښتونه نه وي؛ لکه د پښتو ژبې: سروکې، لنډۍ، متلونه، نارې، کاکړۍ غاړې، بګټۍ او .... نور لري. که دا په نورو ژبو وژباړل شي، نو د پښتني ادب په پېژندنه کې به ستر کار شوی وي.

پښتو ته باید د نورو ژبو شعرونه، نثرونه او ... راوژباړل شي، چې د هغو له ژباړلو سره نوي سبکونه، موضوعګانې او ....وپېژنو او باید هغه شعرونه هم پښتو ته راوژباړل شي، چې د ملت جوړونه، هېوادپالنه، ملي یووالي او ورورګلولي موضوعګانې په کې وي، چې په موږ کې دغه حس نور هم پیاوړی کړي او هم به زموږ د شاعرۍ تنګه موضوع پرې ارته او پراخه شي او د اروپایي شعرونو غوندې به د موضوع غنا ورپه برخه شي.

## په اسلامي ډګر کې د ژباړې اړتيا:

پښتو او اسلام د زنځير دوې تړلې کړۍ دي، هغه قانونونه، چې اسلام يې لري، په پښتو کې هم شته او مني يې هم، د دې لپاره چې دغه مانيزې(معنوي) اړيکې نورې هم پياوړې شي او په خلکو کې اسلام لا غزونې وکړي، په کار ده، چې په جوماتونو کې ماشومانو ته تدريسېدونکي کتابونه په پښتو وژباړل شي، زموږ ملايان همدا اوس هم په کلو بانډو کې که قدوري، خلاصه او يا بل کوم ديني کتاب تشريح کوي، ژباړه يې په پاړسي کوي، آن په خپله ښوونکې، هم پرې نه پوهيږي، چې څه مانا لري يوازې يې په ميخانيکي ډول زده کړې وي.
که چېرې دغه اسلامي کتابونه پښتو ژباړه ولري، هم به ښوونکی پرې ښه پوه شي او هم به زده کوونکي او ډېر نور خلك ترې ګټه واخيستلای شي.
که چېرې نوي اسلامي کتابونه جوماتونو ته لار ومومي له دغه ډول تدريسي، اسلامي کتابونو سره ژباړه هم مله شي، د عام ولس سترګې به هم روښانه شي، ملايانو ته به هم پوهونه او راپوهونه اسانه شي، ځکه چې زموږ ټولنه يوه اسلامي ټولنه ده او پر اسلام خبرتيا او په دې برخه کې مطالعه بايد هر اړخيزه او په پښتو وي، چې اوس ځينو ښاغلو پښتنو دغه هڅه پيل کړې او د نورو پښتنو کار ته هم په دې برخه کې ډېره اړتيا شته، چې دا برخه ځواکمنه او بډايه کړي، هم به ثواب وي او هم خرما.

## په هنري ډګر کې د ژباړې اړتيا:

(( د پښتو ژبې يوه بله ډېره لويه غميزه د فلم او ډرامې نشتوالی دی، زه دا هم نشتوالی ګڼم، چې څه شته هغه زما په درد نه خوري، زما کلتور، زما

دود، روایت او عنعنې نه معرفي کوي، پښتو سینما نن ورځ په داسې یوه حالت کې ده، چې سرې یې په نوم شرمیږي او په دې کې هېڅ شک نشته، چې یو له هغو وسایلو څخه چې د یوې ژبې له انکشاف سره مرسته کوي، هغه فلمي صنعت دی، دا وسیله د ټولنې له روزنیزې برخې سره بې ارتباطه نه ده، خو روزنیزې اغیزې هغه وخت مطلوبې پایلې منځ ته راوړي، چې د فلم ژبه یې خلکو ته اشنا وي.))

که څه هم په کابل کې ځینې هندي فلمونه پښتو ته ژباړل شوي، خو د شومره والي له مخې لږ دي، بل دا چې ډېری یې (۲۵-۳۰) کاله پخوا ژباړل شوي او اوس ننداري ته وړاندې کیږي، له اوسني وخت، اوسمهالو غوښتنو او حالت سره سمون نه خوري، بلکې زړې کیسې کوي.

په اردو او پاړسي کې اوسني انګریزي یا د نورو ژبو فلمونه دوبله کیږي، سړی هېڅ ګومان نه کوي، چې دا دې په بله ژبه جوړ شوی فلم وي، دوی له څېرو او قوارو سره سم اوازونه ټاکي او د فلمي کرکټرونو د خولو له خوځولو سره سم متن لیکي، بیایې ژباړه لولي، همدغه راز نور اوازونه ورسره یوځای کوي، چې څوک داسې ګومان ونه کړي دا دبلې ژبې فلم دی.

په کار ده چې پښتو ته هم دا ډول فلمونه راوژباړل شي، که څه هم اوسمهال شمشاد او لمر ټلویزون ځینې فلمونه او سریالونه ژباړي یا دوبله کوي، خو د دوبلاژ او ژباړې له اصولوسره سم نه دي، خو که هروخت دا کار وشي نو ډېر تود هرکلی به یې د پښتنو له خوا وشي، لکه د (خدا ګواه) فلم پښتو دوبله، نه پوهیږم د چا له خوا شوې وه، خو د سندرو سره یې دومره ښایسته دوبله کړې وه، چې هېڅ ګومان نه کېده دا دې دبلې ژبې فلم وي، هرڅه یې په اساسي او اصولي ډول جوړ کړي وو له همدې کبله یې په بازار کې ډېر

تود هر کلی وشو. دا په دې خاطر چې هر څوک غواړي تر څو بهرني شهکار فلمونه او ډرامې په خپله ژبه ويني او خوند ترې واخلي.

په پښتو خپرونو لکه: (مجلو، اخبارونو، ورځپاڼو او نورو) کې هم د ژباړې اړتيا ډېره ليدل کيږي، ځکه چې دا خپرونې په ډېرو کمو پيسو اخيستل کيږي او د هېواد هرې برخې ته په اسانۍ سره رسيږي، هغوی به وکولای شي، چې په اسانۍ سره ترې ګټه واخلي، همدې ته ورته نورې څانګې هم شته، چې بايد په هغه برخه کې هم ژباړې ترسره شي او پښتو ژبه له هرې خوا بډايه کړي، چې زموږ پښتانه ورونه د مطالعې لپاره د بلې ژبې اثر لوستلو ته اړ نه شي، نو په دې خاطر هم ژباړه ډېره اړينه ده، چې زموږ لوستونکي به خپل پاتې شي او د ژبې د بډايتوب ترڅنګ به د نورو اثرونو د پنځولو لپاره ماخذونه ترلاسه شي.

په ټولـــه کـــولتوري مينه
رفيع الله ستانکزی
کابل نوی ښار
۱۳۸۶/۸/۲۷

# اخځليکونه

١- جهاني، عبدالباري: د پښتو په سُراو تال کې د غربي سندرو شرنگ، نارنج خپرندويه ټولنه، کندهار: ۱۳۸۶ لمريز.
٢- جهاني، عبدالباري: د مشکو کاروان، صحاف نشراتي مؤسسه، کوټه: ۱۳۸۶ لمريز.
٣- جهاني، عبدالباري: د خيام سُرونه د پښتو په تال کې، نارنج خپرندويه ټولنه، کندهار: ۱۳۸۶ لمريز.
۴- جانزاده، علي: فن ترجمه، انتشارات جانزاده، تهران: ۱۳۸۶ لمريز.
۵- سهار، نذير احمد: پښتو ډرامه، فلم او اوسنۍ دوبله، بهير ادبي ګورتپانه، ۱۳۸۶ لمريز.
۶- صفار زاده، طاهره: اصول و مباني ترجمه، ايران: اووم چاپ، ۱۳۷۶ لمريز.
٧- صالح، صالح محمد: پښتو او د ژباړې اړتيا، بېنوا فرهنگي ټولنه، کندهار: ۱۳۸۳ لمريز.
٨- صفوي، ډاکټرکورش: هفت گفتار در باره ترجمه، تهران: اووم چاپ، ۱۳۷۱ لمريز.
٩- معروف، ډاکټريحی: فن ترجمه، د ايران ملي کتابتون، تهران: ۱۳۸۴ لمريز.
١٠- نيازی، شهسوار سنگروال: د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ، پېښور: ۱۳۷۵ لمريز.
١١- هاله، پوهاند حبيب الرحمن: اساسات ترجمه، خاور خپرندويه ټولنه، پېښور: ۱۳۷۳ لمريز.
١٢- بېلابېلې ګورتپانې.



# د لیکوال لنډه پېژندنه

رفیع الله ستانکزی په کال ۱۹۸۲ زېږدیز د لوګر ولایت، محمدآغې ولسوالۍ، مغل خېلو کلي، د انجینر محمد جمیل ستانکزي په کور کې سترګې پرانیستې چې د غه مهال افغانستان د سره ښکار تر ژامه لاندې و او هېوادوال له خپل ګران افغانستان څخه کډه کولو ته اړ وو چې له هغو ډلو څخه د ستانکزي کورنۍ هم د مهاجرینو د اوږدې لړۍ یوه کړۍ شوه. ستانکزي خپل ښوونیز ژوند په کوزه پښتونخوا پېښور کې پیل کړ چې په ۲۰۰۲ زېږدیز کال کې د پېښور د محمدي عالي لیسې څخه فارغ او خپلې لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون او روزنې پوهنځي، ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې ته راورسولې او وروسته یې همدغه پوهنځی په ډېره ښه درجه بشپړ کړ چې اوس مهال په یوې نادولتي موسسه کې دنده تر سره کوي.

## د ستانکزي د ناچاپو اثرونو نوم لړ:

۱ ادبي ټوټې

۲ د عبدالحمید مومند ژوند لیک، شاعري، سبک او د سبک پلویان یې

۳ د عبدالحمید مومند په اشعارو کې د ماهیت په لحاظ تشبیه

۴ د ذهني پیاوړتیا لپاره لارښوونې

پرته له دې ستانکزي د بېلابېلو مجلو، ورځپاڼو او ویبپاڼو له لارې خپلې لیکنې په هېوادوالو لوستې، سربېره پر دې ستانکزی یو ځانګړی ویبلاګ هم لري چې په هغه کې خپلې لیکنې او خپرې شوې ادبي څېړونکو ته رسوي او ډېری یې کې ادبي موضوعات خپرېږي. د هغه ویبلاګ پته دا ده:

www.khust.web.net/stanikzai

په درناوي

عبدالله وردګ